# د مقدس کتاب اخلاقیات

GLOBAL UNIVERSITY

# د لوستونکو سره یو څو خبرې

اکثره وخت د یو مسیحي په توګه د ځینو شیانو په باره کښې فکر کوو چې مونږ یې سرته نشو رسولی. خو د یو صحیح ژوند مقصد هغه شی دی لکه څنګه چې عیسی مسیح په خپله ویلي دي: "سپیڅلي اوسئ، ځکه چې زه سپیڅلی یم" (اول پطروس ۱: ۱٦).

د یو مسیحي په توګه ژوند هغه وخت مثبت وي چې زمونږ اعمال د عیسی د ژوند او تعلیم څخه سرچینه اخیستې وي. د هغه مثبت حکمونه او وعدې د نا امیدۍ په ځای خوشحاله ژوند منځته راوړي.

عیسی زمونږ دپاره یو مثال دی. او مونږ په شخصي توګه دا مسئولیت لرو چې د هغه سره په همکارۍ او محبت سره یو مثبت او بامقصده ژوند ولرو.

دا کورس به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو یو سپیڅلی ژوند ولرئ لکه څنګه چې هغه سپیڅلی دی. دا به تاسو سره مرسته وکړي چې په دې پوه شئ چې د صحیح ژوند دپاره دغه اصول ستاسو د خپلې ښیګڼې په خاطر دي. خدای ستاسو سره لکه څنګه چې یاست، علاقه لري نه داچې د یو مسیحي په توګه چې د هغه کار په کولو باندې قادر نه یاست.

# د مقدس کتاب اخلاقیات

لیکونکی
جان او سارا مایلز

*Global University*
*P.O.Box 5749*
*Nicosia, Cyprus*

# د مقدس کتاب اخلاقیات

لومړی چاپ ۲۰۰۷

© 2007 All Rights Reserved

***Pashto "Bible Ethics"** 2007*

*Global University*
*P.O.Box 5749*
*Nicosia, Cyprus*

## ستاسو لارښود کتاب

ستاسو لارښود کتاب، یو کوچنی جیبي کتاب دی چې تاسو کولی شئ هغه د خپل ځان سره هر چېرې ولېږدوئ او په هرځای کښې چې وزګار وخت ولرئ هغه ولولئ. هڅه وکړئ چې هره ورځ د هغه د لوستلو دپاره یو څه وخت بېل کړئ.

د هر درس اولني دوه مخونه په غور سره ولولئ. دا کار به ستاسو ذهن د راتلونکي درس د موضوعاتو دپاره تیار کړي. د کتاب درسونه فصل په فصل ولولئ او د هغو لارښوونو څخه پیروي وکړئ چې د "هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ" تر عنوان لاندې راغلي دي. هغه په غور سره مراعت کړئ. که چیرې په لارښود کتاب کښې د ځواب د لیکلو دپاره کافي ځای نه وي، نو تاسو کولی شئ چې د یاداشت د کتابچې څخه کار واخلئ ترڅو وکولی شئ چې بیرته هغې ته مراجعه وکړئ.

که چیرې تاسو دا کورس د یو ګروپ سره لولئ نو د خپل ګروپ د مشر د لارښوونو څخه پیروي وکړئ.

## د وروستنۍ آزموینې د سوالونو لپاره ځوابونه

که چیرې ستاسو مطالعه د دې دپاره وي چې تصدیقنامه لاسته راوړئ، نو تاسو باید یوه بیله رساله ولرئ چې د زده کوونکي د راپور په نوم یادیږي. خپل د زده کوونکي راپور د هغه څه څخه ډک کړئ چې په څلورم او اتم درس کښې بیان شوي دي.

## د ليکوالانو په اړه څو خبرې

جان او سارامايلز چې سره ښځه او ميړه دي د هغوی د پوره تجربو او په خدمت کولو کښې د هغوی د کار کولو د روښانه سابقې په نظر کښې نيولو سره دغه کتاب يو د بل په همکارۍ سره ليکلی دی. جان مايلز په فرانسوي ژبه کښې د دوکتورا درلودونکی دی او همدا اوس د امريکا په ايلنيويز کښې د وينون په کالج کښې د فرانسې د برخې مسئول دی. د هغه ښځه سارامايلز په ديني علومو او بيولوژي کښې مافوق د ليسانس ده او د وينون په کالج کښې د بيولوژي د ښوونکې او مشاورې په توګه کار کوي. هغوی د ۱۹۶۵- ۱۹۶۸ کلونو ترمنځ د زيرې رسوونکو په توګه په افريقا کښې کار کړی دی.

اوس تاسو دې ته تيار يئ چې اولنی درس ولولئ. خدای دې تاسو ته د دې کتاب په لوستلو کښې برکت درکړي.

لومړی لوست

# لکه څنګه چې یاست خدای هماغه شان پیدا کړي یئ

باید په دې پوه شئ چې تاسو یو مهم شخص یاست. دا مطلب به تاسو سره مرسته وکړي چې یو ښه احساس ولرئ او همدارنګه به تاسو سره مرسته وکړي چې کار وکړئ.

مقدس کتاب مونږ ته د یو نفر په باره کښې چې جدعون نومیږي خبرې کوي چې خپله يې دا فکر کاوه چې کوم مهم شخصیت نه دی. هغه خپل ځان د هغو دښمنانو څخه پټاوه چې د هغه په خاوره ئې حمله کړې وه. کله چې جدعون د خپلو خلکو په خاطر خپله هیله له لاسه ورکړه، خدای د هغه د قوي کولو دپاره یوه فرښته واستوله. د فرښتې پیغام داسې ؤ، "ای غښتلیه او زړور انسانه! څښتن ستا سره مل دی." خدای ته

جدعون په هغه نظر نه کتل چې هغه کوم کارونه د هغه لپاره کړي دي چې دومره مهم کس شي، بلکه هغه دې ته کتل چې هغه د خدای په مرسته څه وکولی شول. خدای د جدعون سره مرسته وکړه چې د خپل قوم رهبري وکړي (قاضیان ٦- ٨ فصلونه ولولئ).

د جدعون په هکله فکر وکړئ او همت پیدا کړئ. کیدای شي چې تاسو دا احساس وکړئ چې مهم خلک نه یئ. خو د خدای په نزد تاسو مهم خلک یاست. هغه غواړي چې مونږ په دې باندې پوه شو او د هغه په اساس عمل وکړو. خلک ډیر ژر پوه شول چې خدای د جدعون سره مل دی. د هغه رویه مختلفه وه. دا هغه څه دي چې خدای یې هم ستاسو څخه غواړي چې مختلفه رویه ولرئ. ځکه چې هغه ستاسو سره مل دی او تاسو مهم خلک یاست.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- تاسو مهم شخص یاست، یعنې د خدای اولاد

خدای په تاسو کښې کار کړی دی

هغه هدف چې په تاسو کښې د زوی په توګه په نظر کښې نیول شوی دی.

- ❖ تاسو مهم شخص یاست، یعنې د مسیح د بدن غړي

خدای تاسو ته په یوې کورنۍ کښې ځای درکړی دی

هغه هدف چې هغه یې ستاسو دپاره په هغې کورنۍ کښې لري

- ❖ تاسو مهم شخص یاست، یعنې د خدای استازي

خدای تاسو ته په دنیا کښې ځای درکړی دی

په دنیا کښې ستاسو د موجودیت څخه هدف

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- په یوه یا دوه جملو کښې دا روښانه کړئ چې دخدای د اولاد په توګه تاسو څومره مهم یاست او دا موضوع ستاسو په ژوند باندې څه اغیزه لري.
- په ژوند کښې خپل مسئولیت دخدای د

اولاد په توګه د هغه د کلام په مطابق توصیف کړئ.

## تاسو مهم شخص یاست، یعنې د خدای اولاد

کله چې تاسو مسیحي شوئ، څه دربانديږ وشول؟ ډیر شیان! مقدس کلام د هغوی په باره کښې له مختلفو اړخونو څخه خبرې کوي. تاسو له خپلو ګناهونو څخه توبه وویستله او خدای تاسو وبخښلئ. تاسو خلاصون وموند، ځکه چې د عیسی مسیح څخه مو وغوښتل چې هغه ستاسو خلاصوونکی اوسي. همدارنګه عیسی مسیح مو د خپل ژوندون د څښتن په توګه قبول کړی دی. تاسو هغه د خدای د زوی په توګه قبول کړ او هغه ته مو په خپل زړه کښې ځای ورکړی دی ترڅو ستاسو په ژوند باندې واک ولري.

## خدای په تاسو کښې کار کړی دی

د یوحنا انجیل مونږ ته دا بیانوي چې د هغو خلکو سره چې عیسی مسیح یې د خپل څښتن او خلاصوونکي په توګه قبول کړی دی څه عجیبه پیښې رامنځته کیږي. دا آیت په غور سره ولولئ: "خو هغو خلکو چې هغه یې قبول کړی دی او په هغه باندې یې ایمان راوړی دی، هغوی ته یې دا حق ورکړی دی چې د هغه اولاد شي چې نه د عادي زیږیدنې په شان او نه د یو جسماني پلار د نفساني خواهشاتو په اثر، بلکه د خدای څخه

يې تولد موندلی دی" (یوحنا ۱: ۱۲- ۱۳).

ایا دا یوازې د هغو خلکو دپاره ؤ کومو چې د عیسی په زمانه کښې ژوند کاوه؟ نه، بیشکه نه. بلکه دا د هغو خلکو حق دی چا چې مسیح منلی دی او په هغه باندې يې ایمان راوړی دی. مونږ د روح القدس په وسیله بیا نوي شوي یو.

خدای تاسو ته د یوې خاصې طریقې په وسیله ژوند درکړی دی. دا کوم نوی جسماني ژوند نه دی- یعنې هیڅوک نشي کولی چې بیرته ماشوم شي. دا یو نوی روحاني ژوند دی چې خدای په خپله راپیدا کړی دی. هغه د ټولو نویو زیږول شویو پلار دی. مونږ د هغه اولادونه یو.

نو که چیرې تاسو یو مسیحي ایماندار یاست ، نو تاسو د خدای اولادونه یاست. ایا تاسو دا تصور کولی شئ چې تاسو څومره مهم یاست؟ تاسو په رښتیا سره مهم یاست! تاسو د مطلق قادر خدای اولادونه یاست، د کائناتو پیداکوونکی ستاسو پلار دی.

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

1. هغه کوم دوه شیان دي چې په یوحنا ۱: ۱۲ کښې زمونږ دپاره ویل شوي دي چې ویې کړو ترڅو د خدای اولادونه شو؟

أ) د نورو د ګناهونو هیرول او بخښل.

ب) د عیسی قبلول او په هغه باندې ایمان راوړل.

ج) ماشوم کیدل او بیا لوئیدل.

2. کله چې تاسو مسیحیان کیږئ، خدای په تاسو کښې کوم کار کوي؟

أ) هغه ستاسو څخه خپل اولادونه جوړوي او تاسو سره مرسته کوي چې ښه ژوند وکړئ.

ب) هغه تاسو سره مرسته کوي چې فکر وکړئ چې تاسو د نورو څخه ډیر مهم یاست.

خپل ځوابونه له هغو ځوابونو سره پرتله کړئ چې د هر لوست په پای کښې راغلي دي.

## هغه هدف چې په تاسو کښې د زوی په توګه په نظر کښې نیول شوی دی

کله چې تاسو لولئ چې خدای ستاسو آسماني پلار دی، نو کیدای شي چې تاسو د خپل پلار په فکر کښې شئ. ستاسو پلار ستاسو د کوچنیوالي په وخت کښې څنګه پلار و؟ په رښتیا سره چې هغه دخدای په شان کامل نه دی. په یو ښه پلار باندې خپل اولادونه ګران وي. د هغوی دپاره ډیر ښه شیان برابروي. هغه غواړي چې زامن یې کامل ژوند ولري او خوشحاله واوسي او ډیر ښه واوسي. خدای، یعنې زمونږ آسماني پلار زمونږ دپاره همدا مقصد لري. هغه د خپلو

اولادونو دپاره ښه شیان غواړي. هغه زمونږ دپاره د یو مسیحي په توګه نوی ژوند غواړي. خدای غواړي چې مونږ د خپل ژوند دپاره د هغه د مقصدونو په پوره کولو سره خوشحاله اوسو.

د افسیانو په دوهم فصل کښې مونږ زده کوو چې خدای زمونږ دپاره ځومره لوی لوی کارونه کړي دي. مونږ هم په روحاني لحاظ لکه د نورو په شان مړه شوي ؤو او د خپلو خواهشاتو پسې ګرځیدلو، خو خدای مونږ د عیسی مسیح په وسیله راژوندي کړو او هغه نوی ژوند چې د هغه نعمت ؤ په عیسی مسیح باندې په ایمان راوړلو سره راوبخښه. د دې آیت له مخې مونږ په دې پوهیږو چې دا څه معنی لري چې ګواکې مونږ د خدای زامن یو. ځکه چې مونږ دهغه د لاس صنعت یو او خدای مونږ په عیسی مسیح کښې بیا راپیداکړو ترڅو هغه نیک کارونه وکړو کوم چې له مخکښې څخه زمونږ دپاره تیار شوي دي چې سرته یې ورسوو (افسیان ۲: ۱۰).

د خدای هدف د خپلو زامنو دپاره دا دی چې د نیکو کارونو په کولو سره ژوند وکړو. نیک کارونه یعنې هغه کارونه چې صحیح او ښه دي. مونږ باید د خپل ټول وخت او استعداد څخه کار واخلو تر څو نیک اوسو. دا هغه څه دي چې زمونږ آسماني پلار ورباندې خوشحالیږي. زمونږ د آسماني پلار دپاره نیک کارونه کول هغه څه دي چې مونږ ته خوشحالي راکوي او زمونږ ژوند کاملوي!

دا یاد ساتئ چې نیک کارونه یو ځوک مسیحي کولی نشي. د افسیانو د کتاب په ۲: ۸- ۹ کښې لولو چې خلاصون په بیه نشو اخیستلی، بلکه خلاصون د خدای یو سوغات دی. خو

کله چې يو څوک د خدای اولاد شي، هغه به دخپلو عقايدو په اساس ژوند کوي. د خدای زوی د هغو خلکو سره فرق لري کوم چې په خدای باندې ايمان نلري او د هغه کړه وړه فرق لري. هغه خپل ايمان په خپل نوی ژوند کښې د نويو عملونو په سرته رسولو سره څرګندوي. او دا يو پيغام دی چې مونږ يې د يعقوب په رساله کښې په ۱: ۲۲- ۲۶ کښې ليدلی شو، هغه خپل ايمان د خپل عمل په وسيله ښکاره کوي.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

ځوابونه پوره کړئ:

3. د خدای مقصد ستاسو دپاره د يو ايماندار په توګه دا دی چې:
   أ) خلاصون ومومئ.
   ب) په ټولو کارونو کښې ښه او درست عمل وکړئ.
4. يعقوب ۱: ۲۲- ۲٦ مونږ ته وايي، بايد يوازې د هغه کلام ته غوږ ونه نيسو بلکه:
   أ) هغه بايد اکثره وخت ولولو.
   ب) د خپل ځان څخه پوښتنه وکړو چې د هغې معنی څه ده.
   ج) هغه سرته ورسوو.

خپل ځوابونه کنترول کړئ.

مونږ د يو مسيحي دپاره د هغه د نيکو کارونو په اړوند د خدای د هدف په باره کښې خبرې وکړې. ستاسو دپاره دا مهمه

ده چې په دې پوه شئ چې ستاسو کارونه ستاسو د خصوصياتو ښکاره کوونکي دي. تاسو د خدای اولادونه یاست. خو د خدای اولاد څه خصوصيات لري؟ هغه باید څرنګه اوسي؟ په افسیان ۱: ٤ کښې لولو: ”حتی مخکښې له دې چې دنیا جوړه شي، خدای مونږ له پخوا څخه غوره کړي یو ترڅو د مسیح سره په یووالي کښې واوسو، چې د هغه په حضور کښې بې عیبه او سپیڅلي شو.“

خدای د خپلو اولادونو څخه غواړي چې سپیڅلي او بې عیبه وي. تاسو پوهیږئ چې ایمانداران نوی مخلوق دی، هغوی نوي پیداشوي دي. د خدای د کلام او تجربې له لارې کولی شئ دا درک کړئ چې یو ایماندار سمدستي کامل کیدای نشي. حتی د مسیح شاګردان هم بې عیبه نه ؤو. خو خدای غواړي چې ټول اولادونه یې پاک او بې عیبه شي، او دا کار وخت ته ضرورت لري لکه د یو هلک د لوئیدو په شان.

په حقیقت کښې به زمونږ وده تر هغه وخته پورې کامله نشي ترڅو چې آسمان ته ونه رسیږو. مونږ کولی شو ووایو چې د خدای اولاد یو نوی مخلوق دی، خو په یوه شیبه کښې کامل کیدای نشي بلکه باید د لوی والي په لور روان شي.

کیدای شي چې یو ترکاڼ په دې هیله وي چې د هغه زوی دې یو تکړه ترکاڼ شي. او ممکن یو سندرغاړی وغواړي چې لور یې ښه موسیقي غږوونکې شي. مګر آیا په یوې ټاکلې کورنۍ کښې یو ماشوم ته د هغه د پلار مهارت ورکول کیږي؟

نه، د هر مهارت د پرمختیا دپاره وخت، زده کړه او عملي کار ته ضرورت وي. ماشوم باید د خپل پلار څخه زده کړي. همدارنګه هغه باید هڅه وکړي هغه کار وکړي چې پلار یې ورته د هغه زده کول غواړي.

هر ایماندار دخدای د رضا له مخې نوې زیږیدنه مومي. د هغه زړه بدلیږي. دا د ایماندار دپاره د خدای هدف دی. نو خدای د هغه څخه غواړي چې د نیکو عملونو سره ژوند وکړي. یوازینۍ لاره چې د هغې په وسیله ایماندار کولی شي دا کار وکړي هغه دا ده چې هغه خدای ته اجازه ورکړي چې د هغه د فکر طرز بدل کړي. کردار او رفتار یوه داسې لاره ده چې د هغې په وسیله مونږ کولی شو چې خلکو په باره کښې یو احساس ولرو. زمونږ رویه زمونږ د شخصیت ښکاره کوونکې ده، لکه څنګه چې زمونږ شکل زمونږ د باطن ښکاره کوونکی وي. دغه تصویر مونږ ته دا ښکاره کوي چې خدای مونږ څرنګه بدلوي.

اول دا چې خدای مونږ ساتي او زمونږ باطن بدلوي. بیا زمونږ نوی ژوند په مونږ کښې نوې رویه راپیداکوي کوم چې هغه غواړي چې مونږ پاک او بې عیبه کړي. دغه نوې رویې مونږ د نویو عملونو په لور رهبري کوي. ایا تاسو پوهیږئ چې نوی ژوند ، نوي احساسات او ښه کارونه دا ټول د خدای د هغه هدف یوه برخه ده چې هغه یې زمونږ دپاره لري؟ دا د مقدس کتاب د اخلاقیاتو یو تعریف دی. خپل نوی ژوند د خپل عمل پوسیله ښکند کړئ هغه نوی ژوند چې خپل ځان ستاسو په رویه او عملونو کښې ښکندوي.

نوی ژوند ، نوې رویه، نوی عمل. ایا تاسو پوهیږئ چې په درې واړو حالاتو کښې باید ایماندار دې ته لیوال وي چې د خدای څخه مرسته ترلاسه کړي؟

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

5. د خپلو هغو اعمالو او احساساتو لست ولیکئ چې خدای بدل کړي دي. ایا هغه څه چې خدای ستاسو په ژوند کښې سرته رسولي دي ورڅخه خوشاله یئ؟
6. دا لاندې دوه قطاره سره تطبیق کړئ. د ښي خوا ستون ستاسو دپاره د خدای مقصد او د کین خوا ستون ستاسو د ژوند درې اړخونه دي.

| | |
|---|---|
| ۱) خلاصون موندل | الف) اعمال |
| ۲) پاکوالی او بې عیب والی | ب) نوی ژوند |
| ۳) ښیګڼه | ج) رویه |

## تاسو مهم شخص یاست. یعنې د مسیح د بدن غړی

ښایي تاسو اوریدلي وي چې ځینې داسې وایي، که چیرې په دنیا کښې یوازې تاسو ګناهکار وئ، نو عیسی به ستاسو په خاطر مړ شوی وای! لیکن یوازې تاسو نه وئ، ایا داسې نه ده؟ دا د خدای دخلاصون د پلان یوه برخه وه چې ډیر خلک به وژغورل شي. البته تاسو هم په کښې شامل یاست. د عیسی کړاونه په دې خاطر وو چې د ډیرو زامنو سره خپل جلال شریک کړي (عبرانیان ۲: ۱۰). دا دخدای نیت و چې د هغه زوی عیسی

به په ټولو ورونو کښې اولنیورور وي (رومیان ۸: ۲۹).

ایا تاسو فکر کوئ چې په زامنو او ورونو کښې ښځې نه دي شاملې؟ که چیرې تاسو هم ښځې یاست نو تاسو برابر حق لرئ چې د خدای بچیان وبلل شئ. دا خبره یاده ساتئ چې هغه کسان چې هغه یې قبول کړی دی، هغوی دا امتیاز لري چې د خدای زامن اوسي.

## خدای تاسو ته په یوې کورنۍ کښې ځای درکړی دی

خدای ډیر زامن او لورګانې لري. مسحیان دخدای کورنۍ جوړوي. زمونږ پلار غواړي چې د هغه کورنۍ دې یو موټې وي. مقدس کتاب د خدای کورنۍ د مسیح بدن بولې. بدن هغه ترکیب دی چې د مختلفو برخو څخه جوړ شوی دی او ټول یو مقصد لري. خو مونږ په دې پوهیږو چې دغه برخې یو د بله څخه څومره فرق لري او یو او بل ته څومره احتیاج لري. د مسیح بدن همداسې دی. دغه بدن د هغو مسیحیانو څخه جوړیږي چې د مختلفو هیوادونو، نژادونو او مختلفو عمرونو خاوندان دي.. هغوی سره یو دي او هغوی ټول د یو او بل سره یوه کورنۍ جوړوي. دې آیت ته پام وکړئ: "نو تاسو غیریهودیان نور بیګانه او پردي نه یاست، بلکه تاسو اوس د خدای د قوم وطنداران او د خدای د کورنۍ غړي یاست" (افسیان ۲: ۱۹).

یووالی یو عجیبه شی دی! دا ښه ده چې پوه شو چې د

ایماندارانو سره مو یو بدن جوړ کړی دی. مګر خدای مسیحیان یو بدن کړي نه دي چې هغوی دې یوازې یوه ډله وي. د فټبال رهبر خپل لوبغاړي د دې دپاره نه راغونډوي چې هغوی دې فقط یوه ډله ولري. هغه هغوی په یوې ډلې کښې سره تنظیموي، ترڅو د مسابقې دپاره تیار شي. خدای د مسیح د بدن دپاره یو مقصد لري او تاسو په هغه کښې برخه اخلئ چې پکښې لوبه وکړئ.

## هغه هدف چې هغه یې ستاسو دپاره په هغې کورنۍ کښې لري

خدای ولې خلکو ته په یوه کورنۍ کښې ځای ورکړی دی؟ په خپل ښارګوټي کښې د یو یتیم یا د یوې کونډې په باره کښې فکر وکړئ. دا ډیره ساده ده چې په دې پوه شو چې خلک یو بل ته احتیاج لري. کورنۍ یوه داسې لاره ده چې خدای د دې دپاره جوړه کړې ده چې د هغې په وسیله ټول احتیاجات که هغه جسماني وي یا رواني، هغه پوره کړي. یوه کورنۍ کولی شي چې دا اړتیاوې د خپلو غړو د مرستې په وسیله پوره کړي. هغوی یو د بله سره کولی شي چې د مینې او احترام ضرورت پوره کړي. خدای خپل اولادونه په خپله کورنۍ کښې په همدې دلیل سره یوځای کړي دي، ځکه چې مونږ یو او بل ته اړتیا لرو.

ښایي چې تاسو د دې ضرورت احساس نکړئ چې نور مسیحي ورونه دې ستاسو سره ستاسو د جسماني او روحي ضرورتونو په پوره کولو کښې مرسته وکړي. کیدای شي چې

تاسو په یوه داسې کورنۍ کښې لوی شوي اوسئ چې ستاسو اړتیاوې په کښې پوره شوي وي، خو کیدای شي چې په مسیح کښې ستاسو ورونه ستاسو مرستې ته اړتیا ولري، بیشکه چې تاسو د خپلې کورنۍ د نورو غړو په خدمت کښې مهم رول لرئ.

هغه څه چې روښانه دی هغه دا دی چې مونږ ټول دې ته ضرورت لرو چې د خدای د کورنۍ په روحاني ژوند کښې برخه واخلو. د عبرانیانو د رسالې لیکونکی جسماني، روحاني او رواني اړتیاوې په پام کښې نیسي. دې آیت ته پام وکړئ: "راځئ چې د یو او بل په باره کښې اندیښنه وکړو، یو د بله سره مرسته وکړو ترڅو خپله مینه او ښیګڼه ښکاره کړو. د کلساګانو په مجلسونو کښې د خپلو ورونو سره په راغونډیدلو کښې بې پروایي مه کوئ، لکه څنګه چې ځینې داسې عادت لري، بلکه یو او بل باید سره تشویق کړو، په خاص ډول په دې ورځو کښې چې دخدای ورځ رانژدې کیدونکې ده" (عبرانیان ۱۰: ۲۴- ۲۵).

د خپلو مسیحي ورونو سره په راغونډیدلو سره تاسو کولی شئ چې خپلې اړتیاوې پوره کړئ. کلیسا یو داسې ځای دی چې په هغه کښې اخلاق مطرح کیږي. تاسو کولی شئ چې دا نوی ژوندون د خدای د کورنۍ سره په مرستې کولو باندې په عمل کښې سرته ورسوئ. پولوس خپله رویه او کارونه داسې روښانه کوي: "تاسو خامخا په دې باندې خبر یاست چې خدای په ما باندې خپل فضل کړی دی او زما څخه یې غوښتي دي چې د هغه څخه ستاسو دپاره کار واخلم" (افسیان ۳: ۲).

خدای زمونږ څخه غواړي چې د نورو سره په نیکي کولو کښې د مسیح په بدن کښې ژوند وکړو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

7. صحیح عبارتونه په ګوته کړئ:

أ) خدای د خپلو زامنو څخه غواړي چې د یو او بل خدمت وکړي.

ب) ټول د خدای اولادونه دي.

ج) مونږ باید نورو مسیحیانو ته په سپکه سترګه ونه ګورو ځکه چې خدای هغوی زمونږ ورونه ګرځولي دي.

د) د مسیح په بدن کښې د خلکو احتیاجونه پوره کیږي.

8. اوس د خپلو مسیحي ورونو په باره کښې لږ فکر وکړئ. ایا تاسو د هغوی د اړتیاوو څخه خبر یاست؟ ایا خپل ځان د هغوی د اړتیاوو په پوره کولو کښې شریک ګڼئ؟

## تاسو مهم شخص یاست، یعنې د خدای استازي

که چیرې یوه کورنۍ پراختیا ونه مومي نو څه به وشي؟ یوه کورنۍ باید د شمیر له پلوه زیاته شي، ایا داسې نه ده؟ کله چې خدای آدم او حوا پیداکړل نو هغوی ته یې وویل، "چې زیات شئ" (پیدایښت ۱: ۲۸). خدای د آدم او حوا څخه وغوښتل چې هغوی دې اولادونه ولري. خدای له خپلې کورنۍ څخه همدغه

ډول غوښتنه لري. هغه غواړي چې زیات خلک دې د هغه په کورنۍ کښې نوی ژوندون ومومي. ایا تاسو ته په دې هکله د عیسی خبرې درپه یادې دي؟ "لاړ شئ او ټول قومونه زما شاګردان کړئ" (متي ۲۸: ۱۹).

د عیسی بدن چې د ایماندارانو څخه جوړ شوی دی باید پراختیا ومومي او په دې کار کښې ټول غړي برخه لري. تاسو ته حکم در کړل شوی دی چې په خپل ټول توان سره ډیر ایمانداران د خدای کورنۍ ته راولئ.

## خدای تاسو ته په دنیا کښې ځای درکړی دی

دا درس د دې سوال سره شروع کیږي چې کله چې تاسو مسیحیان شوئ، نو په تاسو باندې څه وشول؟ ولې په دې اړه فقط یو شی پیښ نه شو، تاسو چه کله مسیحیان شوئ نو سمدلاسه مو دا دنیا پرینښودله او آسمان ته لاړ نشوئ. پولوس رسول وایي، "دا بهتره ده چې د مسیح سره په آسمان کښې اوسیږم نه داچې د ځمکې په مخ" (فلیپیان ۱: ۲۳).

خدای کولی شول چې په هماغه وخت کښې تاسو د خپل ځان سره آسمان ته یوسي، خو دا کار یې ونکړ. کله چې تاسو دخدای اولاد شوئ، نو کیدای شي یو بل شی هم په تاسو باندې پیښ شوی نه وي. ستاسو مالي او د کار ستونزې سمدلاسه ورکې نشوې. ستاسو ګاونډیان او همکاران په ناڅاپې توګه ستاسو دوستان او مرسته کوونکي شوي نه دي، ولې؟ تاسو په دې دنیا کښې پاتې شوئ او دلته ټول کارونه همیشه آسانه نه دي. مشکلات د خوشحالۍ سره ګډ شوي دي. ښایي چې اوس

دخپل تیر او غیر مسیحي ژوند په پرتله تاسو ته د یو سخت تصمیم نیول په کار وي. کیدای شي چې ستاسو مشکلات د مسیحي کیدلو سره سخت شوي وي.

اول دا چې ممکن ستاسو کورنۍ او ستاسو دوستان تاسو درک نکړي او دوهم دا چې شیطان (یعني هغه بده فرښته چې د خدای د ټول نیکو کارونو په ضد عمل کوي) اوس ستاسو په ضد وي. خو تاسو د عیسی هغې دعا ته پام وکړئ چې خپلو شاګردانو ته یې کړې وه. "زه ستا څخه دا نه غواړم چې هغوی له دې دنیا څخه یوسه، بلکه ستا څخه غواړم چې هغوی د شیطان څخه وساته. لکه څنګه چې زه د دې دنیا نه یم، هغوی هم د دې دنیا پورې تعلق نه لري.. ما هغوی دنیا ته لیږلي دي، لکه څنګه چې تا زه دې دنیا ته رالیږلی یم" (یوحنا ۱۷: ۱۵، ۱٦ او ۱۸).

که چیرې خدای غواړي چې د هغه اولادونه دې په جهان کښې و اوسي، نو تاسو ډاډه اوسئ چې د هغې دپاره یو ښه دلیل لري.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

خالي ځای د صحیح ځواب په وسیله ډک کړئ:

9. مونږ د یو ایماندار په توګه دا مسئولیت لروچې د ........... (آدم او حوا / د خدای کورنۍ) په باره کښې په هر ځای کښې د هر چا سره ........... (خبرې وکړو / جرو بحث وکړو).

## په دنیا کښې ستاسو د موجودیت څخه هدف

ځینې مسحیان دا خوښوي چې خپل ځانونه د نورو خلکو څخه جلا کړي. هغوی خپل کور، کورنۍ او خپله خاوره پریږدي ترڅو له دنیا څخه لیرې واوسیږي. خو د خدای نیت داسې نه دی. د خدای نقشه ستاسو او د خپلو ټولو اولادونو دپاره دا ده چې په دنیا کښې د هغه کارونه سرته ورسوئ. عیسی خپلو شاګردانو ته وویل، "لکه څنګه چې پلار زه رالېږلی یم، زه هم تاسو لېږم" (یوحنا ۲۰: ۲۱). تاسو دنیا ته استول شوي یاست لکه څنګه چې د مسیح شاګردان پطروس، یعقوب او یوحنا استول شوي وو.

تاسو د هغو خلکو دپاره د خدای استازي یاست کوم چې ستاسو په شاوخوا کښې دي.اوس هغې خبرې ته پام وکړئ کوم چې پولوس د خدای د استازو په توګه د مسیحیانو د ژوند په باره کښې ویلي دي: "ټول کارونه پرته له شکایت او کوم دلیل څخه سرته ورسوئ ترڅو د خدای د کاملو زامنو په شان چې په دې فاسده او ګناهکاره دنیا کښې ژوند کوي، بې ګناه او پاک اوسئ او تاسو باید د هغوی په منځ کښې لکه د آسمان د ستورو په شان وځلیږئ او د ژوندون پیغام خلکو ته ورسوئ" (فلیپیان۲: ۱۴- ۱۶).

تاسو پوهیږئ چې ستاسو په کار کښې درې شیان شامل دي: موجودیت، احساس او کار.

تاسو باید لکه د خدای د زوی په شان و اوسئ یعنې بې ګناه

او پاک. تاسو باید د خدای د اولاد په شان احساس ولرئ. خوشحاله او تابعداره اوسئ، نه دا چې ناراضه اوسئ. تاسو باید لکه د هغه د اولاد په شان عمل وکړئ او د نورو دپاره کارونه وکړئ او د مسیح په باره کښې هغوی ته هرڅه ووایئ. یو نفر چې په پردي هیواد کښې د خپل هیواد استازی وي، هغه د سفیر په نوم یادیږي. هغه یو ډیر مهم شخص وي، خلک هغه پیژني چې هغه څوک دی او له کوم ځای څخه راغلی دی. کله چې د هغه هیواد د ګټو موضوع رامنځته کیږي نو هغه سفیر په ډیر صلاحیت سره خبرې کوي.

تاسو سفیران یاست، یعنې په دې دنیا کښې د خدای د پادشاهۍ نماینده ګان. پولوس دغه مطلب په دوهم کورنتیانو کښې داسې بیانوي: "نو مونږ د مسیح له خوا سفیران یو او خدای زمونږ په وسیله تاسو ته بلنه درکوي. نو مونږ د مسیح د استازو په توګه ستاسو څخه غواړو چې دخدای سره سوله وکړئ" (دوهم کورنتیان ۵: ۲۰).

په دنیا کښې ستاسو د موجودیت څخه د خدای هدف دا دی چې د مسیح په باره کښې خبرې وکړئ. تاسو د هغه او د هغه د پادشاهۍ استازي یاست. خدای تاسو استوي چې خلکو ته ووایئ او دا ورته څرګنده کړئ چې خدای تاسو سره مینه کوي او غواړي چې تاسو ته نوی ژوندون درکړي. ایا له دې څخه بل لوی امتیاز شته؟ له دې څخه کوم بل لوی مسئولیت شته؟ له دې څخه کوم بل مهم فعالیت شته چې تاسو خپل خلاصون په عمل کښې د نوې رویې په وسیله وښایئ؟

ستاسو دپاره دخدای هدف یو اوچت هدف دی. هیڅ یو

انسان نشي کولی چې په خپل قدرت هغه پوره کړي. خو تاسو د روح القدس په وسیله نوې زیږیدنه وموندله او هغه په تاسو کښې اوسیږي ترڅو تاسو سره مرسته وکړي چې د خدای غوښتنه پوره کړئ یعنې هغه څه چې تاسو په خپله د هغه د سرته رسولو توان نلرئ. د خدای روح تاسو سره مرسته کوي ترڅو خپل نوی طبعیت د نوې رویې او هغو اعمالو په وسیله څرګند کړئ کوم چې د خدای اولاد د هغې جوګه دی. خو تاسو باید هغه ته اجازه ورکړئ چې ستاسو سره مرسته وکړي، یعنې څه چې هغه درته وایي هغه وکړئ. تاسو د هغو شیانو مسئولیت لرئ چې خدای تاسو ته سپارلي دي. د تیموتیوس دپاره د پولوس تشویق ستاسو دپاره یوه ښه یادونه ده. "زیات کار وکړه لکه د یو کارګر په شان چې هغه زیات کار کوي ترڅو خجالت نشي او د حقیقت پیغام په صحیح توګه زده کوي چې د خدای په نظر کښې ښه ښکاره شئ" (دوهم تیموتیوس ۲: ۱۵).

خدای غواړي تاسو سره مرسته وکړي چې یو داسې اولاد درځخه جوړ شي چې هغه زیاته هڅه کوي چې وده وکړي او د خدای په شان احساس او عمل ولري. هغه غواړي تاسو دا زده کړئ چې هغه کوم ژوند دی چې د خدای د کلام په بنسټ باندې ولاړ دی او مسیحي اخلاق څه معنی لري؟

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

10. فلیپیان ۲: ۱۴- ۱٦ ولیکئ، د هغو الفاظو لاندې کرښه وباسئ کوم چې تاسو سره مرسته کوي چې ډیر

ښه ژوند ولرئ. دا درس په غور سره ولولئ ترڅو په ځوابونو باندې يې پوه شئ.

11. د مسيح د سفير په توګه تاسو د چا استازي یاست؟

12. صحيح عبارت په ګوته کړئ:

أ) د يو ايماندار په توګه تاسو بايد د هغو خلکو څخه شکايت وکړئ کوم چې صحيح ژوند نلري.

ب) په دې دنيا کښې ستاسو دپاره د خدای هدف دا دی چې د هغه رڼا اوسئ او د هغه په باره کښې خبرې وکړئ.

ج) تاسو د خدای د اولاد په توګه د خپل نوي ژوندون مسئوليت په غاړه لرئ.

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

د سوالونو ځوابونه په ترتيب سره نه دې ورکړل شوي. بلکه په داسې شکل سره راوړل شوي دي چې تاسو به په دې ونه توانيږئ چې مخکښې له مخکښې څخه د راتلونکي سوال ځواب وګورئ. کوښښ وکړئ چې د نورو سوالونو ځوابونو ته ونه ګورئ.

٧- الف) صحيح
ب) غلط
ج) صحيح
د) صحيح

٦- الف) ٣- ښيګڼه
ب) ١- خلاصون

ج)            ۲- پاک او بې عیب والی
۱- ب) د عیسی قبلول
۸- ستاسو خپل ځواب
۹- دخدای کورنۍ، خبرې وکړو
۲- الف
۳- ب
۱۰- ستاسو خپل ځواب
٤- ج
۱۱- مسیح د ځمکې په مخ باندې
۱۲- الف) غلط
ب) صحیح
ج: صحیح
۵- ستاسو خپل ځواب

دوهم لوست

# خدای زمونږ د ژوند دپاره یوه نمونه ده

په ډیرو هیوادونو کښې یو متل دی چې وایي، "د داسې پلار څخه همداسې زوی!" په یوه کورنۍ کښې په زړه پورې موضوع هغه ورته والی دی چې د هغې کورنۍ د غړو ترمنځ موجود وي. د مثال په ډول، مونږ دوه اولادونه لرو چې یو یې زوی دی او بل یې لور. هغوی دواړه د خپل پلار په شان نصواري رنګه غټې سترګې لري. هلک دخپل پلار په شان ول ول ویښتان لري او انجلۍ د خپلې مور په شان صفا ویښتان لري. خلک وایي چې هغوی دواړه یو شان دي او د خپل پلار په شان دي. البته دغه کورنی ورته والی کیدای شي زمونږ په عملونو او کړو ورو کښې هم ولیدل شي.

مونږ نن سهار د خپل زوی څخه په دې خاطر خفه شولو، ځکه چې د دې په ځای چې هغه خپل کالي واغوندي، هغه د کتاب په لوستلو باندې بوخت و. نو ماته د خپل وړوکتوب

وخت را په یاد شو چې مور اوپلار راباندې څو څو ځله په دې کار باندې په قهر شوي وو. زه او زوی مې دواړه کتاب خوښوو او دواړه د لوستلو دپاره یو مناسب وخت په پام کښې نه نیسو.

په همدې ډول د خدای په کورنۍ یو روحاني ورته والی شته. عیسی هغو فریسیانو ته چې ده فکر یې کاوه چې هغوی به ښه خلک وي، خو هغوی ښه خلک نه وو، وویل: "تاسو د خپل پلار یعنې ابلیس اولادونه یاست او د خپل پلار خواهشات پوره کوئ" (یوحنا ۸: ٤٤).

که چیرې مسیحیان په رښتیا دخدای اولادونه وي، نو هغوی باید خپل کورني ورته والی په خپلو طبعیتونو، کړو وړو او عملونو کښې ښکاره کړي. لکه څنګه چې یو هلک د خپل دنیاوي پلار عملونو ته ګوري او کټ مټ هماغه کارونه تکراروي. مونږ باید د هغه څه څخه خبر اوسو کوم چې زمونږ آسماني پلار یې کوي ترڅو مونږ وکولی شو د هغه په شان شو.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- خدای شخصیت لري
  - د شخصیت معنی
  - د خدای د شخصیت څرګندونه
- خدای محبت دی

❖ خدای عادل دی

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- د خدای شخصیت بیان کړئ
- د خدای د شخصیت په اهمیت باندې پوه شئ او په دې باندې پوه شئ چې هغه څنګه ستاسو په ژوند پورې اړه پیدا کوي.

## خدای شخصیت لري

کله چې تاسو د یو چا سره ملاقات کوئ نوتاسو څنګه پوهیږئ چې هغه د څرنګه شخصیت خاوند دی؟ ایا په دې خاطر چې هغه د انسان په شان ښکاري؟ ایا په دې خاطر چې هغه د انسان په شان خبرې کوي؟ ایا هغه د رفتار څخه پیژنئ؟ د یو چا د شخصیت پیژندل د هغه د څیرې، آواز یا حرکت پورې اړه نلري. بلکه د هغه د پوهې، آګاهۍ او احساساتو څخه د هغه شخصیت معلومیږي. څرنګه چې هر سړی خپل عقاید او مقاصدلري نو په کارونو باندې لاس پورې کوي. د دې شیانو سره سره، ټول خلک یو شان نه دي.

هر نفر خپل ځانګړی شخصیت لري، هغه مختلف غبرګونونه چې هغه یې له خپله ځانه ښکاره کوي د هغه د شخصیت ښکارندوی دي.

### د شخصیت معنی

خدای یو شخص دی. هغه د انسان په شان څیره نه لري،

ځکه چې هغه انسان نه دی. که څه هم د هغه په قدرت سره جهان جوړ شوی دی خو هغه صرف یو قدرت نه دی. په حقیقت کښې دا دهغه قدرت دی چې کائنات یې پیداکړي دي. هغه فکر او اراده لري، احساس او پوهه لري. د دې ټولو شیانو سره سره هغه د انسان څخه چې هغه یې په خپل شکل پیداکړی دی ډیر اوچت دی. دا خبره چې خدای شخصیت لري او یا دا چې هغه یو شخص دی، یو سپکاوی ښکاري. خو دا یوه ډیره ښه خبره ده چې مونږ یې کوو. دغه ټول معیارونه چې هغه ته شخصیت ورکوي د هغه خصوصیات دي.

څښتن تعلی عجیبه ذات دی، د هغه شخصیت زمونږ د پوهې څخه ډیراوچت دی، خو هغه خپله غواړي چې مونږ ته یې ښکاره کړي، ترڅو مونږ د هغه په شان شو او د هغه پیروي وکړو. هغه دنیا چې هغه پیداکړې ده، د هغه بې حده قدرت او پوهه څرګندوي. پولوس وایي، "د دنیا د پیدایښت څخه د هغه نه لیدل کیدونکي صفتونه او د آسماني طبعیت په هغو شیانو کښې چې هغه پیداکړي دي په څرګنده توګه معلومیږي" (رومیان ۱ : ۲۰).

خو انسانانو د خدای حقیقت په دروغو بدل کړی دی او د پیدا کوونکي په ځای یې د هغوشیانو عبادت کاوه کوم چې هغه پیداکړي دي (رومیان ۱ : ۲۱- ۲۵).

ډیر مذهبونه وایي یو خالق شته چې دخدای په نوم یادیږي، اما هغوی د خدای د حقیقي شخصیت څخه آګاهي نلري. خدای باید په خپله دا خبره یه یوې خاصې طریقې سره څرګنده کړې

واى.

اول دا چې خداى خپل ځان په تاريخ کښې هغو خلکو ته ښکاره کړى دى کوم چې هغه غوره کړي وو. داسې خلک لکه ابراهيم، موسى، سموئيل، اشعياه. هغوى د خداى د شخصيت په اړه حقيقي درک درلود. داسرائيلو قوم د دې دپاره انتخاب شو تر څو د خداى شخصيت او د هغه لارې نورو قومونو ته وښودل شي.

زړه لوظنامه د اسرائيلو پوسيله ټولې دنيا ته د هغه د وجود او ذات د ښکاره کولو بيانوونکې ده. خو د دې ټولو بيلګو سره سره اوس هم ډير انسانان د هغه په نسبت د نادانۍ په حال کښې پاتې دي. خو خداى خپل شخصيت د خپل زوى عيسى مسيح د راليږلو يه وسيله په ډيره ښه توګه د انسانانو په منځ کښې څرګند کړ.

"په پخوا زمانو کښې خداى اکثره وختونه په مختلفو طريقو سره د خپلو پيغمبرانو په وسيله خبرې کړې دي. خو په دې آخرو وختونو کښې يې د خپل زوى په وسيله زمونږ سره خبرې کوي. هغه د خداى جلال او د هغه سره ورته والى څرګندوي " (عبرانيان ۱: ۱- ۳).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

1. د لاندې خصوصیاتو څخه کوم یو د خدای شخصیت څرګندوي؟

أ) خدای یوازې په طبعیت کښې یو قدرت دی.

ب) څښتن پوه او حکیم دی

ج) څښتن ظالم دی

د) څښتن د ټولو قدرتونو سرچینه ده.

2. د درې دلیلونو په یادولو سره دا وښایئ چې خدای شخصیت لري.

خپل ځوابونه د اخرنۍ برخې د ځوابنامې سره کنترول کړئ.

## د خدای د شخصیت څرګندونه

په عیسی مسیح کښې د خدای د شخصیت د ښکاره کیدلو موضوع په نوې لوظنامه کښې ذکر شویده او د خدای د هغې مکاشفې سره چې په زړه لوظنامه کښې ورڅخه یادونه شویده، هیڅ اختلاف نه لري. عیسی مونږ ته د هغه ذات، احساسات او عملونه څرګند کړل ځکه چې په انسان کیدلو سره یې په ډیر ښه شکل سره ښکاره کړ. د یوحنا انجیل عیسی د "کلیمې" په نوم یاد کړ. "نو کلیمه انسان شو او زمونږ په منځ کښې اوسیده. مونږ د هغې جلال او شوکت ولید، یعنې هغه جلال او شوکت چې د پلار د یوازیني زوی په توګه ترلاسه کړ" (یوحنا ۱: ۱٤).

په دې خاطر چې عيسی د خدای زوی دی، نو هغه دا توان درلود چې انسانانو ته د خدای په باره کښې خبرې وکړي. ځکه چې هغه د خدای په ماهيت کښې شريک دی. هغه د دې توان درلود چې د خدای خصوصيات د خپلو کړو وړو او عملونو په وسيله څرګند کړي. "خدای هيڅکله چا ندی ليدلی، مګر يوازيني زوی چې هغه پخپله د خدای په حيث دی او د خدای په خوا دی، هغه يې پيژندلی دی" (يوحنا ۱ : ۱۸).

عيسی په کامل ډول د خدای شخصيت ښکاره کړ، کوم چې حتی نبيان په دې باندې قادر نه وو چې هغه په کامله توګه وپيژني. هغه خدای د ټولو دپاره د پيژندلو وړ وګرځاوه. برسيره پردې، هغه د خپل مرګ او بيا ژوندي کيدلو په وسيله انسانانو ته دا امکان برابرکړ چې د هغه اولادونه شي. هغه د خپل روح د قدرت په وسيله د خدای اولادونو ته دا قدرت ورکړ چې د خپل آسماني پلار په شان شي. د پولوس خبرو ته پام وکړئ چې وايي: "مونږ ټول په داسې حال کښې چې په خپلو لوڅو مخونو باندې د خدای جلال ښکاره کوو، قدم په قدم په زياتيدونکي جلال کښې د هغه په شکل کښې بدلون مومو او دا کار د څښتن يعنې روح القدس کار دی" (دوهم کورنتيان ۳ : ۱۸).

په مقدس کتاب کښې جلال يوه داسې کليمه ده چې د خدای د عجيبه حضور بيانوونکی دی. عيسی د خدای زوی د هغه جلال منعکس کړ (يوحنا ۱ : ۱۴ ولولئ). هغه خدای په دې تياره دنيا کښې څرګند کړ ترڅو تاسو نور هم د خدای په شان شئ او د هغه جلال څرګند کړئ. په جلال کښې د خدای ټول

خصوصیات شامل دي. هغه خصوصیات چې د یوحنا په انجیل کښې د عیسی په وسیله څرګند شول، یعنې هغه د خدای فضل او رښتینوالی و. فضل د خدای د نیکۍ او محبت ښودونکی دی. رښتینولي هم د خدای نیکي بیانوي په دې معنی چې هغه پاک او عادل دی. د خدای په شخصیت کښې دا دوه صفتونه د اخلاقو په موضوع باندې مستقیم تاثیر لري. د خدای رویه او اعمال د محبت او عدالت څخه سرچینه اخلي.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

3. دوهم کورنتیان۳: ۱۸ له یاده یاد کړئ. آیا د هغې مفهوم ستاسو د تشویق سبب نه ګرځي؟
4. دعا وکړئ چې په کومه برخه کښې احتیاجونه لرئ چې خدای تاسو بدل کړي. د خپل ځان څخه سوال وکړئ چې په کومو برخو کښې د خدای شخصیت نشم څرګندولی او د هغه جلال نشم ښکاره کولی؟

## خدای محبت دی

یو شی چې په هغه باندې زمونږ پوهیدل سخت دي هغه دا دی چې هغه خدای چې د مینې او محبت خدای دی څنګه دا اجازه یې ورکړه چې یوازینی زوی یې زمونږ په خاطر مړ شي. مونږ د داسې قسم محبت سره عادت نه یو. هغه محبت چې په دنیا کښې د انسانانو ترمنځ موجود دی، هغه دا دی چې اول

خپله ګټه په نظر کښې نیسي، که چیرې په اول قدم کښې زما ګټې خوندي شوې، نو بیا د نورو په باره کښې فکر کوم. دارنګه محبت داسې وایي، "که چیرته زمونږ سره د دوه تنو دپاره خواړه موجود وي، نو زه به یې وویشم. که چیرې دومره خواړه وي چې د یو نفر دپاره بس شي نو هغه به زه وخورم." دا ډول محبت اول په خپل ځان باندې پام کول دي او په دوهم قدم کښې د نورو په باره کښې. د خدای محبت د انسانانو د محبت څخه ډیر اوچت دی. هغه همیشه زمونږ د ښیګڼې په باره کښې اندیښنه کوي. هغه د محبت څخه ډک دی، حتی که مونږ د هغه سره محبت هم ونکړو. هغه د دنیا سره مینه کوي که څه هم دنیا هغه ردوي. دا قسم محبت یو ژوندی محبت دی او هغه خپل ځان په کړو وړو او عمل کښې ښکاره کوي. لکه څنګه چې په اول کورنتیان ۱۳: ٤- ۷ کښې لولو:"د خدای د مینې څخه ډکه رویه د فضل او رحم په نوم یادیږي".

فضل، هغه محبت دی چې د نورو دپاره ښیګڼه غواړي. فضل دې ته صبر نکوي چې ترڅو مقابل نفر ښه شي او د محبت کولو وړ وګرځي یا د هغه د جبران کولو توان ولري. فضل د زړه سواندۍ او رحم یوه لوروونکې رویه ده. د پطروس د وینا په اساس، "ښښتن د ټولو روحاني برکتونو ورکوونکی دی او تاسو ته یې په مسیح کښې بلنه درکړې ده چې د هغه په آبدي جلال کښې شریک شئ" (اول پطروس ٥: ۱۰).

مونږ د خدای فضل په دې کښې وینو چې هغه د انسان په حق کښې لویه سربښندنه وکړه. د هغه محبت باید په عمل کښې

پلی شوی وای ترڅو مونږ ته د ګناهونو څخه خلاصی راکړي.

یو سړی هغه وخت خپله مهرباني ښکاره کوي چې د داسې نفر سره نیکي کوي چې هغه یې وړ نه وي. ایا د هغې نیک سامري داستان مو په یاد دی؟ (لوقا ۱۰: ۳۰- ۳۷). د یو سامري مسافر داستان دی چې د داسې یو نفر سره مخامخ شو چې هغه د ده دښمن و (د یهودیانو او سامریانو ترمنځ دښمني وه) لیکن سامري د هغه سره مینه او مرسته کوي.

خدای خپل فضل او رحم په مونږ باندې کړی دی. هغه د هغو میندو او پلرونو په شان نه دی چې د کار په مقابل کښې ورته انعام ورکوي. څښتن بې له کوم شرط څخه محبت کوي، هغه زمونږ د خلاصون دپاره لاره برابروي که څه هم مونږ د هغه لایق نه یو. "ځکه کله چې مونږ بې وسه وو، مسیح د بدکارانو په خاطر هغه وخت مړ شو چې خدای ټاکلی و. دا ډیره سخته ده چې داسې یو څوک پیدا شي چې د یو نیک سړي یه خاطر خپل ځان له لاسه ورکړي، که څه هم کیدای شي چې کله کله یو څوک د خپل خیرخواه دوست په خاطر مرګ قبول کړي. خو خدای خپل محبت مونږ ته په کامله توګه ثابت کړی دی، ځکه هغه وخت چې مونږ لا ګناهکاران وو، مسیح زمونږ په خاطر مړ شو" (رومیان ۵: ٦- ۸).

د خدای محبت د ځان ښودنې محبت نه دی، بلکه یو وړیا محبت دی او د انسانانو د محبت سره فرق لري. مګر خدای غواړي چې اولادونه یې د هغه په شان شي. هغه زمونږ څخه

غواړي چې د هغه برم او ښه والی ښکاره کړو. یعنې د هغه په شان محبت وکړو او فضل او رحم ولرو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

5. د لوقا انجیل ٦: ٢٧- ٣٦ ولولئ او د هر یو آیت په اړوند د خپل ژوند په باره کښې فکر وکړئ.

٢٧ آیت- د خپلو دښمنانو سره مینه وکړئ، د هغه چا سره نیکي وکړئ څوک چې درڅخه کرکه کوي.

٣٦ آیت- لکه څنګه چې ستاسو پلار رحم کوونکی دي، تاسو هم رحم کوونکي اوسئ.

## خدای عادل دی

په فرانسه کښې د وزن او اندازه کولو په نړیوالې اداره کښې یوه میله وه چې د یو خاص فلز څخه جوړه شوې وه. دغې میلې یو متر اوږدوالی درلود. اکثره هیوادونه د دې میلې یوه نمونه لري. دا یوه کامله میله ده. دا یو کامل معیار دی چې د هغې پواسطه نورې ټولې اندازه ګیری صورت نیسي.

څښتن د هغې ترازو په مثال دی. د هغه ذات عادل او نیک دی. د هغه په هر کار او عمل کښې د عدالت او انصاف معیار موجود دی. هغه چې هر څه وایي یا هرڅه کوي هغه ربښتیا دي. دا د دې خبرې معنی ده چې خدای عادل دی. په هغه کښې بدلون نه راځي او هغه نشي کولی چې د خپل عدالت په خلاف کوم کار وکړي، ځکه چې هغه کارونه د هغه د ذات په ضد دي.

خدای د هغو خلکو څخه چې غواړي د هغه په شان شي دا غواړي چې هغوی په پوره صداقت سره ګام پورته کړي. ځکه چې هغه عادل او صادق دی، هغه خپل مخلوق تر قضاوت لاندې راولي. کله چې خدای د پیدایښت کار سرته ورساوه نو هرڅه چې هغه جوړ کړي وو، هغه ولیدل چې هغه ښه دي (پیدایښت ۱: ۳۱). لیکن تاسو پوهیږئ چې ټولو ګناه کړې ده. هغوی د نیکو کارونو په کولو او حقیقت کښې ناکام شوي دي. او د یو لنډ خط کش په شان نشي کولی چې د خدای معیار ته ورسیږي. پولوس وایي:"ټولو ګناه کړې ده او د خدای د جلال څخه محروم دي" (رومیان ۳: ۲۳).

نو خدای څه کولی شول؟ هغه انسانانو ته اجازه نشي ورکولی چې کم عدالت وکړي او لږ انصاف ولري. آیا هغه دا کار کولی شي؟

داسې تصور وکړئ چې تاسو غواړئ یو میز جوړ کړئ. ستاسو د دوستانو څخه څلور نفره لرګي راوړي، تاسو هغو ته د پایو اندازه په دقیقه توګه ورکړې ده، خو کله چې هغوی راځي نو تاسو به په خط کش باندې د هغه د پایو اندازه اخلئ او دې ته متوجه کیږئ چې هغه ټولې لنډې دي. یوه یې لس سانتي متره، بله یې پنځه سانتي متره، بله درې سانتي متره او بله یې دوه سانتي متره لنډه ده. تاسو د کومې پایې څخه استفاده کوئ؟ که چیرې غواړئ چې یو داسې میز جوړ کړئ چې خراب نشي، د هیڅ یو څخه ګټه نشئ اخیستلی. خدای د انسانانو ګناهونهویني. دا په دې سبب نه چې انسانانو بد کارونه کړي دي، بلکه

په دې سبب چې هغوی د خدای په شان محبت او رحم نه دی کړی.

د یو عادل قاضي په باره کښې یوه قصه ده چې هغه به همیشه په خپل قضاوت کښې د انصاف څخه کار اخیست او د خدای حکمونه به یې په عدالت سره په ځای کول. یوه ورځ یې د هغه زوی د یو جنایت په سبب هغه ته راوست. د هغه زوی په خپل جرم باندې اقرار وکړ. هغه د اوښکو په تویولو سره هغه په حبس باندې محکوم کړ. هغه ته باید د خپل جرم په خاطر سزا ورکړل شي. مګر پلار یې د قضاوت د میز څخه راپورته شو، د قضا لباس یې وویست او د خپل زوی ساتونکو ته یې وویل: "زه حاضر یم چې د خپل زوی په ځای سزاووینم."

تاسو به د خدای د اولادونو په توګه د بې دینه خلکو سره یوځای محاکمه نشئ. ستاسو په ځای عیسی ته سزا ورکړل شوه. اوس تاسو د خدای قضاوت آزاد کړي یئ. له همدی کبله باید تاسو د روح القدس په قوت سره عادل او صادق اوسئ.

کله چې مونږ په دې خبره باندې پوهیږو چې د خدای عدالت او محبت د هغه د ذات یوه برخه ده، نو مونږ کولی شو چې په ډیره ښه توګه د هغه په کړو وړو او عمل باندې پوه شو. او همدارنګه په دې هم پوه شو چې هغه زمونږ څخه څه امید لري او څرنګه فکر باید وکړو. احساس پیدا کړو او عمل وکړو ترڅو نور هم د هغه په شان شو.

څښتن مونږ ته ویلي دي چې کوم شی ښه دی. او هغه زمونږ څخه څه غواړي؟ هغه زمونږ څخه عدالت او انصاف غواړي. او

دا چې زیاته مینه څرګنده کړو او دخپل خدای په حضور کښې په عاجزۍ سره ژوند وکړو (میکا ٦: ٨).

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

6. میکا ٦: ٨ ولیکئ او هغه له یاده یاد کړئ.
7. افسیان ٥: ٨- ١٠ ولولئ او ویې لیکئ. د دې آیت په مطابق خدای ستاسو په ژوند کښې ستاسو څخه څه امید لري؟
8. کله چې مونږ وایو چې خدای عادل دی، یعنې:
   أ) کولی شو هغه وسنجوو.
   ب) هغه بد کار نشي کولی.
   ج) هغه دومره نیک او پاک دی چې نشي کولی زمونږ دعاګانې واوري.
9. د خدای عدالت څنګه کولی شي چې ستاسو په کړو وړو او عملونو باندې تاثیر واچوي؟

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۵- ستاسو خپل ځواب.

۱- ب) خدای پوه او حکیم دی

د ) خدای د ټولو قدرتونو سرچینه ده.

۶- ستاسو خپل ځواب.

۲- الف) مونږ کولی شو چې خدای د خپل خلقت په خاطر وپیژنو.

ب) خدای د هغو اشخاصو په وسیله پیژنو چې په زړه لوظنامه کښې ورسره خبرې شوې دي.

ج) کولی شو چې خدای د عیسی مسیح په وسیله وپیژنو.

۷- ستاسو خپل ځواب

۳- ستاسو خپل ځواب

۸- ب) هغه غلط کار نشي کولی.

٤- ستاسو خپل ځواب

۹- هغه کولی شي چې ستاسو سره مرسته وکړي چې کوم بد کار ونکړئ، ښه فکر ولرئ، ثابت او دوامداره مینه ولرئ او د هغه په اړوند عاجز اوسئ.

دریم لوست

# هغه څه چې خدای ستاسو له شخصیت او کړو وړو څخه انتظار لري

ایا تاسو دا زده کړي دي چې څرنګه په بایسکل باندې سپاره شئ؟ که چیرې همداسې وي،نو د یو زده کوونکي په توګه باید دا په یاد ولرئ چې په عین وخت کښې ډیر کارونه وکړئ. په پایډلو بادې زور راوړئ او د بایسکل انډل صحیح ونیسئ او خپله موازنه برابره کړئ . د سرک مقررات باید مراعت کړئ. دا هغه کارونه دي چې یو ماهر بایسکل چلوونکی یې بې له کوم فکر کولو څخه باید وکړي. خو هغه څوک چې نوی بایسکیل زده کوي هغه په دې خبرو باندې نه پوهېږي. نو هغه بیا یو پوه او هوښیار استاذ ته اړتیا لري ترڅو هغه ته د باسکیل ځغلولو ټول قواعد او مقررات وښایي. کیدای شي چې هغه تاسو ته دا تشریح کړې وي چې څه باید وکړئ او د سرک مقررات څرنګه مراعت کړئ. کیدای شي چې

هغه په بایسکل باندې سپور شوی وي او تاسو ته یې ښودلي وي چې څه باید وکړئ. په پیل کښې به تاسو راولوېږئ. کله کله چې تاسو په بایسکل باندې سپرېږئ نو بایسکل صحیح نیسئ ترڅو موازنه سمه وساتئ.

د خدای د غوښتنې په مطابق د سم ژوند زده کول هم همداسې دي. د خدای آرزو دا ده چې مونږ د هغه په شان شو. تاسو پوهیږئ چې هغه نیک، د محبت څخه ډک او عادل دی. خو کله چې مسیحیان شو نو مونږ نشوکولی چې د خپلې خوښې په مطابق ژوند وکړو.

دا درس به تاسو ته وښائي چې خدای د یو باتجربه چلوونکي په توګه څنګه کولی شي تاسو سره مرسته وکړي چې د هغه په شان شئ.

# هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- هغه وجدان چې له تاسو سره مرسته کوي
- مقدس کتاب ستاسو لارښوونکی دی
- هغه خلاصون ورکوونکی چې تاسو ته لاره ښایي
- روح القدس ستاسو لارښوونه کوي

# دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- هغه لارې چارې زده کړئ چې خدای له هغو څخه کار اخلي ترڅو تاسو ته وښايي چې څنګه ژوند وکړئ.
- د هغه له برکتونو څخه ډېره ښه ګټه واخلئ او زیات احساس مسئولیت وکړئ.
- د هغو څلورو طریقو نومونه واخلئ چې د هغو په وسیله کولی شئ د ژوند په مختلفو مرحلو کښې يو ه صحيح لاره انتخاب کړئ.

## هغه وجدان چې تاسو سره مرسته کوي

ټول انسانان وجدان لري. وجدان د ښو او بدو په باره کښې يوه باطني آګاهي ده. حتی مخکښې له دې چې تاسو مسيحي شئ ستاسو وجدان تاسو ته د صحيح اوغلطو کارونو په هکله خبرداری درکاوه. په هغه وخت کښې ستاسو داخلي احساس تاسو ته دا يادونه کوله چې دا به ډېره ښه وي چې يو ټاکلی کار سرته ورسوئ او يا يې ونکړئ.

که چيرې تاسو د خپل وجدان آواز ته توجه کوله نوتاسو به له ګناه څخه ډک کارونه نه وي کړی. پولوس رسول د روميانوپه رساله کښې غير يهوديانو ته وايي سره له دې چې هغوی د خدای حکمونه نه پيژني مګر په دې خاطر چې هغوی د وجدان د آواز تابعداري يې کوله، نو هغوی ښه کارونه کول. "د هغو د

کړو وړو څخه داسې معلومېږي چې د شریعت مقررات د هغوی په زړونو کښې لیکل شوي دي او د هغوی هم دا تائیدوي چې هغه صحیح دي ځکه چې د هغوی خیالونه یا هغوی محکوموي یا د هغوی څخه دفاع کوي" (رومیان ۲: ۱۵).

وجدان یوه ښه وسیله ده. وجدان زمونږ سره د مرستې کولوپه خاطر دخدای یو سوغات دی. نو په دې اساس کولی شو ووایو چې د بایسکل د موازنې په شان وجدان هم د زمونږ د روحاني موازنې ښودونکی دی. خو په دې باید پوه شو چې وجدان هم محدود دی او کامل نه دی. لکه څنګه چې یو دارباز چې د ډیرو ښو مهارتونو او تخنیکونو سره رالویږي ، هماغه شان ډیر ښه انسانان هم کله کله په ګناه کښې ورلویږي ځکه د هغوی وجدانونه هم کله کله دا توان نلري چې هغوی خبر کړي. ځینې خلک همیشه د وجدان له آواز څخه رغړونه کوي یعنې د هغو خلکو په شان چې په قصدي توګه بده لاره د خپل ځان دپاره اختیاروي. هغوی په دې کار کښې دومره مخکښې تللي دي چې نور نشي کولی د خپلو وجدانونو څخه استفاده وکړي.

مقدس کتاب د داسې خلکو په باره کښې وایي: "د هغوی وجدانونه داسې بې حسه شوي دي چې ته به وایې چې په اوسپنې باندې سوي دي" (اول تیموتیوس ٤: ۲).

مسیحیان داسې نه دي، کله چې هغوی بیا زېږېدنه ترلاسه کوي د هغوی وجدان هم نوی کیږي. د عبرانیانو د رسالې لیکونکی وایي: "د مسیح مړینه زمونږ وجدان پاکوي، د هغه

وینه به زمونږ وجدان د خوشې کارونو څخه پاکوي ترڅو وکولی شو چې د ژوندي خدای عبادت او خدمت وکړو" (عبرانیان ۹: ۱٤).

څرنګه چې مونږ مسیح پاک کړي او بخښلي یو، نور زمونږ وجدان د تیر شوي ژوند په اړوند د ګناه احساس نه کوي. د هغه په ځای وجدان د روح القدس دپاره یوه وسیله جوړیږي چې مونږ په دې باندې ډاډه کړي چې صحیح ژوند وکړو. د عبرانیانو لیکونکي زیاتوي: "زما دپاره دعا وکړئ، مونږ باور لرو چې د خپل وجدان په خلاف مو کوم عمل نه دی کړی.بلکه همیشه مو صحیح کارونه کړي دي" (عبرانیان ۱۳: ۱۸).

ستاسو وجدان به تاسو سره مرسته وکړي چې ښه کارونه وکړئ. او کله چې وغواړئ خراب کارونه وکړئ تاسو ته به خبرداری درکوي. "کله چې تاسو یو ښه کار کوئ نو د آرامۍ احساس کوئ. کامل وجدان هغه وجدان دی چې هغه پاک وي" (اول پطروس ۳: ۱٦).

تیموتیوس ته د پولوس نصیحت یو لوی تشویق او قوي خبرداری دی. "خپل وجدا ن او ایمان پاک وساته، د ځینوخلکو د ایمان کشتۍ په دې علت له منځه تللی ده چې هغوی د وجدان آواز ته غوږ نه دی نیولی" (اول تیموتیوس ۱: ۱۹).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

1. صحیح عبارتونه د وجدان په اړوند په ګوته کړئ:

أ) یوازې غیریهودیان وجدان لري.

ب) مسیح د مسیحیانو وجدان بیرته راژوندی کوي.
ج) نوی وجدان د روح القدس په لاس کښې یوه وسیله ده.
د) یو مسیحي باید خپل وجدان پاک وساتي.

2. اعمال ۲۴: ۱۶ په یاده یاد کړئ، دا ولیکئ چې کله چې تاسو غواړئ یو کار وکړئ تاسو سره کوم انتخاب مرسته کوي چې پاک وجدان ولرئ.

خپل ځوابونه د هغو ځوابونو سره مقایسه کړئ کوم چې د لوست په پای کښې موجود دي.

## مقدس کتاب ستاسو لارښوونکی دی

تاسو په تیر شوي درس کښې دا زده کړل چې مقدس کتاب یوه وسیله ده چې خدای د هغه له لارې خپل ځان ښکاره کړی دی. همدارنګه تاسو ته یاد دي چې خدای په زړه لوظنامه کښې د اشخاصو سره خبرې کړې دي او هغه په ځانګړې توګه خپل شخصیت او عملونه د اسرائیلو د قوم له لارې وښودل. په نوې لوظنامه کښې خدای خپل ځان په ډیره ښه توګه په عیسی مسیح کښې مونږ ته راوښود. انجیلونه د عیسی مسیح د ژوند او تعلیم داستان مونږ ته بیانوي. د اعمالو کتاب د مسیحیت پراختیا او د تعلیم رسالې بیانوي او د مکاشفې کتاب د راتلونکې دپاره د خدای کامیابي څرګندوي. څرنګه چې په مقدس کتاب کښې دغه ټولې برخې موجودې دي، نو بیا مونږ دې ته څومره اړتیا لرو چې هغه ټول ولولو. د دې سره سره بیاهم

ځینې مسیحیان شته چې هغوی تر اوسه پورې دا خبره نده درک کړې چې خدای ولې خپل کلام د هغوی په اختیار کښې ورکړی دی. مقدس کتاب په خپله ډیر ښه جواب ورکوي: "مقدس کتاب د خدای د الهام په وسیله رامنځته شوی او هغه د حقیقت د زده کولو، د غلطیو د رټلو، د خطاګانو د اصلاح کولو دپاره ډیر ګټور دی او د سم ژوند دپاره لارښوونه کوي" (دوهم تیموتیوس ۳: ۱۶).

د مقدس کتاب څخه پرته به زمونږ ټوله پوهه بې ګټې وي، که چیرې مونږ اجازه ورنکړو چې هغه دې زمونږ رویه او عملونه د خدای په شان نکړي. له بلې خوا که چیرې د خدای کلام ونه لولو نو دا هم کافي نه ده چې مونږ دې یوازې د دې لیوال اوسو چې د خدای په شان شو. د زبور لیکونکی د خدای کلام ته د زیات احترام په سترګه ګوري. هغه وئیلي دي، "ستا کلام زمونږ د پښو دپاره څراغ او زمونږ د لارو دپاره رڼا ده، ما قسم خوړلی دی او هغه ته به وفادار یم" (زبور ۱۱۹: ۱۰۵- ۱۰۶).

مقدس کتاب زمونږ دپاره زمونږ په مسیحي ژوند کښې پوره لارښوونکی دی. او له همدې کبله باید هغه همیشه ولولو او خپل بدن، احساسات او عملونه د هغه سره برابر کړو. په مقدس کتاب کښې هغه مشخص تعلیمات او لارښوونې دي چې باید د هغو تابعداري وکړو. همدارنګه په هغه کښې د کړو وړو مثالونه هم شامل دي. دغه مثالونه بې له دې چې مونږ ته ووایي چې څه وکړو، هغه زمونږ سره مرسته کوي چې د خپلې رویې په باره کښې صحیح تصمیم ونیسو. په مقدس کتاب

کښې د واقعي خلکو نمونې او مثالونه هم شته چې يا خو هغوی د خدای د حکمونو اطاعت يې کړی او يا د هغه په ضد راپورته شوي دي. په دې کښې شک نشته چې خدای زمونږ ځخه د کوم کار اميد لري. ښه مثالونه مونږ هغو کارونو ته تشويقوي چې خدای يې خوښوي او بد مثالونه مونږ ته د هغو خيالونو او اعمالو په باره کښې خبرداری راکوي کوم چې د خدای د رضا په خلاف وي.

تاسو کولی شئ چې په خپل ژوند کښې د خدای په کلام باندې عمل وکړئ ځکه چې هغه رښتينی کلام دی. که چېرې مونږ وغواړو چې دخدای کلام په خپل ژوند کښې عملي کړو، نو بايد د هغه په کلام باندې پوه شو او د هغه اطاعت وکړو. دخدای په کلام باندې ښه پوهيدل د هغه د کلام انظباط او شاګردۍ ته اړتيا لري چې هغه زمونږ په ژوند کښې د برکت او رښتينې خوشحالۍ سبب ګرځي.

"زه په دې باندې خوشحالي کوم چې نسبت دې ته چې زيات دولت ولرم ستا د حکمونو ځخه پيروي وکړم. زه ستا حکمونه مطالعه کوم. زه ستا د تعليم ازميښت کوم، ستا د قوانينو ځخه خوند اخلم، ستا حکمونه به هير نکړم" (زبور ۱۱۹: ۱٤- ۱٦).

## هغه ځه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

3. صحيح عبارت په ګوته کړئ:

أ) د خدای کلام چې یو الهامي کلام دی هغه ستاسو په ژوند کښې د برکت دپاره دی.
ب) د خدای کلام د حقیقت تعلیم ورکوونکی دی.
ج) د خدای کلام د مسیحیانو سره مرسته کوي چې څنګه ژوند وکړي.
د) د خدای کلام د هغو کارونو لست دی چې تاسو یې سرته ورسوئ.
ه) د خدای کلام د تعلیم او ژوند د مثالونو څخه ډک دی.

4. د مقدس کتاب د دې فصل د آیاتونو څخه یو آیت په داسې شکل سره په یاده زده کړئ، چې د هغه په وسیله وکولی شئ دا روښانه کړئ چې مقدس کتاب ولې د یو مسیحي دپاره دومره اهمیت لري.

## هغه خلاصون ورکوونکی چې تاسو ته لاره ښایي

هغه مهم او با ارزښته شخصیت چې مقدس کتاب یې مونږ ته راپیژني، هغه زمونږ مالک عیسی مسیح دی. کیدای شي چې تاسو نورو ته ویلي وي چې عیسی مسیح زمونږ خلاصون ورکوونکی دی او ممکن هغه خپل کامل خدای وګڼئ. دا ټولې خبرې صحیح دي، که چیرې تاسو خلاصون نه وای موندلی نو تاسو به څنګه دا توان پیدا کړی وای چې نوی ژوند تجربه کړئ؟ څرنګه کولای شئ ژوند وکړئ که چیرې ستاسو د ژوند کنترول د هغه په لاس کښې نه وي؟ یوازې عیسی دی چې کولی شي

خلاصون ورکړي او ومو ساتي. هغه مسیح دی او مونږ مسیحیان یو. دا په دې معنی ده چې مونږ د هغه د پیروانو څخه یو او د هغه د شاګردانو له ډلې څخه یو. شاګرد یو داسې شخص دی چې هغه زده کړه کوي چې د خپل استاد په شان فکر او عمل وکړي. آیا تاسو هغه لوبه کړې ده چې د "رهبر پیروي وکړئ" په نوم یادیږي. یو نفر یوه سلسله کارونه کوي، خیزونه وهي، ګرځي او نور زیات هڅه کوي چې د هغه د حرکتونو تقلید وکړي. که چیرې یو نفر ونشي کولی چې هغه تکرار کړي یا دا حرکتونه په سستۍ سره تکرار کړي، نو لوبه بایلي. ځکه چې د لوبو اساس تقلید کول دي. مقدس کتاب مونږ ته وایي چې مونږ باید د خپل خدای څخه تقلید وکړو."زما پیروي وکړئ لکه څنګه چې زه د مسیح پیروي کوم" (اول کورنتیان ۱۱: ۱).

د ژوند په هکله باید ستاسو د فکر څرنګوالی د مسیح د فکر په شان وي، ځکه چې هغه د انسان په شکل زمونږ په منځ کښې ښکاره شو. "هغه خپل ځان عاجز کړ او د خپلې تابعدارۍ له مخې دې ته حاضر شو چې مرګ او حتی په صلیب باندې یې مرګ قبول کړ" (فلیپیان ۲: ۵ او ۸).

عیسی خپل شخصیت د خپلو اعمالو په وسیله وښود، یعنې هغه اعمال چې د ښښتن څخه د هغه د تابعدارۍ کولو نتیجه وه. پطروس وایي، "عیسی هر ځای ته تله او نیک کارونه یې کول او هغو خلکو ته یې خلاصون ورکاوه کومو چې به د شیطان په غلامۍ کښې ژوند تیراوه. ځکه چې خدای د هغه سره مل و" (اعمال ۱۰: ۳۸).

پطروس عیسی پیژانده ځکه چې د هغه سره یې ژوند تیر کړی و. "کله چې د شورا غړو د پطروس او یوحنا جرئت ولید او پوه شول چې هغوی عادي او بې تعلیمه خلک دي نو حیران شول او هغوی په دې پوه شول چې دوی د عیسی د ملګرو څخه دي" (اعمال ٤: ١٣).

اوس پوه شوئ چې د خدای د کلام د لوستلو معنی څه ده؟ مونږ مقدس کتاب د دې دپاره نه لولو چې یوازې د عیسی داستانونه زده کړو بلکه غواړو په دې پوه شو چې څنګه کولی شو د روح القدس د قدرت په وسیله په خپل ژوند کښې د هغه څخه تقلید وکړو. خو دا کار به ساده نه وي ځکه چې خپله عیسی آرام ژوند نه درلود په حقیقت کښې هغه زمونږ د خلاصون په خاطر ډیر زحمت وویست. پطروس په دې حقیقت باندې پوهیده. "مګر خدای تاسو د همدې لپاره غوره کړي نه یاست؟ پخپله مسیح چې ستاسو دپاره یې ډیر تکلیفونه تیر کړل، ستاسو دپاره یو مثال شو ترڅو په هغه لاره باندې لاړ شئ په کومه لاره چې عیسی تله" (اول پطروس ٢: ٢١).

اوس تاسو پوهیږئ چې عیسی زمونږ دپاره یو مثال دی. هغه عجیبه شخصیت لري. آیا تاسو داسې امید لرلی شئ چې د هغه په شان شئ؟ ډاډه اوسئ څښتن دا غواړي چې تاسو ژر تر ژره د هغه په شان شئ. مګر مونږ د پولوس په شان په دې پوهیږو چې مونږ تر اوسه پورې د هغه معیارونو ته نه یو رسیدلي (فیلیپیان ٣: ١٢). خو مونږ غواړو چې ورته ورسیږو. هغه پرتمینه وعده چې د خدای اولادونو ته ورکړل شوې ده،

داسې ده، "اې ګرانو دوستانو مونږ اوس د خداى اولادونه يو، خو دا معلومه نه ده چې په راتلونکې کښې به څه وشي. مګر دومره پوهيږو چې کله مسيح ښکاره شي، مونږ به د هغه په شان يو، ځکه هغه به هماغه شان ووينو لکه څنګه چې دى. هر څوک چې د مسيح په وجود کښې دا اميد لري، هغه خپل ځان پاکوي لکه څنګه چې مسيح پاک دى" (اول يوحنا ۳: ۲- ۳).

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

5. هغه عبارت په ګوته کړئ چې دا څرګنده کړي چې څنګه کولى شو په خپل ژوند کښې د عيسى څخه تقليد وکړو:

أ) بايد د خپل خداى سره د زړه له کومې مينه ولرو.

ب) بايد فقيرانو ته زيرى ورسوو.

ج) بايد د هغو خلکو سره مرسته وکړو کوم چې په ستونزو کښې اخته دي.

د) بايد د خداى روح ته اجازه ورکړو چې په مونږ کښې کار وکړي.

ه) مونږټول بايد ترکانان شو.

6. اول کورنتيان ۱۱: ۱ بيا ولولئ او د خداى د روح څخه وغواړئ چې تاسو ته وښايي چې په کومه برخه کښې د مسيح په شان عمل کوئ او د خپل ژوند په کومو برخو کښې مو د هغه څخه پيروي نه ده کړې. له

خدایه وغواړئ چې د هغو سرغړونو په خاطرتاسو وبخښي چې تاسو کړي دي. هغه خپل د یاداشت په کتابچه کښې ولیکئ او د هغو دپاره هره ورځ دعا وکړئ ترڅو په دې وتوانیږئ چې د عیسی په شان شئ. کله چې تاسووکولی شول چې په خپل ژوند کښې هغو ته بدلون ورکړئ نو دا ولیکئ چې د خدای روح تاسو سره څنګه مرسته وکړه او د هغوڅخه تاسو څه زده کړل.

## روح القدس ستاسو لارښوونه کوي

په دنیا کښې ډیر خلک شته چې د عیسی مسیح په باره کښې په ډیرو شیانو باندې پوهیږي. حتی هغوی ډیر مسایل د مقدس کتاب څخه په یاده زده کړي دي، خو دا توان نلري چې په خپل ژوند کښې د عیسی په شان شي. ځکه هغوی ورڅخه دا غوښتنه نده کړې چې د هغوی خلاصوونکی شي. دا د هغه سړي په مثال دی چې غواړي بایسکل وځغلوي بېدون له دې چې کله په هغه باندې سپور شوی وي. خو په دې باید پوه شو چې د یادولو دپاره بله موثره لاره نشته، مګر دا چې په بایسکل باندې سپور شي. په همدې ترتیب د دې دپاره چې د عیسی مسیح په شان شو، اول باید د خدای اولاد شو.

د خدای ډیرو اولادونو په دې خاطر چې د مسیح په شان شي، په دې لاره کښې یې هیڅ پرمختګ نه دی کړی. او همیشه په هماغو ګناهونو او زړو عادتونو کښې خپل ژوند تیروي.

هغوی په صداقت سره توبه وباسي خو بیرته ورځخه راګرځي لکه یو بایسکل چلوونکی چې همیشه رالویږي، ولې؟ ځکه هغه بې له مرستې دا توان نلري چې خپله موازنه وساتي، یعنې د یو تجربه کار ښوونکې له مرستې پرته. خو مونږ باید د خدای شکر ادا کړو چې مونږ ته یې یو تجربه کار ښوونکی راکړی دی. که چیرې مونږ د خدای اولادونه اوسو نو هغه ښوونکی په مونږ کښې موجود دی. دا ښوونکی روح القدس دی. د خدای روح زمونږ یو وفادار دوست او زمونږ معشوق دی. سره له دې چې دا ښوونکی راسره شته، نو مونږ بیا ولې ماتې خورو؟ که چیرې هغه ته اجازه ورنکړو چې مونږ سره مرسته وکړي، نو مونږ به هره ورځ دې ته اړتیا ولرو چې د هغه ځخه وغواړو چې د یو تجربه کار ښوونکي په شان بایسکل زده کړو چې ونه لویږو. یوازې له دې لارې کولی شو چې په ډاډمنه توګه د عیسی سره د ورته والي په خاطر قدم کیږدو. د عیسی شاګردان درې کاله د هغه سره وو او د هغه ځخه یې زیات درسونه زده کړي دي. عیسی هغوی ته زیات شیان روښانه کړل، خو په خپله پوهیده چې کله هغه له دنیا ځخه لاړ شي، هغوی مرستې ته اړتیا لري. په همدې خاطر هغه وعده وکړه: "خو کله چې ستاسو ملاتړ کوونکی چې هغه د پلار له خوا تاسو ته رالیږم راشي، یعنې هغه ریښتینی روح چې د پلار له خوا لیږل کیږي، هغه به زما په هکله شاهدي ورکوي" (یوحنا ۱۵: ۲٦).

زمونږ ملاتړ کوونکی زمونږ په زړه کښې دی ترڅو خدای پلار او خدای زوی نور هم زیات ځرګند کړي. هغه مونږ ته تعلیم

راکوي او دخدای د کلام حقیقت راته ښکاره کوي. عیسی د هغه په باره کښې وویل، "هغه ملاتړ کوونکی یعنې روح القدس چې پلار به یې زما په نوم درولیږي هغه به د ټولو شیانو په باره کښې تاسو ته تعلیم درکړي او هغه شیان په درته دریاد کړي کوم چې ما درته ویلي وو" (یوحنا ۱٤: ۲٦).

روح القدس یوازې تعلیم نه ورکوي بلکه مونږ ته هغه شیان رایادوي کوم چې مو زده کړي دي. هغه شیبه چې مونږ د خدای کلام ته ضرورت لرو هغه یې زمونږ ذهن ته راولي. هغه مونږ ته په سختو شیبو کښې وایي چې مونږ څه ووایو (مرقس ۱۳: ۱۱). د هغه کار دا دی چې مونږ د حقیقت خوا ته رهنمایي کړي (یوحنا ۱٦: ۱۳). په دې کښې د ژوند هغه طریقه هم شامله ده چې مونږ باید د هغې له مخې خپل ژوند تیر کړو. کله چې دخدای روح ته اجازه ورکړو چې په مونږکښې کاروکړي نو مونږ کولی شو په هغو خواهشاتو باندې غلبه ومومو کوم چې په انساني طبعیت کښې موجود دي. خو دا کارهغه وخت کیدای شي چې مونږ د هغه تابعداري وکړو. د پولوس وینا ته په غور سره پام وکړئ: "خو هغه میوې چې روح القدس یې مونږ ته راکوي هغه عبارت دي له مینې، خوشحالۍ، آرامۍ، حوصله مندي، مهربانۍ، نیکۍ، وفادارۍ، عاجزۍ او په خپل ځان باندې اختیار لرلو څخه، چې هیڅ داسې کوم قانون شته چې د دې شیانو په خلاف وي. که د خدای روح زمونږ د ژوندون سرچینه وي نو باید د ژوند لاربنود هم اوسي" (ګلتیان ۵: ۲۵ او ۲۲- ۲۳).

روح القدس باید زمونږ ژوندکنترول کړي. ایا دا په دې معنی ده چې مونږ دې هیڅ کوښښ ونکړو؟ نه، بلکه دا په دې معنی دی چې مونږ باید دا کوښښ ونکړو چې د خدای له لارې څخه لیرې شو. مونږ باید دخپلو خیالونو او عملونوپه باره کښې فکر وکړو او دخدای څخه وغواړو چې هغه د مسیح د فکر او عمل په شان کړي. دا د حقیقت په لور زمونږ لارښوونه ده. ایا ستاسو په فکر دا موضوع مشکله ده؟ د یوې شیبې دپاره د هغو کارونو په باره کښې فکروکړئ کوم چې خدای ستاسو دپاره کړیدي. دا روح القدس و چې تاسو سره یې مرسته وکړه چې مسیحیان شئ، روح تاسو ته ژوند درکړ او د هغه په قدرت سره تاسو د خدای اولادونه شوئ. تاسو دا ازمیښت وکړ چې خدای موجود دی او هغه ریښتینی دی او هغه ستاسو ګناهونه بخښلي دي. ستاسو وجدان بیا نوی شو، په خپل ژوند کښې د یو مقصد خاوندان شوئ او خدای ستاسو ورځینیو دعاګانو ته ځواب وایي. په عمومي توګه تاسو لا زیات د مسیح په شکل شوئ. دا ټول کارونه د روح القدس له سببه په تاسو کښې کیږي. یوازې په تاسو کښې نه، بلکه په تاسو ټولو مسیحي ورونو او خویندو کښې. مونږ باید د ناکامۍ څخه ونه ویریږو. هغه څه چې دخدای کلام یې مونږ ته وایي کولی شو چې هغه په خپل ژوند کښې تجربه کړو.

هغه خلک چې د خدای د روح په وسیله ورته لارښوونه

کیږي، هغه د خدای زامن دي. ځکه هغه روح چې خدای تاسو ته درکړی دی، هغه تاسو غلامان کوي نه او هغه ستاسو د ویرې سبب نه ګرځي، بلکه هغه روح ستاسو څخه د خدای اولادونه جوړوي او مونږ د دې روح په مرسته دخدای په حضور کښې دعا کوو، "ای پلاره، د خدای روح زمونږ د روح سره یوځای شاهدي ورکوي چې مونږ دخدای بچیان یو" (رومیان ۸: ۱۴- ۱٦).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

7. د لاندېني عبارت پورې تړلی آیت په ګوته کړئ:

أ) روح زمونږ لارښود دی.

ب) روح مونږ ته ژوند راکوي.

ج) روح د خدای حقیقتونه ښکاره کوي.

د) روح مرسته کوي چې د مسیح خبرې رایادې کړو.

ه) روح په مونږ کښې د مسیح شخصیت راپیداکوي.

8. په افسیان ۱: ۱۷- ۱۹ کښې د پولوس د دعا په اړه فکر وکړئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۵- الف) باید دخدای سره د زړه له کومي مینه ولرو.

ب) باید فقیرانو ته زیری ورسوو.

ج) باید د هغو خلکو سره مرسته وکړو چې په مشکلاتو باندې اخته دي.

د) باید د خدای روح ته اجازه ورکړو چې په مونږ کښې کار وکړي.

١- ب) مسیح د مسیحیانو وجدان بیرته راژوندی کوي.

ج) بیرته ژوندی شوی وجدان د روح القدس یوه وسیله ده.

د) یو مسیحي باید خپل وجدان پاک وساتي.

٦- ستاسو خپل ځواب

٨- ستاسو نوم په یو خالي ځای کښې قرار نیسي.

٢- ستاسو خپل ځواب

٤- ستاسو خپل ځواب

٧- الف) رومیان ٨: ١٤

ب) ګلتیان ٥: ٢٢

ج) یوحنا ١٥: ٢٦

د) یوحنا ١٤: ٢٦

ه) ګلتیان ٥: ٢٢- ٢٣

٣- الف) صحیح

ب) صحیح

ج) صحیح

د) غلط

ه) صحیح

## څلورم لوست

# خدای تاسو ته د ژوند دپاره اصول درکوي

په دې میاشت کښې باید مونږ د ډریورۍ نوی لایسنس واخلو. د دې کار دپاره باید اول د اشارو او د ډریورۍ په مقرراتو باندې د پوهیدلو په اړوند یو امتحان ورکړو. په همدې ځای کښې زمونږ مخې ته په میز باندې یوه کتابچه پرته ده چې د "سرک د مقرراتو" په نوم یادیږي. دا ډیر ګټور اصول دي ځکه چې د هغو په مراعت کولو سره به د ډیرو لږو پیښو سره مخامخ شو او د ترافیکو سره به کوم مشکل ونلرو، ځکه چې هغوی به وینې چې مونږ د مقرراتو څخه پیروي کوو. کله کله مونږ دا خوښوو چې د قانوني حد څخه تیریوکړو، خو قانون مونږ د دې کار څخه منع کوي. دا قانون زمونږ سره مرسته کوي چې کوم مشکل رامنځته نکړو او کومه خرابه پیښه ونشي.

مونږ په خپله کورنۍ کښې هم قوانین لرو. د مثال په ډول هلکان پوهیږي چې په کور کښې باید توپ بازي ونکړي. هلکان قانون ته ضرورت لري. که چیرې هلکان په دې پوه شي چې څه وکړي او څه ونکړي نو هغوی به زیات د امنیت احساس وکړي. که چیرې هغوی بد کار وکړي نو باید سزا ورته ورکړل شي. په اصل کښې که چیرې دا قانون د میني په بنسټ باندې ولاړ وي، دا به ډیر ښه او ګټور وي او هلکانو ته دا ورزده کوي چې که چیرې هغوی یې مراعت کړي نو د ټولو په ګټه به وي او ټول به خوشحاله وي. خدای یعنې د انسانانو خالق هم قوانین لري او غواړي چې اولادونه یې په هغو باندې پوه شي او د هغوی تابعداري وکړي. هغه دا قوانین د موسی او خپل زوی عیسی په وسیله ښکاره کړل.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ بشري قوانین
- ❖ موسی ته دخدای حکمونه
- ❖ د عیسی تعلیمات
- ❖ د رسولانو لارښودنې

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- ▪ هغه مهم اصول په ګوته کړئ کوم چې خدای په مقدس کتاب کښې ورکړي دي.
- ▪ د هغو قوانینو قدر وکړو کوم چې عیسی مونږ ته راکړي دي چې مونږ باید څنګه و

اوسو او کوم کارونه باید ونکړو.

## بشري قوانین

د خدای قوانین د ټولنیزو موضوعګانو په اړوند دي. دا دخدای هیله ده چې قومونه او کورنۍ دې یو د بله سره په سوله او هم غړۍ کښې ژوند وکړي. او د همدې دپاره یې اجازه ورکړې ده چې خپلو سیاسي سیستمونو ته د سولې او آرامۍ د منځته راتګ دپاره پراختیا ورکړي. مونږ په یوه قبیله کښې د یو مشر، په یو شاهي رژیم کښې د پادشاه او په یو جمهوري رژیم کښې د رئیس جمهور سره ژوند کوو.

داسې مشران شته چې قوانین او اصول جوړوي کوم چې زمونږ ټولنه اداره کوي. دا ټول مشران یا قوانین دخدای په نظر کښې ښه نه دي، خو هغه زمونږ څخه غواړو چې احترام یې وکړو. پولوس رسول په رومیان ۱۳: ۱- ۳ کښې وایي، "ټول باید د واک د خاوندانو اطاعت وکړي ځکه دخدای له اجازې پرته هیڅ کوم قدرت وجود نه لري. او اوسني واکداران خدای ټاکلي دي، له همدې کبله هرڅوک چې د هغوسره مخالفت وکړي، دا به دا معنی ولري چې هغوی د هغه څه سره مخالفت کوي کوم چې خدای مقرر کړي دي. او په دې کار به خپل ځان محاکمه کړي ځکه چې نیک خلک باید د واکدارانو څخه ونه ویریږي، بلکه بدکاران باید د هغوی څخه وویریږي."

دا د واک د خاوندانو وظیفه ده چې بدکارانوته سزا ورکړي او بدکاري کنترول کړي. پولوس وایي، "په دې خاطر چې قوانین بدۍ ته سزا ورکوي نو هغوی په حقیقت کښې دخدای د

خدمتګارانو په شان عمل کوي.

مونږ باید د هغوی تابعداري د ویرې په سبب ونکړو بلکه د وجدان له مخې یې وکړو" (رومیان ۱۳: ۵).

وروسته بیا پولوس د مالیې د ورکولو مسئله هم د وجدان پورې تړلې وګڼله: "تاسو د دې دپاره مالیه ورکوئ ځکه چې واکداران د خدای خدمتګاران دي او له همدې کبله په خپلو کارونو باندې بوخت دي. نو کومه مالیه چې په تاسو باندې ده هغه ورکړئ او هغوی ته د خپل ځان او جایداد مالیه ورکړئ او د هغه چا احترام کوئ څوک چې د احترام وړ وي او د عزت د خاوندانو عزت وکړئ" (رومیان ۱۳: ٦- ۷).

مونږ مسیحیان اول په ځمکه باندې د خدای د پادشاهۍ د برقرارولو مسئولیت لرو. خو د خدای د اولادونو په توګه چې په دې دنیا کښې ژوند کوو، باید د واکدارانو څخه په تابعدارۍ کولو کښې د غیر ایماندارانو دپاره یوه نمونه اوسو. پطروس وایي، "د څښتن په خاطر خپل ځانونه د قدرت خاوندانو ته وسپارئ" (اول پطروس ۲: ۱۳).

عیسی د قدرت د خاوندانو څخه د تابعدارۍ یوه ډېره ښه نمونه وه. سره لدې چې هغه خپله د پادشاهانو پادشاه و، مګر خپله مالیه یې ورکوله ترڅو د خلکو د تیندک خوړلو سبب نشي (متي ۱۷: ۲٤- ۲۷). کله چې دښمنانو کوښښ وکړ چې له هغه څخه د مالیې د ورکولو په اړوند په سوال کولو سره هغه په دام کښې راګیر کړي، هغه وویل: "نو هغه څه چې د قیصر په نوم دي هغه دې قیصر ته ورکړل شي او هغه څه چې د خدای

دي، هغه خدای ته ورکړئ" (متي ۲۲: ۲۱).

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

1. صحيح عبارتونه په ګوته کړئ (د مسيحي او د قدرت د خاوندانو په هکله)
   أ) هغه بايد ماليه ورنکړي ځکه چې هغه د خدای زوی دی.
   ب) هغه غواړي چې د هيواد د قوانينو اطاعت وکړي.
   ج) هغه د خپل وجدان له مخې ماليه ورکوي.
   د) هغه انساني قدرتونو ته احترام کوي.
   ه) هغه د خدای قوانين د انساني قوانينو څخه لوړ بولي.
2. متي ۲۲: ۲۱ ولیکئ او فکر وکړئ چې څه شی د قدرت د خاوندانو دي او څه شی د خدای دي. کيدای شي چې د هغو څخه ځينې يې شريک اوسي، نو د هغوی لست تيار کړئ.

خپل ځوابونه د هغو ځوابونو سره مقايسه کړئ کوم چې د فصل په اخر کښې دي.

## موسی ته د خدای حکمونه

انساني قوانين ممکن ښه وي يا بد. دوی د هغې ټولنې دپاره خدمت کوي د کومې دپاره چې پيدا شوي وو. د خدای

قوانین په کامل ډول ښه دي او د ټولو انسانانو دپاره چې په هر ځای کښې دي،مناسب دي. د زبور لیکونکی فرمایي: "ای څښتنه، ته عادل یې، ستا قوانین عادلانه دي. هغه اصول چې تا ورکړيدي هغه په پوره توګه مناسب او صحیح دي" (زبور۱۱۹: ۱۳۷- ۱۳۸).

خدای خپل قوانین دخپل خدمتګار موسی په وسیله خپل قوم ته ورکړل. په هغې زمانه کښې ډیرخلک د خدای په باره کښې په ډیرو شیانو باندې پوهیدل، لیکن د هغه قوانین چې د هغه د شخصیت ښکارندوی وو، هغه یې نه پیژندل. بیا خدای خپل بشپړ قانون د عبرانیانو قوم ته چې هغه په وخت کښې غوره کړ کله چې هغه د سینا په غره کښې خپل حکمونه موسی ته ورکړل، څرګند کړل. هغه د موسی د لسو حکمونو په نوم مشهور دي. د تثنیې د کتاب په پنځم فصل کښې موسی د اسرائیلو ټول قوم دې ته تشویق کړ چې د دغو قوانینو اطاعت وکړي (خروج ۱۹- ۳۱ فصلونه).

دغه قوانین د خدای د لوظ یوه نښه وه. که هغوی ورځخه تابعداري کړی وای نو خدای به هم هغوی ته برکت ورکړی وای (تثنیه ۵: ۳۲- ۳۳ او اول آیت). حتی اوس هم چې مونږ د عیسی مسیح د مرګ په وسیله دخدای اولادونه یو، دا به ښه وي چې دا لس حکمونه په پام کښې ونیسو. هغه د ټولو انسانانو دپاره دي. بغیر له هغو څخه به مونږ ونشوکولی چې یوه سالمه، بامقصده او یوه ښه ټولنه ولرو. راځئ چې هغو ته یوه لنډه کتنه وکړو:

۱) بغیر له خدای څخه د بل چا عبادت مه کوئ.

۲) د عبادت دپاره هیڅ قسم بتان مه جوړوئ.

۳) د خدای نوم د خرابو مقصدونو دپاره مه استعمالوئ.

٤) د سبت ورځ ولمانځئ.

٥) د خپل مور او پلار احترام کوئ.

٦) قتل مه کوئ.

۷) زنا مه کوئ.

۸) غلا مه کوئ.

۹) په چا باندې په دروغو تور مه لګوئ.

۱۰) د بل چا ښځې یا مال ته د طمعې په سترګه مه ګورئ.

خدای دا قوانین د دې دپاره مونږ ته راکړل چې مونږ آرام ژوند ولرو. دا قوانین مونږ ته دا خبره څرګندوي چې هغه د محبت خدای دی.

دا یاد ساتئ چې ستاسو ښښتن خدای تاسو اصلاح کوي او سزا درته درکوي، لکه څنګه چې یو پلار خپل ماشومان اصلاح کوي او سزا ورته ورکوي. نو بیا هغه کار وکړئ کوم چې خدای درته د هغو حکم کړی دی او د هغه د قوانینو په مطابق ژوند وکړئ او د هغه احترام وکړئ (تثنیه ۸: ٥- ٦).

د اسرائیلو قوم همیشه د دې قوانینو څخه پیروي نه کوله او سزا به ورته ورکول کیدله. خو هغوی د نورو خلکو څخه بدتر نه وو. هر سړي یا ښځې د دې حکمونو څخه د یو یا زیاتو حکمونو په ماتولو سره د خدای په مقابل کښې ګناه کړې ده. حتی په ځینو حالاتو کښې مذهبي خلک هم د هغو څخه د ځینو په عملي کولو کښې پاتې راغلي دي.

یو ځل یو ښه مذهبي ځوان عیسی ته راغی (مرقس ۱۰: ۱۷- ۲۲). هغه غوښتل په دې پوه شي چې کوم کار باید وکړي ترڅو آبدي ژوندون ترلاسه کړي. عیسی د هغه څخه د موسی د قوانینو نه د پنځم قانون په باره کښې سوال وکړ او هغه په غرور سره ځواب ورکړ چې هغه ټول یې عملي کړي دي. بیا عیسی هغه ته په مینه وویل، "هر څه چې لرې، هغه خرڅ کړه او غریبانو ته یې ورکړه او ما پسې راځه." د خدای کلام وایي چې هغه په خفګان سره له هغه ځای‌څخه لاړ، ځکه چې هغه دولتمند و. زمونږ په فکر هغه د دولت سره زیاته مینه لرله نسبت دې ته چې د خدای د زوی تابعداري وکړي. دولت د هغه خدای و، نه څښتن. بې له دې چې پوه شي هغه اولنی حکم مات کړ. په حقیقت کښې هغه معیار چې خدای زمونږ دپاره ټاکلی دی، هغه ډیر اوچت دی او هیڅ څوک نشي کولی چې هغه په خپل قوت سره عملي کړي. پولوس په خپله د رومیانو د رسالې په ۷:۲۱- ۲۵ کښې وایي چې که څه هم مونږ پوهیږو چې د خدای قوانین صحیح دي او دا غوښتنه کوي چې باید نیکي وکړو، خو مونږ نشوکولی چې په خپل انساني طبعیت باندې غلبه

حاصله کړو. خو له نیکه مرغه چې خدای د دې موضوع دپاره ځواب لري. "هغه څه چې شریعت د نفساني طبیعت د کمزورۍ له امله ونشو کړای چې عملي یې کړي، هغه کار خدای سرته ورساوه، هغه خپل زوی د جسماني او ګناهکار انسان په شکل کښې د انسان دګناهونو د لیرې کولو به خاطر راولیږه او په دې ډول یې ګناه په انساني ذات کښې محکومه کړه. خدای داسې وکړل ترڅو د شریعت حکمونه زمونږ په وسیله چې په خپل انساني طبیعت کښې ګیر نه یو، بلکه د خدای د روح اطاعت کوونکي یو، عملي کړي" (رومیان ۸: ۳- ٤).

عیسی د انسان د زوی او دخدای د زوی په توګه ټول شریعت مکمل کړ (متي ۵: ۱۷). د هغه د مرګ په وسیله زمونږ خطاګانې بخښل کیږي او د هغه د روح په وسیله دا زده کوو چې د خدای د حکمونو اطاعت وکړو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

3. زبور ۱۱۹: ۳۳- ۳۵ خپل د یاداشت په کتابچه کښې ولیکئ او هغه د خپلې دعا یوه برخه وګرځوئ. "ما دې د خپلو حکمونو په تابعدارۍ کښې ټینګ وساته ځکه چې په هغو کښې مې خوشحالي موندلې ده. ما سره دا شوق پیداکړه چې نسبت دولت ته ستا د قوانینو تابعداري وکړم. د بې ارزښته شیانو څخه مې لیرې وساته، زما سره نیکي وکړه لکه څنګه چې دې وعده کړې ده".

4. هغه صحیح عبارت چې د خدای د شریعت سره په تړاو کښې صحیح دی، په ګوته کړئ:

أ) د خدای شریعت کامل دی.

ب) ټول شریعت چې موسی ته ورکړل شوی دی، هغه یوازې د عبرانیانو دپاره دی.

ج) انسانان کولی شي چې په ډیرې اسانۍ سره شریعت عملي کړي.

د) خدای خپل حکمونه ددې دپاره راکړیدي چې صحیح او ښه ژوند ولرو.

ه) لس حکمونه په اوسني وخت کښې په کار نه دي.

و) مونږ روح القدس ته اړتیا لرو ترڅو وکولی شو د دې حکمونو اطاعت وکړو.

5. که چیرې مخکښې مو لس حکمونه نه پیژندل، اوس هغه ولیکئ او په یاده یې زده کړئ او د خدای د روح څخه وغواړئ چې تاسو سره په هغو باندې په عمل کولو کښې مرسته وکړي.

## د عیسی تعلیمات

یو ځل یو ښوونکي د عیسی څخه د خدای د حکمونو په باره کښې یو سخت سوال وکړ او پوښتنه یې ورڅخه وکړه: "ای استاده، د شریعت د حکمونو څخه کوم یو حکم ډیر لوی دی؟" عیسی په ځواب کښې د لسو حکمونو څخه کوم یو انتخاب نکړ، بلکه هغه د زړې لوظنامې یو حکم غوره کړ چې په هغه کښې د شریعت اولني څلور حکمونه شامل وو. "د زړه له

کومي او خپل ټول قوت سره د څښتن خدای سره مینه وکړئ" (تثنیه ٦: ٥).

که چیرې تاسو د خدای سره مینه کوئ، یوازې عبادت یې وکړئ او د هغه نوم غلط مه استعمالوئ او څه چې د هغه د رضا په خاطر لاژم دي هغه وکړئ. محبت به د خدای څخه ستاسو د اطاعت کولو یوه انګیزه وي، په همدې خاطر عیسی د ښوونکي په ځواب کښې د دوهم مهم حکم یادونه وکړه کوم چې په زړه لوظنامه کښې ذکر شوی دی او په هغه کښې اخرني پنځه حکمونه شامل دي: "د خپل ګاونډي سره د خپل ځان په شان مینه وکړئ" (لاویان ١٩: ١٨).

که چیرې تاسو د خپلو ګاونډیانو سره مینه ولرئ نو هغه هیڅکله نه وژنئ او د هغه ښځه او مال به وانخلئ او په ژوند کښې به د هغه دپاره ښیګڼه غواړئ. دا محبت د روح میوه ده. محبت د مسیحیانو په اعمالو کښې چې د روح القدس څخه ډک دي لیدل کیږي. کله چې عیسی غوښتل چې د خپلو شاګردانو څخه لاړ شي، هغو ته یې لارښوونې وکړې. په هغه باندې خپل شاګردان ګران وو، او هغه خپلو شاګردانو ته ګران و. عیسی هغوی ته وویل، "که چیرې زما سره مینه کوئ نو زما په حکمونو باندې عمل وکړئ (یوحنا ١٤: ١٥). او هغوی ته یې وعده ورکړه چې هغوی ته به یو مرسته کوونکی راولیږي چې ورته دا زده کړي چې څرنګه اطاعت وکړي (یوحنا ١٤: ١٦- ١٧ او ٢٦). نو هغوی ته یې وویل: "دا زما حکم دی چې یو د بله سره مینه کوئ، لکه څنګه چې ما تاسو سره مینه کوله. له دې

څخه ډیر لوی محبت بل نشته چې څوک د خپلو دوستانو په خاطر له خپل ځان څخه تیر شي" (یوحنا ۱۵: ۱۲- ۱۳).

د عیسی محبت یوه عملي بڼه درلودله. هغه زمونږ دپاره ځینې کارونه وکړل. هغه خپل ژوند له لاسه ورکړ ترڅو مونږ ته خلاصون راکړي. اوس هغه غواړي چې مونږ هم همداسې کار وکړو. پولوس رسول چې دا موضوع ښه درک کړې وه، فرمایي: "د یو بل بارونه یوسئ او په دې ډول به د عیسی قانون عملي کړئ" (ګلتیان ۶: ۲).

مونږ باید خپل محبت خپل ښښتن ته د نورو سره په نیکې کولو سره ښکاره کړو. ایا د لومړي درس څخه مو دا په یاد دي چې دخدای مقصد د خپلو اولادونو دپاره دا دی چې هغوی دې ښه کارونه وکړي؟ اوس مونږ پوهیږو چې دا د عیسی حکم دی. هغه محبت چې کار کوي هغه د خدای د پادشاهۍ مرکزي حکم دی. خو مونږ ولیدل چې خدای عادل هم دی. په دې اساس، زمونږ عملي محبت باید په سمه لاره حرکت وکړي. د عیسی تعلیم دواړه اړخونه په نظر کښې نیسي. په متي ۵: ۲۷- ۲۸ کښې په هغې موعظه کښې چې د غره په سر کښې وشوه عیسی وویل چې مونږ باید یوازې د دوستانو سره مینه ونکړو بلکه د خپلو دښمنانو سره هم مینه وکړو ترڅو د خپل آسماني پلار اولادونه شو (متي ۵: ۴۳- ۴۵).

د عیسی حکمونه د ژوند د نوې طریقې معنی لري. زمونږ دعاګانې او صدقې باید پټې وي، د دې دپاره نه چې مونږ ځان

ښودنه وکړو، بلکه زمونږ ټول کارونه باید د خدای په خاطر وي نه د خلکو د صفت په خاطر. باید ریاکار و نه اوسو ځکه چې ریاکاري یوازې ظاهري شکل لري. عیسی خپلو شاګردانو ته وویل چې خدای انګیزو او کړو وړو ته لکه د عمل په شان ګوري. د عیسی تعلیم یو مثبت تعلیم دی. هغه د داسې کارونو لست نه دی چې مونږ یې باید ونکړو. بلکه هغه څه چې د قانون څخه ډیر اوچت دي، مونږ ته څرګندوي. یعنې دخدای او ګاونډي سره مینه کول. هغه مونږ ته دا حکم کوي: "تاسو باید تر هر څه د مخه د خدای د پادشاهۍ او د هغه د غوښتنو د پوره کولو دپاره کوښښ وکړئ. په هغه وخت کښې به دا ټول شیان تاسو ته هم درکړل شي" (متي ٦: ٣٣).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

6. هغه څه چې عیسی مونږ ته ویلي دي چې هغه وکړو، د هغه څه سره په ضدیت کښې دي کوم چې زمونږ ذات او طبعیت یې غواړي. هغه حکمونه په ګوته کړئ چې د غره په موعظه کښې وویل شول او د هغو د عملي کولو په خاطر د روح القدس مرستې ته اړتیا لیدل کیږي:

أ) د سختیو په وخت کښې خوشحاله اوسئ.

ب) کله چې څوک درسره بد وکړي د هغوی نه بدل مه اخلئ.

ج) دخپلو دښمنانو سره مینه وکړئ.

د) خپلې صدقې پټې ورکړئ.
ه) څوک چې درسره بد کوي تاسو يې وبخښئ.
و) نور خلک د خپل قضاوت لاندې مه نيسئ.

7. د دې حکمونو څخه په کوم يو باندې عمل کول سخت دي؟ هغه وليکئ او دعا وکړئ ترڅوخدای تاسو سره په هغه باندې په عمل کولو کښې مرسته وکړي. بيا وليکئ چې د خدای روح له تاسو سره څنګه مرسته وکړه چې هغه پوره کړئ.

## د رسولانو لارښودنې

وروسته لدې چې عيسی د خپل پلار حضور ته آسمان ته لاړ، د هغه رسولانو د خلاصون زيری ټولو خلکو ته ورساوه. د هغو څخه ځينې يې يهوديان وو، هغوی په آسانۍ سره د رسولانو په خبرو باندې پوهيدل او د محبت قانون يې چې عيسی ورکړی و زده کړی و. خو ځينې خلک د نورو هيوادونو څخه وو چې هغوی د خدای په اړه ربنتينې آګاهي نه درلودله او رسولانو بايد هغوی ته ابتدايي شيان ورزده کړي وای. دا خلک د مختلفو مذهبونو لرونکي وو او هغوی بايد دا زده کړي وای چې څرنګه کولی شي چې نوی ژوند ولري. د هغوی پخوانی ژوند بدکاره ژوند و او رسولانو ته لازم و چې هغوی ته يې د مسيح د حکمونو په باره کښې تعليم ورکړی وای. مونږ د رسولانو تعليم په مقدس کتاب کښې ليدلی شو. هغوی د عيسی په شان تعليم ورکاوه او خلکو ته به يې ويل چې د عيسی حکمونه څرنګه د هغوی سره د هغوی د ژوند په ستونزو کښې مرسته کولی شي. د مثال په ډول، يوحنا رسول فرمايي:

"ای زما زامنو، زمونږ محبت باید یوازې خبرې کول او بحث کول نه وي، دا باید یو حقیقي محبت وي کوم چې خپل ځان د عمل په وسیله ښکاره کوي" (اول یوحنا ۳: ۱۸).

یعقوب د اسرائیلو دولسو قبیلو ته چې په ټوله دنیا کښې خپاره شویدي، یوه رساله ولیکله (یعقوب ۱: ۱). هغه هم غوښتل چې خلک د مسیح د حکمونو څخه پیروي وکړي. هغه ټول خلک تشویق کړل چې د شاهانه قانون څخه په پیروي کولو سره ښه کارونه وکړي (۲: ۸). یعنې دا چې د خپل ګاونډي سره د خپل ځان په شان مینه وکړي. بیا یې هغه په خپل ژوند کښې عملي کړ."خو که چیرې تاسو د خلکو سره د هغوی د ظاهري شکل په مطابق رفتار وکړئ نو تاسو به د ګناه مرتکب شئ" (یعقوب ۲: ۹). نژادي توپیر که په هر شکل وي، یعنې که هغه د یو خاص نژاد، یوې خاصې ټولنیزې طبقې، او یا خاص جنس په اړوند وي، دا ټول د محبت د شریعت په خلاف دي. مسیحیت زمونږ کړو وړو ته دخلکو په وړاندې بدلون ورکوي. د یعقوب په رساله کښې داسې لولو: "د خدای په نزد پاکه او بې مقصده دینداري دا ده چې کله یتیمان او کونډې ښځې د کوم مصیبت سره مخامخ کیږي نو په هغوی باندې باید پام وکړو او خپل ځان د دنیا د فساد څخه لیرې وساتو" (یعقوب ۱: ۲۷).

مخکښې له دې چې پولوس رسول مسیحي شي، هغه د انساني قوانینو غلام و. ولې وروسته پوه شو چې دا قوانین هغه ته خلاصون نشي ورکولی، ځکه چې خلاصون زمونږ د کوښښونو په نتیجه کښې نه رامنځته کیږي (افسیان ۲: ۸- ۹).

له دې سره سره ، کله چې مونږ د عیسی مسیح په وسیله د خلاصون سوغات ترلاسه کوو، نو دا مسئولیت لرو چې نوی ژوند شروع کړو. پولوس مونږ ته خبرداری راکوي او فرمايي: "د کافرانو په شان ژوند مه کوئ د کومو خیالونه چې خراب او فکرونه يې تياره دي. هغوی په هغه ژوند کښې برخه نلري کوم چې خدای يې ورکوي، ځکه چې هغوی جاهلان او سخت زړه دي. ستاسو زړونه او فکرونه باید په کامل ډول سره نوي شي او خپل ځانونه په یو نوي شخصیت باندې چې په نیکۍ او حقیقي پاکوالي کښې دی او د خدای په شکل کښې راپیدا شوی دی، ملبس کړئ" (افسیان ٤: ١٧- ١٨، ٢٣- ٢٤).

پولوس د افسس کلیسا ته زیات نصیحتونه لیکي.په دې ځای کښې د یو ښه مسیحي ژوند دپاره چې د روح القدس په وسیله موندل کیږي، ډیرې ګټورې لارښوونې موجودې دي. تاسو هغه په افسیانو ٤ ، ٥ او ٦ کښې موندلی شئ.

1) همیشه عاجز، نرم او حلیمان اوسئ.
2) یو او بل په مینې سره وزغمئ.
3) نور دروغ مه وایئ، بلکه حقیقت ووایئ.
4) غلا مه کوئ او کار وکړئ.
5) د مسکینانو سره مرسته کوئ.
6) ضرري خبرې مه کوئ، بلکه یوازې ګټورې خبرې وکړئ.

7) ترخه یا قهرجن مه اوسئ، بلکه نرم او له محبت څخه ډک زړونه ولرئ.

8) یو او بل وبخښئ.

9) ستاسو ترمنځ دې د زنا او د نورو د بې عزتۍ او طمعې په باره کښې هیڅ شی نه وي.

10) کوښښ وکړئ هغه شیان زده کړئ کوم چې خدای ورباندې خوشحالیږي.

11) په شرابو باندې ځانونه مه مستوئ بلکه د خدای د روح څخه ډک شئ.

12) د هر شي په خاطر د خدای شکر ادا کړئ.

13) د یو او بل اطاعت وکړي.

14) ای ښځو، د خپلو میړونو داسې اطاعت وکړئ لکه څنګه چې د خدای اطاعت کوئ.

15) ای میړونو، لکه څنګه چې په مسیح باندې کلیسا ګرانه وه او خپل ځان یې د هغې دپاره له لاسه ورکړ، تاسو هم باید دخپلو ښځو سره مینه وکړئ.

16) ای اولادونو، د خپلو میندو او پلرونو اطاعت وکړئ.

17) ای میندو او پلرونو، د خپلو اولادونو سره داسې سلوک مه کوئ چې هغوی په

قهر شي، بلکه د مسيحي دسپلين او لارښوونو په
وسيله يې روزنه وکړئ.

18) د خدای په وسلو باندې ځانونه
سنبال کړئ.

19) هميشه د روح القدس د لارښوونې
لاندې دعا وکړئ.

څه عجيبه نصيحتونه دي! دا د هغو کارونو لست نه دی چې مونږ يې بايد ونکړو، بلکه دا د ښو کارونو لست دی چې مونږ يې بايد سرته ورسوو. بايد بد کارونه پريږدو ترڅو نيک کارونه وکولی شو. د ښو کارونوکول يوازې دا نه چې مونږ زيات خوشحالوي بلکه مونږ نورهم خدای ته ورته والی پيدا کوو. هغه څه چې پولوس يې مونږ ته رايادوي، د هغه مقصد دا دی چې زمونږ ژوند بايد د محبت د قانون په اساس وي.

"څرنګه چې تاسو د خدای ګران اولادونه ياست، نو کوښښ وکړئ چې د هغه په شان شئ. د محبت له مخې ژوند وکړئ او د هغه محبت څخه پيروي وکړئ کوم چې عيسی مسيح مونږته د خپلې قربانۍ په وسيله وښود. هغه خپل ځان د خوشبويه نذرانې په شان خدای ته وړاندې کړ" (افسيان ٥: ١- ٢).

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

8. هغه عبارت چې د عيسی مسيح د محبت د حکم سره په تړاو کښې صحيح دی، په ګوته کړئ:

أ) خپل زوی ته په دې خاطر سزا ورکړئ چې هغه په لاره باندې ورو ورو ځي.
ب) محتاجې کورنۍ سره مرسته وکړئ.
ج) د هغه چا سره مرسته وکړئ کوم چې د وظيفې پسې ګرځي.
د) په هغه ډريور باندې لعنت ووايئ چې د هغه موټر نژدې دی چې تاسو ووهي.
ه) د خپلو مذهبي مشرانو دپاره دعا وکړئ.
و) د خپلو مشرانو احترام کوئ.

9. مونږ ټولو د خپل ژوند په ځينو برخو کښې د مسيح د محبت فرمان نه دی په ځای کړی. د هغو دپاره دعا وکړئ او د خدای د روح څخه وغواړئ چې تاسو سره مرسته وکړي.

10. په خپله کتابچه کښې يو جدول جوړ کړئ او د دوه هفتو دپاره خپلې کړنې چې په مختلفو برخو کښې يې صورت نيولی د دې عنوانونو لاندې ياداشت کړئ: الف) زما خپل ژوند ،ب) زما د کورنۍ ژوند. ج) په ټولنه کښې زما ژوند ، د) په کليسا کښې زما ژوند. دا وليکئ چې په دې حالاتو کښې تاسو څومره تابعداري کړې ده. تاسو به ووينئ چې دوهمه هفته به د اولې هفتې څخه ډيره آسانه وي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

٦- ټول ستاسو د توان څخه بهر دي او تاسو د خدای د روح مرستې ته اړتیا لرئ.
١- الف) غلط
ب) صحیح
ج) صحیح
د) صحیح
ه) صحیح
٧- ستاسو خپل ځواب
٢- کیدای شي چې ستاسو لست زمونږ د لست سره فرق ولري. لیکن دلته یو څو مثالونه شته:
دولت- مالیات، د عسکرۍ خدمت.
خدای- لسمه برخه، په کلیسایي کارونو کښې د خدای خدمت کول.
٨- ب، ج،ه، و
٣- ستاسو خپل ځواب
٩- ستاسوخپل ځواب
٤- الف) د خدای قوانین کامل دي.
١٠- ستاسو خپل ځواب. د مسیح د محبت د حکم اطاعت وکړئ تاسو به خوشحاله اوسئ.
٥- ستاسو خپل ځواب
تاسو اوس دې ته تیار یاست چې د کتاب د اولنیو څلورو امتحان ورکړئ.

پنځم لوست

# خدای ستاسو د ژوند معیارونه ټاکي

فرض کړئ غواړئ چې یو بایسکل واخلئ او تاسو په دوکان کښې یو ښکلی بایسکل لیدلی دی او تاسو همیشه غوښتل چې همداسې بایسکل واخلئ. خو څرنګه چې تاسو د خدای اولاد یاست، نو نشئ کولای چې بې له فکر کولو څخه کوم کار وکړئ. تاسو نه غواړئ چې په خپلې کورنۍ باندې فشار راوړئ او یا زیاتې پیسې قرض کړئ. باید تصمیم ونیسئ چې څه وکړئ. په مقدس کتاب کښې دا نه دي لیکل شوي چې بایسکل واخلئ یا یې وانخلئ. ځکه چې په هغې زمانه کښې بایسکل نه و. او له بلې خوا د هغه اخیستل کوم ښه کار یا بد کار نه دی. نو خدای د بایسکل په اخیستلو کښې کوم رول نه لري. آیا مقدس کتاب زمونږ سره مرسته نشي کولی چې کوم تصمیم ونیسو؟ مقدس کتاب وایي چې د هر نیک کار دپاره پوره تیار اوسئ (دوهم تیموتیوس ۳: ۱۷).

په هر نیک کار کښې د تصمیمونو نیول هم شامل دي.
مقدس کتاب د جادوګرۍ کوم شی نه دی چې د هرې موضوع دپاره د "هو" یا "نه" ځواب ولري. بلکه دا یو لارښود دی چې باید ورځخه کار واخیستل شي، ځکه چې خدای مونږ ته دا حق راکړی دی چې تصمیم ونیسو. خدای زمونږ سره د خپلو اولادونو په شان رویه کوي، نه د غلامانو په شان چې یوازې امر ورته کیږي.

په دې درس کښې به د مقدس کتا ب ځخه اصول او لارښوونې زده کړو چې په سختو پریکړو کښې به زمونږ سره مرسته وکړي ترڅو صحیح انتخاب ولرو.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ اصول هغه معیارونه دي چې د ژوند دپاره دي
- ❖ د مقدس کتاب د اصولو پیدا کول
  - د نظارت اصل
  - د خدمت اصل
- ❖ د مقدس کتاب د اصولو ځخه کار اخیستل

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- ▪ وکولی شئ چې د خدای د کلام ځخه په کار

اخیستلو سره په خپل ژوند کښې ښه تصمیمونه ونیسئ.

- د یو مسیحي د ژوند صحیح او مهم ارزښتونه د خدای دکلام په لوستلو سره درک کړئ.

## اصول هغه معیارونه دي چې د ژوند دپاره دي

قوانین تاسو ته دا وایي چې کوم کار باید وکړئ او کوم کار ونکړئ. هغه تاسو ته ښئ چې کوم اعمال غلط دي. اصول د اندازه کولو د ترازو په شان دي او هغه کولی شي تاسو سره مرسته وکړي په دې پوه شئ چې کوم کار ښه دی چې هغه وکړو. د مثال په ډول تاسو ته وایي چې ایا د بایسکل اخیستل ښه دي یا دا به ښه وي چې اوس په دې کار باندې لاس پورې نکړو.

مونږ ټول په خپل ژوند کښې د اصولو په وسیله عمل کوو. که څه هم اکثره خلک په دې نه پوهیږي. یو شریک اصل چې د ټولودپاره دی، هغه د خوند اصل دی چې وایي: "که چیرې یو شی زما دپاره ښه و او ماته یې ښه احساس راپیدا کاوه، هغه به کوم." که تاسو هم د دې اصل څخه پیروي وکړئ نو هغه بایسکل به واخلئ بې له دې چې دا په نظر کښې ونیسئ چې نتیجه به یې څه وي. کیدای شي چې ستاسو کورنۍ د مالي ستونزو سره مخامخ شي یا دا چې قرضدار شئ خو تاسو به په دې کار خپل ځان خوشحاله کړی وي. کیدای شي چې هیڅ کومه بده پیښه ونشي او حتی د بایسکل اخیستل تاسو سره

مرسته وکړي چې خپلو کارونو ته په په سمه توګه رسیدګي وشئ کړای. لیکن د بایسکل اخیستل یوازې ستاسو خپله شخصي علاقمندي وه او هغه مشکلات چې کیدای شي د هغه د اخیستلو په نتیجه کښې نورو ته رامنځته شي، په نظرکښې مو نه وي نیولي. دا هغه معیار نه دی چې عیسی په هغه باندې ژوند کاوه او مړ شو. که چیرې مقدس کتاب لرئ نو د فلیپیانو د کتاب دوهم فصل چې د مسیح د عاجزۍ او ځان تیریدنې ځرګندونکی دی ولولئ.

یو بل معیار چې خلک د هغه په وسیله تصمیم نیسي هغه د ځان ښودنې او سیالۍ کولو اصل دی. خلک د دې اصل ځخه د دې دپاره کار اخلي چې نور خلک د هغوی صفت وکړي. خلک دا خوښوي چې یو مقام یا داسې امکانات ولري ترځو نور خلک د هغه صفت وکړي. د مثال په ډول ستاسو ملګري اوهمکاران نوي بایسکلونه لري او تاسو په دې خاطر نا آرامه یاست چې د هغوی په شان نه یاست. کیدای شي چې ستاسو ګاونډیان بیخي بایسکل ونلري، خو په هر صورت تاسو غواړئ چې ګاونډیانو ته خپل ځان وښایئ. تاسو د خپل دوست ځخه بایسکل په قرض اخلئ ترڅو خپل ځان هغوی ته وښایئ.

مقدس کتاب زمونږ سره د داسې خلکو په باره کښې خبرې کوي چې غواړي د خدای په ځای، خلک د هغوی صفت وکړي (رومیان ۲: ۲۹). که چیرې مونږ یوازې د صفت پسې ګرځو، نو مونږ د مسیحي ژوند د معیار په مطابق ژوند نه کوو.

البته کولی شو چې خپل ژوند ته د دې اصولو په مطابق دوام ورکړو. خلک همیشه د خپلې رویې دپاره قانع کوونکي دلیلونه راوړي، لکه د تنبلۍ، غرور او د قدرت غوښتنې رویه. هغه څه چې باید وکړو هغه دا دي چې په مقدس کتاب کښې د مسیحي ژوند دپاره اصول راپیدا کړو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

1. کله چې غواړئ تصمیم ونیسئ چې کومه خاصه وسیله واخلئ اول فکر کوئ چې:
   أ) د هغه د اخیستلو په وسیله کولی شئ چې خپل ځان نورو ته وښایئ.
   ب) که چیرې د هغه د اخیستلو دپاره ضرورت ولرئ نو د تصمیم نیولو څخه مخکښې اول دعا وکړئ.
   ج) به دې خاطر چې هغه غواړئ نو په چټکۍ سره اقدام کوئ.
2. د هغه تصمیم په باره کښې چې نوی مو نیولی دی، فکر وکړئ چې تاسو د کوم اصل څخه پیروي کړې ده؟ که چیرې د بل اصل په باره کښې مو فکر کړی وای ، ایا ستاسو تصمیم به بدل شوی وای؟

خپل ځوابونه د هغو ځوابونو سره تطبیق کړئ کوم چې د دې برخې په اخر کښې دي.

## د مقدس کتاب د اصولو پیدا کول

د مقدس کتاب ټول اصول د محبت د اصل څخه سرچینه اخلي. د محبت اصل د خدای سره، انسانانو سره او د خپل ځان سره د مینې کولو په معنی ده. ځکه چې خدای زمونږ سره هم مینه کوي. د مقدس کتاب د محبت اصل د نورو اصولو دپاره یو اساس دی. په بل عبارت، زمونږ د ټولو کړو وړو انګیزه باید محبت وي. کله چې مونږ په خپل ژوند کښې د سوالونو سره مخامخ کیږو، د مقدس کتاب د دې اصل په پام کښې نیولو سره کولی شو چې عاقلانه تصمیم ونیسو. خو مونږ څنګه کولی شو په دې پوه شو چې د کوم اصل څخه کار واخلو؟ په بل عبارت څه باید وکړو. په مقدس کتاب کښې د دریو اصولوسره مخامخ کیږو:

۱- د مقدس کتاب هغو مثالونو ته وګورئ چې د رویې په باره کښې دي چې خدای زمونږ څخه غواړي چې څرنګه رویه وکړو او څرنګه ونکړو. د مثال په ډول د هغه ښه سامري قصه چې په خپل ګاونډي باندې یې مهرباني کړې وه. عیسی وویل، "نو لاړ شه او همداسې وکړه" (لوقا ۱۰: ۳۷). مهرباني کول د ژوند دپاره ښه معیار دی.

۲- هغه بیانونه او وړاندیزونه ولولئ کوم چې په مقدس کتاب کښې د مسیحي ژوند په اړوند ورکړل شویدي. مقدس کلام مونږ ته قصې او حکمونه په اختیار کښې راکړي دي چې زمونږ سره مرسته کوي چې ښه مسیحي ژوند ولرو. د مثال په

ډول مقدس کلام وايي، "هغه يې په سخاوت سره محتاجانو ته ورکوي" (دوهم کورنتيان ۹: ۹). دغه اصل او نور اصول مونږ ته دا رابنايي چې څرنګه بايد ژوند وکړو.

۳- د ټولوڅخه مهمه دا ده چې د عيسی مسيح اعمالو ته په غور سره وګورو. که چيرې مونږ غواړو چې د هغه په شان شو، بايد پوه شو چې هغه څنګه ژوند کاوه. "نو همدا فکر دې ستاسو سره هم وي کوم چې د عيسی مسيح سره و" (فليپيان ۲: ۵).

د دې طريقو څخه په کار اخيستلو سره تاسو کولی شئ داسې اصول راپيدا کړئ چې تاسو سره به ستاسو د ژوند په ستونزو کښې مرسته وکړي. دا ياد ساتئ چې دغه اصول خدايي اصول دي. دا هغه حکمت زياتوي کوم چې خدای يې د خپل کلام په وسيله ورکوي. مونږ کولی شو د هغه حکمت د مقدس کتاب د لوستلو او دعا په وسيله ترلاسه کړو. د هغه د حکمت موندل پخپله د مقدس کلام اصل دی. د دې دپاره چې حکيمان اوسئ نو بايد عاجز، تابعدار او حوصيله مند واوسئ. د يعقوب رساله وايي:" که چيرې ستاسوڅخه څوک حکمت ته محتاج وي بايد دعا وکړي او خدای به يې ورته ورکړي" (يعقوب ۱: ۵).

دا آيت مونږ ته وايي چې د حکيم کيدلو دپاره بايد اول خپل ځان عاجز کړو. عاجزي په دې معنی ده چې مونږ په ټولو ځوابونو باندې نه پوهيږو او د خدای مرستې ته اړتيا لرو. همدارنګه بايد په دې باندې باور ولرو چې د خدای سره ټول ځوابونه شته. بل قدم دا دی چې بايد فرمانبردار اوسو او لکه څنګه چې عيسی وويل چې مونږ بايد د خدای حضور ته ورشو

او دعا وکړو. راځئ چې د خدای د رحمت څخه ډک تخت ته ورنژدې شو ترڅو رحم راباندې وشي او د احتیاج په وخت کښې د هغه رحمت ترلاسه کړو (عبرانیان ٤: ١٦).

او بالاخره د ځواب موندلو په انتظار کې و اوسو. دومره صبر وکړو ترڅو په دې باندې ډاډمن شو چې هغه دخدای اراده ده. دخدای کلام ولولو او دخدای د روح څخه وغواړو چې د تصمیمونو په نیولو کښې زمونږ سره مرسته وکړي.

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

3. کومه لاره تاسو سره مرسته کوي چې د مقدس کتاب څخه یو داسې اصل راپیداکړئ چې دتصمیمونو په نیولو کښې درسره مرسته وکړي؟
   أ) د خدای د کلام لوستل.
   ب) کوښښ وکړئ چې په خپله یوه نوې نظریه پیدا کړئ.
   ج) خپلو دوستانو ته منتظر اوسئ ترڅو تاسو ته ووایي چې څه وکړئ.
4. په دې برخه کښې د ژوند دپاره د خدای د کلام په اصولو باندې د پوهیدلو په خاطر ډیرمثالونه او وړاندیزونه ورکړل شویدي. کله چې دا فصل لولئ دعا وکړئ ترڅو ښتن درته حکمت درکړي چې پخپله دا اصول درک کړئ او د هغو په مطابق ژوند وکړئ.

خپل ځوابونه د هغو ځوابونو سره مقایسه کړئ کوم چې د

فصل په اخر کښې لیکل شوي دي.

## د نظارت اصل

مونږ چې هرڅه لرو هغه دخدای له خوا څخه دي، یعنې هغه خدای چې ټول جهان یې پیدا کړی دی او په خپل قدرت سره هغه ساتي، هغه خدای چې فصلونه او د هغو ښکلا یې پیدا کړې ده. نو له همدې کبله هرڅه چې لرو د هغه دي، په شمول د کور، پیسې او خواړو.

خدای مونږ پیداکړو او مونږ ته یې شعور او قابلیت راکړ. هغه یوازې مونږ پیداکړي نه یو بلکه په عیسی مسیح کښې یې مونږ ته آبدي ژوند راکړ. مونږ د هغه اولادونه یو، ځکه چې هغه مونږ ته دا سوغات راکړی دی.

لیکن خدای مونږ ته خاص امتیاز راکړی دی، هغه ټول شیان مونږ ته په عیسی مسیح کښې دخپل جلال دپاره راکړي دي. یعنې د هغه څه په وسیله چې مونږ یې لرو هغه ته جلال ورکړو.

زمونږ شتمني، فکري او جسماني توان او وختونه، دا ټول هغه سوغاتونه دي چې هغه مونږ ته راکړي دي ترڅو د هغو څخه په صحیح توګه ګټه واخلو او د هغه د جلال سبب شو. اصلي خاوند هغه دی او یوه ورځ به د هغو ټولو شیانو حساب زمونږ څخه غواړي، یعنې د هغو شیانو حساب چې د هغه وو او د هغو څارنه مو باید کړې وای.

ایا هغه قصه مو په یاد ده چې عیسی د دریو نوکرانو په باره

کښې بیان کړې وه؟ د هغوی بادار غوښتل چې په سفر لاړ شي، هغه خپل نوکران راوغوښتل او خپله ټوله شتمني یې هغوی ته وسپارله، هر یو ته یې د هغو د توان په مطابق یو څه ورکړل. بادار یې په دې امید و چې هغوی به د دې پیسو څخه استفاده وکړي او زیاته ګټه به لاسته راوړي. د هغو څخه دوه نفرو یو نوښت وکړ، مګر هغه دریم نفر په هغو پیسو باندې هیڅ ونکړل. هغه له دې څخه ویریده چې کیدای شي هغه پیسې ورکې کړي او کله چې د هغه بادار بیرته راشي نو ده سره به هیڅ هم نه وي. کله چې بادار یې بیرته راغی، د هغو دوو نوکرانو صفت یې وکړ او انعامونه یې ورته ورکړل. خو هغه دریم نفر ورټل شو. هغه یې یو خراب او تنبل نوکر وباله او ویې ویل چې له هغه څخه هغه پیسې چې ساتلي یې دي واخلئ او هغه وشړئ.

دا قصه زمونږ دپاره د عبرت یو درس دی، یعنې د هغه څه د ساتلو او د هغوڅخه د صحیح ګټې اخیستنې چې خدای مونږ ته راکړي دي، درس دی. د خدای کلام د نظارت د اصل په اړوند زیات تفصیلات بیان کړیدي. زړه لوظنامه د لسمې برخې په باره کښې بحث کوي. د عوایدو لسمه برخه او همدارنګه لسمه برخه محصول خدای ته ورکول. نوې لوظنامه هم د غریبانواومحتاجانوسره د مرستې په اړوند خبرې کوي. خو څښتن هغه خلک خوښوي چې په خوشحالۍسره هرڅه ورکوي. ورکړه او بخشش مونږ سره مرسته کوي چې په دې پوه شو چې هرڅه چې لرو هغه د خدای دي او دا څرګندوي چې مونږ دې ته لیوال یو چې څه چې خدای غواړي هماغه وکړو. عیسی

د شیانو په ورکړه باندې زیات تاکید کاوه خو دا یې روښانه کړه: "چا ته زیات ورکړل شوي وي، له هغه څخه به زیات غوښتل کیږي" (لوقا ۱۲: ٤۸).

بل درس چې عیسی یې مونږ ته راکوي هغه ګټورتوب دی. هغه په خپلو مثالونو کښې د هغو ونو یادونه وکړه چې میوه یې نه نیوله. د هغه دپاره دا مهمه ده چې د هغه اولادونه دې ګټور وي. هغه پوهیده چې مسیحیان به هغه وخت ګټور وي چې څه چه لري د هغو څخه کار واخلي او د هغو میوې به د هغه د جلال سبب شي. "که چیرې تاسو زیاته میوه ونیسئ نو زما د پلار جلال به ښکاره شي او په دې ډول به تاسو زما شاګردان شئ" (یوحنا ۱۵: ۸).

ګټورتوب د ښه نظارت په نتیجه کښې رامنځته کیږي او دا ګټه د هغو شیانو څخه پیداکیږي کوم چې خدای مونږ ته راکړي دي. ګټورتوب یعنې د خدای د سوغاتونو څخه د نورو سره د نیکۍ کولو او د خدای د جلال دپاره استفاده کول. پطروس رسول وایي: "هغه چا چې ډول ډول برکتونه یې ترلاسه کړي دي، د خپلو استعدادونو څخه د نورو د ښیګڼې دپاره کار واخلئ. ترڅو له دې لارې خدای په ټولو شیانو کښې د عیسی مسیح په وسیله جلال ومومي" (اول پطروس ٤: ۱۰- ۱۱).

په مسیحي ژوند کښې د نظارت اصل یعنې د دې موضوع په هکله آګاهي چې خدای ټول شیان مونږ ته د دې دپاره راکړي دي تر څو د هغو څخه په هوښیارۍ سره کار واخلو او د یو

مسئول ناظر حیثیت ولرو. خدای دا آرزو لري چې مونږ خپل ټول توان د خدای د جلال او خلکو ته د خدمت دپاره استعمال کړو.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

5. هغه عبارت په ګوته کړئ کوم چې مسيحي نظارت څرګندوي:
   أ) تاسو په خپل اضافي وخت کښې څه کوئ.
   ب) تاسو هره ورځ خپله وظيفه څنګه ترسره کوئ.
   ج) تاسو کوم رنګ کالي اغوندئ.
   د) هغه پيسې چې تاسو يې مصرفوئ.
   ه) تاسو څه شی او څرنګه مطالعه کوئ.
6. د دوهم سوال په باره کښې چې ستاسو د تصميمونو په اړوند دی، فکر وکړئ. ايا د نظارت د اصل څخه ستا په پريکړو کښې کار اخيستل شوی؟ که چيرې نه وي اخيستل شوی، ايا کولی شئ د يو تصميم په باره کښې چې دغه اصل په کښې مراعت شوی وي فکر وکړئ؟ ايا تاسو فکر کوئ چې حکيمانه تصميم مو نيولی دی؟

## د خدمت اصل

ناظران خادمان دي. د هغوی وظيفه دا ده چې هغه ټول شيان برابر کړي کوم چې بادار يې ورته سپارلي دي. هغوی بايد په دې پوه شي چې دوی له دې لپاره ګمارل شوي دي چې د

امرونو څخه پیروي وکړي. هغوی باید خپل بادار وپیژني. مقدس کتاب دا تعلیم ورکوي چې خلک قسم قسم باداران لري. ځیني یې د ګناه غلامان دي (رومیان ٦: ٢٠) او ځیني یې خپلو نفساني خواهشاتو پسې ځي (افسیان ٢: ٣ او رومیان ١٦: ١٨) زمونږ ټول ژوند باید خدای ته د خدمت په لاره کښې مصرف شي. باید تصمیم ونیسو چې په خپل ژوند کښې د چا پیروي وکړو. بادار څوک دی؟ دا هغه انتخاب دی چې یو مسیحي یې باید هره ورځ وکړي.

کیدای شي چې د یوشع داستان درته په یاد وي. هغه وعده شوې خاورې ته د خدای د قوم لارښوونه کوله. کله چې زوړ شو، قوم یې راوغوښت. هغه غوښتل چې په دې باندې ډاډمن شي چې هغوی به د خدای دپاره خپل خدمت ته دوام ورکړي. هغه په دې پوهیده چې د هغوی دپاره دا څومره آسانه خبره ده چې د نورو خدایانو عبادت وکړي. نو هغوی ته یې د خدای نیکۍ وریادې کړې او ویې ویل، "د څښتن څخه وویریږئ او په اخلاص او صداقت سره د هغه عبادت وکړئ او نور خدایان لیرې کړئ او که چیرې ستاسو نه خوښیږي چې د څښتن عبادت وکړئ نو همدا اوس فیصله وکړئ چې د چا عبادت او خدمت کوئ. خو زه او زما کورنۍ به د څښتن عبادت کوو" (یوشع ٢٤: ١٤- ١٥)

یوشع خپل تصمیم په ډاګه کړ. او هغه د ژوند تر پایه پورې د څښتن پیروي وکړه. هغه یوازې یو رهبر نه و، بلکه یو خادم هم و. همداسې رویه زمونږ د څښتن عیسی هم وه. که څه هم په هغه کښې د خدای ذات موجود و، خو هغه د خپل مقام څخه کار وانخیست. او د هغې په ځای، په دې خاطر چې هغه زمونږ

سره مينه کوله او غوښتل يې چې زمونږ خدمت وکړي، نو ځکه چې هغه درلودل هغه ټول يې په آسمان کښې پريښودل او د غلام په شکل شو (فليپيان ۲: ۷). هغه انسان شو، خو نه د يو قدرتمند رهبر يه شان چې نورو ته امر وکړي او نور مجبور کړي چې د هغه اطاعت وکړي، بلکه " څرنګه چې هغه د يو انسان په شکل په مونږ کښې ظاهره شو، خپل ځان يې عاجز کړ او د تابعدارۍ په اساس حاضر شو چې مرګ او حتی په صليب باندې يې مرګ قبول کړ" (فليپيان ۲: ۸).

عيسی د خدای او انسانانو دواړو خادم و. په خپل ژوند کښې يې د خلکو سره مرسته کوله او ناروغانو ته به يې شفا ورکوله او دخپل مرګ په وسيله يې انسانان د ګناهونو او جهنم څخه خلاص کړل. هغه د خپلو شاګردانو څخه هم همدا اميد درلود.

يوه ورځ د هغه شاګردانو په خپل منځ کښې بحث کاوه چې د هغوی څخه څوک د عيسی په پادشاهۍ کښې له ټولو اوچت مقام ولري. عيسی هغوی ته وويل چې بې ايمانان غواړي چې په نورو باندې واک ولري. بيايې هغوی ته د خدمت کولو دپاره دا اصول ورکړل: "که ستاسو څخه څوک غواړي چې ترټولو لوی شي، هغه بايد د نورو خدمتګار شي. که څوک غواړي چې اول شي، هغه بايد د ټولو غلام شي- لکه د انسان د زوی په شان. هغه د دې دپاره رانغی چې نور د هغه خدمت وکړي، بلکه د دې دپاره چې خدمت وکړي او خپل ځان د ډيرو دپاره قربان کړي" (متي ۲۰: ۲۶- ۲۸).

د خدمت کولو هغه اصل چې مقدس کتاب يې وايي هغه د انساني ځان ښودنې د اصل سره په ضديت کښې دی. د دې کار دپاره بايد عاجزي اختيار کړو او خدای او انسان ته د خدمت دپاره ليوالتيا ولرو. دې آيت ته پام وکړئ: "د يو او بل سره په ورور ګلوۍ سره مينه وکړئ او هر يو دې د خپل ځان څخه زيات دنورو احترام وکړي. په نه ستړې کيدونکې هڅې او په شوق او علاقمندۍ سره د خدای خدمت وکړئ" (روميان ۱۲: ۱۰-۱۱). "سخت کار کوئ او تنبلي مه کوئ. د زړه له کومي او سرښندنې سره د څښتن خدمت وکړئ. د هغه احترام په خاطر چې مسيح ته يې لرئ، د يو او بل تابعدار اوسئ" (افسيان ۵: ۲۱).

"... په مينه د يو او بل خدمت وکړئ" (ګلتيان ۵: ۱۳).

"زمونږ په ژوند کښې د خدمت کولو اصل زمونږ د شخصي قدرت په وسيله ناشونی دی، بلکه د خدای د قدرت په وسيله کولی شو د خدای او خلکو خدمت او اطاعت وکړو او حتی د مسيح په خاطر زحمت وباسو. زمونږ وړتيا د خدای له طرفه ده" (دوهم کورنتيان ۳: ۵).

پولوس مونږ تشويقوي چې په خپل ټول قوت او وجود سره د هغو خلکو خدمت وکړو کوم چې د ګناه په غلامۍ کښې دي. "هرڅه چې کوئ هغه د زړه له کومي کوئ، لکه څنګه چې د څښتن خدمت کوئ نه د انسان. ياد ساتئ چې خدای به تاسو ته هغه انعام درکړي کوم چې هغه د خپل قوم دپاره ساتلی دی. ځکه چې عيسی ستاسو حقيقي بادار دی چې تاسو يې خدمت

کوئ“ (کولوسیان ۳: ۲۳- ۲٤).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

7. هغه عبارت په ګوته کړئ کوم چې د یو مسیحي په ژوند کښې د خدمت اصل څرګندوي. همدارنګه هغه عبارت هم په ګوته کړئ کوم چې د ځان ښودنې اصل څرګندوي. او ولیکئ چې څنګه کولی شئ هغه د خدمت په اصل باندې بدل کړئ:

أ) ناروغ او محتاج شخص ته د ډوډۍ ورکول.

ب) هغه دوست ته وخت نه ورکول کوم چې مرستې ته اړتیا لري.

ج) کار کول یوازې د وظیفې د سرته رسولو دپاره.

د) د کلیسا د مشرانو سره مرسته.

ه) د خپلې علاقې او انتخاب له مخې کار کول.

و) د کورنۍ د اړتیاو د پوره کولو په خاطر کار کول.

ز) خدمت کول، حتی که نورو خلکو تاسو ته پاملرنه هم نه وي کړې.

خپل ځوابونه د هغو ځوابونو سره مقایسه کړئ کوم چې د فصل په اخر کښې دي.

## د مقدس کتاب د اصولو څخه کار اخیستل

نظارت او خدمت د مقدس یوازیني دوه اصولونه دي. د بایسکل مثال د دې دوه اصولو د روښانتیا دپاره یوه ښه نمونه ده. مګر دا په یاد لرئ چې د محبت قانون د ډیرو اصولو وړاندیزونه کوي، خو مونږ وخت نلرو چې هغه ټول مطالعه کړو. د مثال په ډول بخښنه (افسیان ٤: ٣٢)، آرامي (اول تسالونیکیان ٥: ١٣) او خوشحالي (اول تسالونیکیان ٥: ١٦).

دا ډیره مشکله ده چې دا اصول عملي کړو. که چیرې تاسو په خپل قوت باندې تکیه وکړئ نو تاسو به ونشئ کولی چې د هغو په مطابق ژوند وکړئ. خو تاسو یوازې نه یاست، په تاسو کښې د خدای روح دی چې هغه تاسوته قوت درکوي. یاد ساتئ چې تاسو دخدای اولادونه یاست او تاسو آزاد انتخاب لرئ چې ښه کارونه وکړئ. د پولوس خبرې رایادې کړئ چې وایي: "هغه خلک چې د خدای د روح په وسیله یې لارښوونه کیږي هغه د خدای زامن دي، ځکه هغه روح چې خدای تاسو ته درکړی دی هغه تاسو غلامان نه کوي او ستاسو د ویرې سبب نه ګرځي، بلکه هغه روح ستاسو څخه د خدای اولادونه جوړوي" (رومیان ٨: ١٤- ١٥).

د خدای د روح په مرسته کولی شئ چې په خپلو ورځینیو مسایلو کښې د مقدس کتاب د اصولو څخه کار واخلئ. د صحیح تصمیمونو په نیولوسره د خدای د جلال سبب شئ او یو بریالی مسیحي اوسئ. دا د خدای اراده ده او هغه باید پوره کړو. یوحنا فرمایي: "ځکه چې د خدای سره مینه کول دا معنی لري چې مونږ د هغه د حکمونو تابعداري کوو او د هغه

حکمونه زمونږ دپاره ډير مشکل نه دي، ځکه چې د خدای هر اولاد کولی شي چې جهان ته ماتې ورکړي. او مونږ دا کاميابي د ايمان په وسيله لاسته راوړلی شو" (اول يوحنا ۵: ۳-۴).

تاسو کولی شئ چې په خپلو مشکلاتو باندې بريالي شئ، که هغه ډير زيات هم وي. ستاسو بری د څښتن د مينې او قدرت په وسيله دی (روميان ۸: ۳۷- ۳۹).

څښتن تاسو ته قدرت درکوي چې د خدای د کلام په اصولو باندې په صحيح ډول پوه شئ او د خدای د روح په لارښوونه د هغه څخه کار واخلئ. هر مسيحي بايد دا اصول په پام کښې ونيسي. "ټول شيان امتحان کړئ او هغه څه چې ښه وي د خپل ځان دپاره يې وساتئ. د هر قسم بدۍ څخه ځانونه ليرې ساتئ" (اول تسالونيکيان ۵: ۲۱- ۲۲).

راځئ چې يو ځل بيا د نظارت د اصل په اړه د بايسکل د اخيستلو موضوع ته راشو (فرض کوو په هغه ځای‌کښې چې اوسيږئ هلته کولی شئ چې بايسکل وځغلوئ او پوهيږئ چې څنګه بايسکل وځغلوئ).

۱- ايا د هغه د اخيستلو دپاره پوره پيسې لرئ؟ ايا په دې باندې صادقانه ايمان لرئ چې څښتن کولی شي هغه پيسې برابرې کړي؟ (نظارت يعنې هغه څه چې لرو هغه د خدای دي او دا د ايمان له مخې منو چې هغه کولې شي چې زمونږ مالي اړتياوې پوره کړي) ايا په دې وخت کښې دا ښه کار دی چې په هغو پيسو ئې سرته ورسوئ؟ که چيرې ستاسو ځواب "هو" وي

نو دا ممکنه ده چې هغه واخلئ.

۲- که چیرې دا پیسی د بایسکل په اخیستلو ولګوئ، ایا دا به د خدای یا د نورو خلکو چې تاسو یې په مقابل کښې مسئولیت لرئ د خفګان سبب شي؟ که چیرې ستاسو ځواب "نه " وي. نو کیدای شي هغه واخلئ خو دا خبره یاد لرئ چې کورنۍ ته توجه نه کول د ایمان څخه د انکار معنی لري.

۳- آیا بایسکل ته ضرورت لرئ؟ ایا کولی شئ چې یو ارزان بیه بایسکل پیداکړئ؟ ایا د بل بایسکل سره به تاسو په دې ډاډه و اوسئ چې هغه به زیات ترمیم او زیاتو پیسو او وخت ته ضرورت ونلري؟ ارزان بیه بایسکل به داسې نه وي. که چیرې د اول سوال ځواب "هو" وي اوکه چیرې د ارزانه بایسکل اخیستل عاقلانه کار نه وي، نو کیدای شي چې د هغه د اخیستلو امکان رامنځته شي.

٤- ایا تاسو به خپل قیمتي وخت په پیاده تګ باندې تیر کړئ او یا د زاړه بایسکل په ترمیمولو باندې؟ که چیرې تاسو نوی بایسکل ولرئ نو ستاسو وخت به په آرامۍ سره تیر شي؟ "هو" نو بیا کولی شئ چې نوی بایسکل واخلئ.

٥- له دعا او سوالونو ته د ځوابونو له ورکولو څخه وروسته به تاسو مطمئن یاست چې خدای غواړي هغه واخلئ؟ که چیرې همداسې وي نو هغه واخلئ. یاد ساتئ چې مونږ په مثبت اړخ باندې فشار اچوو. خدای ستاسو دپاره ښه شیان غواړي. د عیسی حکم او وعده د خپلو اړتیاو د پوره کولو په باره کښې په

یاد ساتئ:

"تاسو باید له هرڅه څخه مخکښې د خدای د پادشاهۍ او د هغه د غوښتنو د پوره کولو کوښښ وکړئ، هغه وخت به دا ټول شیان تاسو ته درکړل شي" (متي ٦: ٣٣).

هغه څه چې مهم دي هغه دا دي چې اول باید د خدای د غوښتنو د پوره کولوپه فکر کښې شو، ځکه که چیرې زمونږ فکر اول د مادي شیانو به باره کښې مشغول شي، نو مونږ به خپله توجه د الهي او معنوي چارو په باره کښې له لاسه ورکړو. کله کله شتمني خدای ته د رسیدلو په لاره کښې خنډ ګرځي او دا هغه خبرداری دی چې خدای یې د اسرائیلو قوم ته وعده شوې خاورې ته د ورداخلیدو په وخت کښې ورکوي (تثنیه ٨: ١١- ٢٠).

دا کار مونږ ته لارښوونه کوي چې مونږ د هغو اصولو په باره کښې فکر وکړو کوم چې مونږ د خدمت په اړه ولوستل. د دغه اصل څخه مونږ د بایسکل په باره کښې هم کار اخیستلی شو.

١- ایا تاسو غواړئ چې نوی بایسکل واخلئ د دې دپاره چې خدای ته ښه خدمت وکړئ؟ ایا دا کار به تاسو سره مرسته وکړي چې په خدمت کښې زیات فعال اوسئ؟ ایا تاسو ډاډه یاست چې دا کار به ستاسو وخت او انرژي ونه غواړي چې تاسو د خدای له کار څخه لرې وساتي؟ د "هو" ځواب به د اخیستلو امکان زیات کړي.

٢- ایا تاسو مطمئن یاست چې د هغه بایسکل اخیستل

ځان ښودنه نه ده؟ ایا په دې مطمئن یاست چې هغه د خپل ځان ښودنې دپاره نه اخلئ؟ اګر ستاسو ځواب "هو" وي نو د اخیستلو امکان زیاتیږي.

۳- ایا د دې بایسکل اخیستل کورنۍ او کلیسا ته د ډیر ښه خدمت سبب ګرځي؟ یا ستاسو د جدایئ او مشکل جوړونې سبب نه کیږي؟ ایا ستاسو کورنۍ د هغه په اخیستلو کښې ستاسو سره هم نظره ده؟ که چیرې ځواب مو "هو" وي تاسوکولی شئ چې د هغه په اخیستلو کښې زیات فکروکړئ.

٤- له دعا کولو او ځوابونو وروسته تاسو مطمئن یاست چې خدای غواړي د هغه خادم دې بایسکل ولري؟ که چیرې ځواب "هو" وي نو ښه به وي چې هغه واخلئ.

د دې اصولو څخه کار اخیستل ګران کار معلومیږي او کله کله همداسې وي. خو کله چې د هغو په مطابق تصمیم ونیسئ نو آرامي به احساس کړئ، ځکه پوهیږئ چې د هغو اصولو څخه مو کار اخیستی دی چې خدای په خپل کلام کښې بیان کړیدي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

8. په مقدس کتاب کښې د سګرټو د څښلو یادونه نده شوې، مګر مسیحیان دا کار نکوي. ایا کولی شئ چې د دې د نه کولو دلیلونه ذکر کړئ؟

أ) خپل ځواب د نظارت د اصل په پام کښې نیولوسره بیان کړئ.

ب) خپل ځواب د خدمت د اصل په پام کښې نیولوسره بیان کړئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

٥- الف، ب، د او ه

١- ب

٦- ستاسو خپل ځواپ

٢- ستاسو خپل ځواب

٧- الف، د ،و ، ز، ب، ج او ه

٣- الف

٨- کیدای شي چې ستاسو ځوابونه مشابه نه وي. مګر د خدمت او نظارت په اړه کیدای شي په هغو کښې مشترک ټکي وموندل شي.

الف) نظارت

1) د سګرټو اخیستل د پیسو د مصرفولو بنه لاره نه ده.

2) سګرټ څښل زمونږ وجود ته زیان رسوي. (سګرټ ژوند لنډوي او د ناروغۍ سبب کیږي)

3) سګرټ څښل په عادت باندې بدلیږي او دا کار د پیسو د مصرفولو سبب کیږي.

ب) خدمت: ستاسوخپل ځواب

٤- ستاسو خپل ځواب

شپږمه لوست

# خدای ستاسو څخه غواړي چې په خپل ځان پام وکړئ

یو موټر د زیاتو برخو څخه جوړ شوی دی. مونږ د هغه د ماشین او نورو برخو په باره کښې ډیر لږ معلومات لرو. کوم شی چې مونږ یې پیژنو، هغه د ماشین ظاهري بڼه ده. مونږ کولی شو چې د هغه ټایر بدل کړو او یا هغه ومینځو. مونږ نشو کولی چې هغه په اساسي توګه جوړ کړو. که چیرې د یو مهم مشکل سره مخامخ شو څه به کوو؟ البته دعا به کوو چې هغه وخت رانشي، خو فکر کوو چې اول د هغه د جوړولو لاسي کتاب یا کتلاک ترلاسه کړو. په هغه کتاب کښې هغه څه چې دا موټر جوړ کړی دی د ماشین د مختلفو برخو او د هغو د فعالیت په اړوند مونږ ته معلومات راکوي. کله کله د هغوی مشورې زمونږ دپاره عجیبه ښکاري خو په هر صورت په هغو باندې عمل کوو، ځکه چې هغوی زمونږ څخه په ماشین باندې ښه پوهیږي او د موټر د جوړولو په طریقه باندې هم ښه پوهیږي.

انسانان د موټر څخه زيات پيچلي دي. خلک غواړي چې ډير ښه ژوند ولري. خو سره له دې د خپلو خيالونو، احساساتو او جسماني اعمالو څخه ډير لږ خبر دي. ليکن هغه چا چې انسانان جوړکړي دي هغه يې له هغوی څخه ښه پيژني. هغه مونږ ته تعليم راکړی دی چې ښه ژوند ولرو. کله کله د هغه تعليم هم مونږ ته عجيبه ښکاري. ګوندې دا خبرې زړې شوې او نامعقولې دي، خو ايا هغه نه پوهيږي چې کوم شی ښه دی؟

د يو مسيحي په توګه مونږ پوهيږو چې خدای په دې پوهيږي چې زمونږ دپاره کوم شيان ښه دي. همدارنګه مونږ په دې باندې ډاډمن يو چې هغه زمونږ د ژوند په کاميابيو او ناکاميو کښې زمونږ ښيګڼه غواړي. څه چې هغه ويلي دي هغه زمونږ د ژوند د نوي کولو سبب کيږي ترڅو مونږ بالغ او ښه خلک شو او زمونږ شخصيت د خدای شخصيت ته نژدې شي. خدای دخپلو اولادونو څخه غواړي چې پرمختګ وکړي او د هغې دپاره د مسئوليت احساس وکړي.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- ❖ هغه څلورې طريقې چې خدای له تاسو څخه انتظار لري په هغې کښې وده وکړئ
- ❖ د ودې کولو دپاره د مقدس کتاب لارښوونې

  د جسماني ودې دپاره لارښوونې

  د فکري ودې دپاره لارښوونې

  د روحاني ودې دپاره لارښوونې

د ټولنیزو اړیکو د ودې دپاره
لاربښوونې

## دا لوست به تاسو مرسته وکړي ترڅو...

- د یوه شخص په توګه د خپل ځان د ودې په خاطر د مسئولیت احساس وکړئ.
- په دې پوه شئ چې په کومو برخو کښې باید وده وکړئ.
- په هغو اصولو باندې پوه شئ کوم چې مقدس کتاب یې د ودې دپاره په ګوته کوي.

## هغه څلورې طریقې چې خدای له تاسو څخه انتظار لري په هغې کښې وده وکړئ

مقدس کتاب د عیسی مسیح د وړوکتوب او ځوانۍ په اړه مونږ ته لږ معلومات راکوي. خو یو آیت مونږ ته پوره پیغام راکوي: "عیسی په حکمت او قد وقامت کښې وده کوله او خدای او خلکو هغه خوښاوه" (لوقا ۲: ۵۲).

په دې ځای کښې د عیسی مثال ډیر مهم دی. هغه د خپل شخصیت څلورو مهمو اړخونو په پام کې نیولو سره بلوغ ته ورسیده. په کار کولو او مشق کولوسره هغه په جسماني لحاظ قوي کیده، د مطالعې او فکرکولو په وسیله یې په فکري

لحاظ وده کوله، د دعا کولو او کلام په وسیله يې په روحاني لحاظ او د نورو سره د محبت او مرستې کولو په وسیله يې په ټولنیزو اړیکو کښې وده کوله.

که چیرې هغه د خپلې جسماني ودې په هکله بې پروايي کړې وای، نو هغه نشو کولی چې د خدمت دپاره له يو ځای څخه بل ځای ته لاړ شي یا يې د صليب تکليف وزغمي. که چیرې هغه د نورو سره مينه نه کولی نو هغه نشو کولی چې د ګناهکارانو سره دوستي وکړي او یا د شاګردانو سره مینه وکړي. که چیرې د فکر په لحاظ تیار نه وای، نو هغه نشو کولی چې نور په ښه توګه درک کړي او هغوی ته په خپلو عجيبه ځوابونو سره برکت ورکړي. حتی د هغه دښمنان په دې پوهیدل چې د هغه په شان خبرې چا نه دي کړي (یوحنا ۷: ٤٦). او که چیرې دخدای سره يې مشارکت نه درلودلی نو هغه نشو کولای چې د خدای په کامله اراده باندې پوه شي.

خو عیسی دا ټول کارونه وکړل. هغه کامل انسان و، هغه سپیڅلی و. پولوس مونږ دې ته هڅوي چې د هغه په شان شو. "مونږ باید هغه یووالي ته ورسیږو کوم چې د خدای په زوی باندې په ایمان او د هغه په پیژندلوکښې دی او د هغه کاملتوب په مطابق چې په مسیح کښې دی، کامل انسانیت ته ورسیږو. مونږ باید له هرې لارې څخه په مسیح کښې وده وکړو" (افسیان ٤: ١٣ او ١٥).

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

1. د خپل یادداشت په کتابچه کښې افسیان ٤: ١٣ او ١٥ ولیکئ او دعا وکړئ چې خدای هغه ستاسو په ژوند کښې عملي کړي.
2. دعا وکړئ ترڅو پوه شئ چې د لوقا ٢: ٥٢ په مطابق د مسیح د ژوند په کومو برخو کښې باید وده وکړئ او په کومو برخو کښې مو وده نه ده کړې. د هغې یو لست جوړ کړئ او هره ورځ دعا وکړئ او د هغو طریقو په خاطر چې د ودې دپاره یې ستاسو په واک کښې درکړي دي، دخدای شکر ادا کړئ.

خپل ځوابونه د هغو ځوابونو سره تطبیق کړئ چې د دې برخې په اخر کښې دي.

# د ودې کولو دپاره د مقدس کتاب لارښوونې

## د جسماني ودې دپاره لارښوونې

ښځینتن مونږ ته عجیبه بدن راکړی دی. هغه یې د ښو مقصدونو دپاره پیداکړی دی. د خدای کلام وایي چې زمونږ بدن د روح القدس عبادتخانه ده. زمونږ بدن د عیسی د بدن یوه برخه ده. پولوس وایي: "د خپلو بدنونو څخه د خدای د جلال دپاره کار واخلئ" (اول کورنتیان ٦: ٢٠). مونږ د خپل بدن د ځارنې په وسیله د خدای اراده پوره کوو. په دې اړه د نظارت او خدمت دوه اصولو ته بیرته راګرځو. لکه څنګه چې پولوس رسول وایي: "بدن باید د جنسي بداخلاقیو دپاره استعمال نشي، بلکه خدای ته باید خدمت وکړي. ښځینتن زمونږ د بدن احتیاجونه پوره کوي" (اول کورنتیان ٦: ١٣). خدای زمونږ بدن

د اړتیاوو سره پیداکړی دی. خو هغه دا احتیاجونه پوره کوي. د مثال په ډول خدای واده د نر او ښځې د جنسي ضرورت د پوره کولو دپاره پیداکړی دی. پولوس هغو خلکو ته چې هغوی ته د مجرد ژوند بلنه نه ده ورکړل شوې، مشوره ورکوي چې خپل جنسي ضرورتونه د خپل شریک سره پوره کړي. جنسي بداخلاقي او ګمراهي دخدای په نزد برابر دي. دا دواړه زمونږ په بدن باندې د ګناهونو غلبه ده (اول کورنتیان ٦: ١٨). په هغه بدن باندې غلبه ده چې خدای غواړي چې هغه پاک او سالم وي او هغه نه د خدمت دپاره کار واخیستل شي. د خوراک او څښاک په اړوند هم باید متوجه اوسو چې انډول له لاسه ورنکړو. زمونږ څښتن عیسی روژه نیوله او دعا یې کوله او په عین حال کښې یې د دوستانو سره ډوډۍ خوړله او خوشحالي کوله. (که څه هم د هغه ډیرو دښمنانو هغه د دې کار په خاطر ملامتاوه) د رومیانو کتاب څوارلسم فصل مونږ ته وایي چې د کوم خاصو خواړو خوړل یا نه خوړل کوم اهمیت نلري، "ځکه چې د خدای پادشاهي یوازې خوړل او څښل نه دي، بلکه په هغې کښې نیکي، آرامي او په روح القدس کښې خوشحالي شامله ده" (رومیان ١٤: ١٧).

د داسې لارښوونو په وسیله کولی شو معلوم کړو چې څه شی وخورو او کوم شی ونه خورو، مونږ پوهیږو چې زیات خورا ک کول ګناه ده، ځکه چې زمونږ بدن ته تاوان رسوي. په همدې خاطر پولوس د نیشې کولو او زیات خوراک په ضد خبرې کوي. د مثال په ډول هغه مونږ ته نصیحت کوي چې "خپل ځانونه په شرابو باندې مه مستوئ ځکه چې شراب تاسو بدو

کارونو ته راکاږي. نو د روح القدس څخه ډک شئ" (افسيان ۵: ۱۸).

مونږ د خپل بدن په سلامت ساتلو سره څښتن ته جلال ورکوو. هغه بدن چې د کنترول څخه خارج وي او د الکولو، مخدره موادو او سګرټو په غلامۍ کښې ګير وي، خدای ورباندې نه خوشحاليږي. خپل بدن ته د خدای د کور په توګه احترام کول د روح القدس د ميوو څخه په لاس راځي چې هغه پرهيزګاري ده. مونږ د خدای د روح په قدرت کولی شو چې پاک او سالم بدن ولرو ترڅو د خدای روح وکولی شي په هغه کښې واوسيږي. سالم بدن يو فعال بدن دی چې کولی‌شي کار وکړي او کار کول زمونږ دپاره د خدای د غوښتنواو نقشې يوه برخه ده. عيسی تل ښه کارونه کول. کله به چې نورو خلکو په هغه باندې انتقاد کاوه هغه به ورته ويل چې هغه دخپل پلار په شان کارونه کوي. "زما پلار لا تر اوسه پورې کار کوي او زه هم کارکوم" (يوحنا ۵: ۱۷). جسماني کارونه ستاسو د صحت دپاره ګټور دي. که چيرې ستاسو کارونه جسماني نه وي نو بايد ورزش او جسماني مشقونه وکړئ. په ځينو حالاتو کښې ورزش بدن ته ګټه رسوي (اول تيموتيوس ۴ : ۸). د هغو خلکو دپاره چې د ميز شاته ناست وي، منډې وهل، ګرځيدل، بايسکل ځغلول او يا په باغ کښې کارکول ډير ګټور دي. پولوس وايي: "په نه ستړي کيدونکي کوښښ او شوق سره دخدای خدمت وکړئ" (روميان ۱۲: ۱۱).

خو خدای زمونږ د استراحت او آرام په فکر کښې هم دی. دا یاد لرئ چې هغه زمونږ د ژوند دپاره ښیګڼه غواړي. هغه پوهیږي چې یوازې کارکول به مونږ له منځه یوسي. یو سړی بدن استراحت ته ضرورت لري او خدای په خپل خلقت کښې یوه ورځ د همدې مقصد دپاره ټاکلې ده یعنې اومه ورځ دې د آرام ورځ وي. شپه د هغه د خلقت یوه برخه ده چې د بدن د آرام دپاره ده. مذهبي مشران او هغه مسیحیان چې سخت کار کوي باید دا خبره په یاد کښې وساتي چې څښتن د آرام کولو دپاره یوه ورځ ټاکلې ده. عیسی خپله هم آرام ته ضرورت درلود او شاګردانو یې هم. یو ځل دومره زیات خلک ورته راغلل چې هغه او شاګردانو یې د ډوډۍ د خوړلو دپاره وخت نه درلود، عیسی هغوی ته وویل، "راځئ چې یو داسې ځای ته لاړ شو چې هلته یوازې اوسو او لږ آرام وکړئ" (مرقس ٦: ٣١). په دې ځای کښې د عیسی هغه اندیښنه رایاده کړئ چې د وږیو او ستړو خلکو په اړه یې لرله. عیسی ټولو کارګرانو ته وویل، "ای هغو خلکو چې د خپلو درندو بارونو څخه ستړي شوي یاست، ماته راشئ زه به تاسو ته آرام درکړم. زما جغ واخلئ او په خپله غاړه باندې یې کیږدئ او تاسو به آرام ومومئ" (متي ١١: ٢٨- ٢٩).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

3. هغه عبارت په ګوته کړئ چې څرګندوي چې څرنګه کولی شئ سالم او قوي بدن ولرئ:

أ) سخت جسماني کار وکړئ.

ب) د جنسي اړيکو په اړوند د خدای حکمونه ياد کړئ.
ج) ټوله ورځ خوب وکړئ.
د) ترڅو کولی شئ ډوډۍ وخورئ.
ه) د ورزش او آرام دپاره وخت ولرئ.
و) خپل عوايد په عياشۍ کښې مصرف کړئ.
ز) نه زيات خواړه وخورئ او نه کم.

4. اول کورنتيان ٦: ١٩- ٢٠ په خپله کتابچه کې وليکئ او هغه درې لارې بيان کړئ چې د هغو په مرسته کولی شئ هره ورځ هغه په خپل ژوند کښې عملي کړئ. "تاسو اوس د خپلو ځانونو پورې تړاو نلرئ بلکه په خدای پورې تړلي ياست. هغه تاسو په بيه اخيستي يئ، نو د خپلو بدنونو څخه د خدای د جلال دپاره کار واخلئ".

## د فکري ودې دپاره لارښوونې

دا واضيح خبره ده چې ټول کارونه او خدمتونه چې د خدای دپاره سرته رسول کيږي، هغه جسماني نه دي. مونږ خدای او انسانانو ته د خپلو فکرونو سره هم خدمت کوو او کيدای شي چې فکري کار سخت وي. زده کړه يو عجيبه تمرين دی. فرض کړئ چې تاسو يو ماشوم لرئ چې د هغه ذهن کمزوری وي که څه هم د هغه فکر سالم دی، خو نه غواړي چې کوم شی زده کړي او ستاسو نصيحتونو ته غوږ نه نيسي او د دې په ځای چې مکتب ته لاړ شي، په کور کښې پاتې کيږي. ايا تاسو به له

دې هلک څخه خوشحاله وئ؟ البته نه ، که چیرې زوی مو ناروغ وای یا په ذهني لحاظ نورمال نه وای، نو تاسو کولی شول چې ورباندې پوه شئ. خدای به تاسو ته مینه او صبر درکړی وای او په تاسو باندې به یې مهرباني کړې وای. او که چیرې ستاسو زوی په خپله غوښتل چې تنبل او ناپوه پاتې شي، نو بیا تاسو حق درلود چې خفه شئ.

د خدای د اولادونو څخه ډیر داسې دي چې په ذهني لحاظ تنبل دي، خو تاسو تنبل نه یاست ځکه چې دا کورس زده کوئ. خو ډیر خلک شته چې هغوی عیسی د خپل خلاصوونکي په توګه قبول کړی دی او کیدای شي چې کلیسا ته هم لاړ شي. لیکن د هغه ناظر په شان چې د خپلو پیسو څخه یې ګټه وانخیسته ، هغوی هم د هغې شتمنۍ څخه چې خدای ورته ورکړې ده، ګټه نه اخلي. هغوی دا نه دي زده کړي چې د خدای آواز ته غوږ ونیسي. دا یې نه دي یاد کړي چې په دعا کښې دخدای سره خبرې وکړي. د خدای کلام یې هیڅکله د خپل ځان دپاره مطالعه کړی نه دی، هرڅوک چې هغوی ته هرڅه ووایي هغوی ورباندې باور کوي. حتی که هغوی ورته د خدای په باره کښې غلط تعلیم هم ورکوي دوی ورته ناست وي. ایا تاسو دارنګه خلک پیژنئ؟ که چیرې پیژنئ یې، نو تاسو ته لاژمه ده چې د هغوی سره مرسته وکړئ. تاسو قوي یاست او هغوی کمزوري. تاسو باید هغوی په ایمان کښې ټینګ کړئ (رومیان ۱۵: ۱- ۲).

هغوی ته دا زده کړئ چې یو مسیحي څنګه کولی شي چې

په فکري لحاظ سره وده وکړي. دې ټکو ته پام وکړئ:

۱- هغوی ته لوستل ورزده کړئ ترڅو وکولی شي چې مقدس کتاب او مسيحي ګټور ادبيات ولولي. دا مه وايئ چې په مکتب کښې به يې زده کړي. دا کليسا ته يو خدمت دی په خاصه توګه زړو خلکو ته .

۲- د هغوی سره مرسته وکړئ چې دعا کول زده کړي. هغوی ته ووايئ چې په دعا کښې د سختو او پيچليو لفظونو استعمالول لاژم نه دی. بلکه خپل حاجتونه او شکرګذارۍ په ساده ګۍ سره دخپل خدای سره شريک کړئ (فليپيان ٤: ٦).

۳- د هغوی سره مرسته وکړئ چې مقدس کتاب ولولي. اول بايد هغوی د خدای د لارو په باره کښې معلومات ترلاسه کړي يعنې د عيسی او د هغه د پادشاهۍ په باره کښې په حقيقتونو باندې پوه شي. بيا هغوی ته لاژم دي چې د دې معلومات څخه کار واخلي، ځکه چې هغه يو حکمت دی. تاسو به دمقدس کلام په لوستلو سره ډير هوښيار شئ. د زبور ليکونکی د خپل ځان څخه پوښتنه کوي چې څنګه کيدای شي چې پاک او خوشحاله ژوند ولري. او بيا په خپله ځواب ورکوي او وايي چې، "د ښښتن د لارو او طريقو د مطالعې او د فکر څخه د کار اخيستلو په وسيله. زه ستا لارښوونې زده کوم، زه ستا تعليم ازمايم، ستا د طريقو څخه خوند اخلم، زه به ستا حکمونه نه هيروم" (زبور ۱۱۹: ۱۵- ۱٦).

د زبور لیکونکی یو شاعر او فکرکوونکی انسان و. هغه د خدای خیالونه د یوې ښکلې ژبې په قالب کښې بیانول. هغه دغه خدایي نعمت درلود چې الفاظ څرنګه استعمال کړي هغه د دې نعمت د پرمختګ دپاره کار کاوه. هغه د شعرونو د جوړولو استعداد درلود چې د هغه قوم زیات خوښول.

دا د انسان د ذهن د نووښت یو اړخ دی. خدای پیداکوونکی دی او هغه مونږ په داسې ډول پیداکړي یو چې مونږ هم باید ابتکار کوونکي اوسو. هغه مسیحیان چې غواړي د خپل پلار په شان شي باید په خپلو کارونو او ژوند کښې دغه نووښت څرګند کړي. کله چې موسی غوښتل چې مقدسه خیمه جوړه کړي، نو څښتن هغه ته داسې خلک ورکړل چې خاص استعدادونه یې درلودل ترڅو دموسی سره مرسته وکړي. د هغو څخه د یو تن په باره کښې لولو: "خدای هغه د خپل قدرت (روح) څخه ډک کړ او هغه ته یې د هر قسم هنري کار دپاره مهارت، قابلیت او پوهه ورکړه" (خروج ۳۵: ۳۱).

یعنې د قصو ویلو، ښو خبرو کولو، شعر جوړولو، سرود یا سندرو ویلو، نقاشۍ کولو، د مختلفو نقشو د جوړولو، په تیږو او لرګیو باندې دکار کولو، په تیاتر کښې د لوبو کولو، په ډیر ساده ډول د مقدس کتاب د بیانولو توان. دا ټول د خدای د روح نعمتونه دي. دا نعمتونه د دې دپاره مونږ ته راکړل شوي دي چې د هغو څخه د خدای د جلال دپاره کار واخلو او د کلیسا دپاره د برکت سبب شو.

تاسو د کومو نعمتونو څخه برخمند یاست؟ ایا داسې سرودونه او شعرونه ویلی شئ چې خلک یې خوښ کړي؟ یا کولی شئ چې ښه ساز غږوونکي اوسئ؟ په هر صورت باید د خدای څخه وغواړئ چې په تاسو کښې د کارونو کولو دپاره ستاسو قابلیتونه قوي کړي او زیات مشق وکړئ چې څه د سرودونو او یا د ساز د غږولو په وسیله د خدای د جلال سبب وګرځئ. باید د خپل چاپیریال کلتور وڅیړئ او په دې پوه شئ چې د کومو سندرو او شعرونو په وسیله کولی شئ د هغو سره اړیکې ټینګې کړئ. د پطروس وینا په یاد کښې ساتئ: "د هغه شخص په توګه چې د خدای قسم قسم برکتونه مو ترلاسه کړي دي، خپل استعدادونه او نعمتونه د نورو د ښیګڼې دپاره استعمال کړئ" (اول پطروس ٤ : ١٠).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

5. هغه عبارت چې دا څرګندوي چې څنګه کیدای‌شي چې په فکر کولو کښې وده وکړئ، په ګوته کړئ:

أ) هر څه چې همیشه تاسو ته ویل کیږي په هغو باندې باور وکړئ.

ب) د خدای کلام ولولئ.

ج) ګڼ‌شمیر کتابونه ولولئ.

د) هیڅ وخت سوال مه کوئ.

ه) د ګلوبل یونیورسټۍ نور کورسونه ولولئ.

و) د تجربه لرونکو مسیحیانو خبرو ته غوږ ونیسئ.

ز) د خپلو عقیدو په باره کښې هیڅکله بحث مه کوئ.

6. په دې هفته کښې د دعا دپاره وخت پیداکړئ ترڅو په دې پوه شئ چې خدای تاسو ته څنګه استعدادونه درکړي دي. هغه یاداشت کړئ او په لنډ ډول ولیکئ چې تاسو څنګه کولی شئ د نورو د ښنګښې دپاره یې استعمال کړئ.

## د روحاني ودې دپاره لارښوونې

د خدای کلام وایي، "هغه وخت چې عیسی وړوکی و، نو د خدای مهرباني ورسره وه" (لوقا ۲: ۴۰). څښتن د هغه د لوئیدو په ټولو مرحلو کښې مل و او د هغه څخه خوشحاله و. کله چې هغه د تعمید غسل اخیست نو د آسمان څخه یو آواز راغی او ویې ویل، "ته زما ډیر ګران زوی یې، زه ستا څخه خوشحاله یم" (لوقا ۳: ۲۲). عیسی نه یوازې په فکري او جسماني لحاظ قوي کیده، بلکه هغه د دې توان درلود چې د خدای لارې وپیژني. هغه پوهیده چې د خدای زوی دی. نو باید داسې کار وکړي چې پلار یې ورڅخه خوشحاله وي او تیار و چې د هغه حکمونه عملي کړي. له همدې کبله خدای له هغه څخه راضي و. کله چې دهغه دښمنانو ورڅخه پوښتنه وکړه چې ته څوک یې؟ عیسی ځواب ورکړ، یوه ورځ به پوه شې او زیاته یې کړه، "کله چې تاسو د انسان زوی له ځمکې څخه پورته کړ، هغه وخت به پوه

شئ چې زه هماغه یم او له خپله ځانه کوم کار نکوم، بلکه څنګه چې پلار ماته تعلیم راکړی دی، هماغه خبرې کوم. زما لیږونکی زما مل دی، زه خپل پلار یوازې نه یم پرېښی، ځکه زه تل هغه کارونه کوم چې هغه ورباندې خوشحالیږي“ (یوحنا ۸: ۲۸- ۲۹).

تر څو پورې په چې د خدای حکم هغه ته نه و رارسیدلی، هغه به هیڅ نه ویل او نه به یې څه کول. په همدې خاطر هغه همیشه ډاډمن و چې خدای د هغه سره مل دی او مرسته ورسره کوي. حتی په ډیرو سختو شیبو کښې هم هغه دا زده کړې وو چې د خدای غوښتنه پوره کړي. تاسو د هغه دعا په یاد ده کومه چې د جتسماني په باغ کښې یې کړې وه. "هغه څه نه چې زه یې غواړم بلکه هغه څه چې ته یې غواړې" (متي ۲۶: ۳۹).

که چیرې مونږ وغواړو چې د خدای مهرباني دې راباندې وشي باید داسې دعا وکړو چې ترڅو دخدای په لاروا‌و طریقو باندې پوه شو. (د کلام په اصولو باندې) او هغه په عملي توګه سرته ورسوو او د خپل ژوند دپاره د هغه خاصه اراده درک کړو او د هغې په مطابق ژوند وکړو.

تاسو په دریم لوست کښې هغه څلور طریقې زده کړلې دکومو په وسیله چې کولی شئ د خدای په غوښتنه باندې پوه شئ. ایا هغه مو په یاد دي؟ پاک وجدان، د خدای کلام، د عیسی مثال، د روح القدس لارښوونه. کله چې وغواړو د خدای غوښتنه پوره کړو نو دا عوامل زمونږ سره مرسته کوي.

د پاک وجدان، د روح په لارښوونه، د کلام په لوستلو سره چې په هغه کښې د عیسی ژوندون او تعلیم لیکل شوی دی، کولی شو د هغه اراده درک کړو. د کلام شخصي مطالعه د یو مسیحي د ودې دپاره یو اساسي کار دی. د بیریه یهودیان چې پولوس هغوی ته د عیسی په باره کښې وعظ کړی و زمونږ دپاره یو ښه مثال دی. "هغوی په ډیر شوق سره د پولوس او سیلاس پیغام ته غوږ نیوه او هره ورځ یې مقدس کتاب لوسته. ترڅو وګوري چې هغه خبرې د کتاب په مطابق دي او که نه. له همدې کبله له هغو څخه ډیرو ایمان راوړ" (اعمال ۱۷: ۱۱- ۱۲).

هغه څه چې دې صادقو خلکو به کول، هغو ته پام وکړئ. هغوی به هره ورځ په ډیر غور سره په دوامداره توګه د خدای کلام لوست. یعنې د هغوی مطالعه بامقصده وه او په پای کښې یې ایمان راوړ.

باید د روحاني ودې په خاطر هره ورځ مقدس کلام ولولو او په هغه کښې دخدای اراده ولټوو او بیا یې ترسره کړو.د خدای د کلام د شخصي مطالعې څخه علاوه، مسحیان د خدای له خوا یو بل نعمت هم لري او هغه مذهبي مشران او ښوونکي دي. دغه خلک کولی شي چې د کلام د ژور درک او د یادونې د زیاتې تجربې او د خدای د کلام څخه په کار اخیستلو سره ایماندارانو ته صحیح پوهه انتقال کړي. هغوی ایماندارانو ته دخدای پیغام بیانوي او د مسیح د بدن د قوي کیدلو سبب ګرځي (افسیان ٤: ١١- ١٦).

هغو خلکو چې د پنطیکاست په ورځ په عیسی مسیح باندې ایمان راوړ په دې پوه شول چې د ایمان په اړه دخپلو مشرانو ورونو تعلیم ته اړتیا لري. هغوی تل خپل وخت د رسولانو د تعلیم په اوریدلو او د ورور ولۍ په مشارکت، د ډوډۍ په ماتولو او دعا کولو تیراوه (اعمال ۲: ۴۲).

دې خلکو د رسولانو هغه تعلیم زده کاوه کوم چې هغوی په مستقیمه توګه د عیسی څخه زده کړی و او د روح القدس څخه ډک شوي وو. اوس هم مسیحیان ښوونکو او مذهبي مشرانو ته اړتیا لري چې دخدای په کلام باندې ښه پوه شي او د روح القدس څخه ډک وي. د خدای کلام وایي:"د خپلو رهبرانو اطاعت وکړئ او پیروي یې وکړئ" (عبرانیان ۱۳: ۱۷). او "د هغوی په نسبت شکرګذار اوسئ" (ګلتیان ٦: ٦).

مګر یوازې ښوونکي نه دي چې په کلیسا کښې تعلیم ورکوي، ځکه چې کلیسا د ټولو ایماندارانو څخه جوړه شوې ده او هر غړی د مسیح شاهد دی او کولی شي چې دخپل ژوند اوکلام په وسیله نور خلک دې ته تشویق کړي چې د عیسی پیروي وکړي او په خپله د نورو دپاره د تعلیم یوه ژوندۍ نمونه اوسي. پولوس مونږ ته داسې نصیحت کوي: ”د مسیح پیغام باید په خپل ټول غنیتوب سره ستاسو په زړونو کښې واوسیږي. په خپلې ټولې پوهې سره یو او بل ته تعلیم او لارښوونه وکړئ“ (کولوسیان ۳: ١٦).

کله چې مسیحیان سره راغونډیږي، په هغه ځای کښې یو بل ته دخدای کلام وایي او دخدای د لارو او طریقو په هکله یو د بل سره خپل نظریات بدلوي. د خدای په کلام کښې د دې کار

یوه په زړه پورې نمونه وینو. یو یهودي و چې اپولوس نومیده چې په مقدس کتاب باندې پوهیده او د عیسی مسیح د حقیقتونو په باره کښې په یې تعلیم ورکاوه. ولې داسې معلومیده چې د خدای د روح څخه ډک نه و. نو اکیلا او پرسکله هغه خپل کور ته یووړ او هغه ته یې الهي لارې په مفصله توګه بیان کړې (اعمال ۱۸: ۲۶). نو بیا د اپولوس کار د اکیلا او پرسکله سره د مشارکت په نتیجه کښې بدل شو. په دې ځای کښې مهم ټکی د اپولوس عاجزي وه. هغه تعلیم منونکی روح درلود. هغه د نورو څخه تعلیم قبلاوه که څه هم هغه ډیرښه ویاند او په مقدس کتاب باندې ښه پوه و. که چیرې مونږ تعلیم منونکی روح ونلرو او فرمانبردار و نه اوسو، نو نه به دخدای څخه څه زده کړو او نه د خپلو ښوونکو څخه. باید په عاجزۍ اوشوق سره د خدای د لارو لټه وکړو.

تاسو ته د موټر د جوړولو د کتلاګ مثال په یاد دی. زه به څومره ناپوهه یم چې د هغه د حکمونو اطاعت ونکړم او دا خبره کټ مټ د خدای د کلام په اړه هم صدق کوي. د هغه په برکت او مهربانۍ کښې د ودې کولواو دهغه دخوشحالولو په خاطر باید د هغو ټولو شیانو څخه اطاعت وکړو کوم چې د هغه په کلام کښې ویل شوي دي، لکه څنګه چې زمونږ څښتن عیسی کول او په دې باید پوه شو که مونږ هرڅومره وده هم کړې وي، بیا هم د ودې ځای پاتې دی! "بله دا چې ای ورونو! تاسو زمونږ څخه دا زده کړل چې څنګه باید ژوند وکړو ترڅو خدای خوشحاله کړو او البته تاسو هم د هغو څخه پیروي کوئ. اوس د عیسی په نوم

ستاسو څخه غواړم چې د هغو څخه نور هم زيات کار وکړئ" (اول تسالونيکيان ٤ : ١).

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

7. هغه عبارت په ګوته کړئ د کوم په وسيله چې کولی شو د خدای په فضل او مهربانۍ کښې وده وکړو:

أ) دعا کول ددې دپاره چې دخدای روح زمونږ لارښوونه وکړي.

ب) د خدای د کلام شخصي مطالعه.

ج) شکايت ته غوږ نيول.

د) د خدای د کلام مطالعه، او په عين حال کښې د نورو شيانو په باره کښې فکر کول.

ه) د نورو د تجربو څخه ګټه اخيستل.

و) د خدای په کلام او د خدای په لارو باندې شک کول.

ز) هره ورځ د خدای د کلام مطالعه کول.

ح) صحيح تعليم ته غوږ نيول.

8. که چيرې تاسو تر اوسه پورې د خدای کلام په ترتيب او نظم سره نه وي لوستلی، نو په پوره نيت سره د همدې شيبې څخه شروع وکړئ. خپل د مطالعې پروګرام جوړ کړئ او يو وخت وټاکئ چې د خدای کلام په کښې په دعا او فکرکولو سره ولولئ. د مقدس کتاب هغه کتابونه چې غواړئ مطالعه يې

کړئ هغه ولیکئ. ډیرو مسیحیانو د نوې لوظنامې،
زبور او زړې لوظنامې د مختلفو برخو په منظمې
مطالعې سره زیات برکتونه موندلي دي. په دې باره
کښې په کلیسا کښې د خپل ځان څخه دکوم مشر یا
کوم مذهبي لارښود سره مشوره وکړئ.
خپل ځوابونه د لوست له پای سره مقایسه کړئ.

## د ټولنیزو اړیکو د ودې دپاره لارښوونې

عیسی نورو انسانانو ته ورته و. میندو خپل زامن هغه ته راوستل چې په هغو باندې خپل لاس کیږدي (مرقس ۱۰: ۱۳). خلکو خپل کور او ژوند پریښوده ترڅو د هغه پیروي وکړي. عیسی ډیر دښمنان درلودل خو هغه په دې سبب نه وو چې هغه یو تندخویه یا ظالم یا مغرور او یا بد سړی و، بلکه په دې سبب چې هغوی د خدای هغه نقشه نه منله کومه یې چې د هغوی دپاره یې درلودله (لوقا ۷: ۳۰). او عیسی یې د باجګیرانو او غلطو خلکو د ملګري په توګه محکوماوه (لوقا ۷: ۳٤).

اولني مسیحیان دخپل بادار په شان وو. هغوی په ناروغانو او غریبانو باندې پام کاوه. د خوشحالۍ څخه په ډکو زړونو یې یو د بله سره ډوډۍ خوړله. او دخدای ثناه به یې ویله او ټولو خلکو د هغو احترام کاوه (اعمال ۲: ٤٦- ٤۷).

ایا مونږ کولی شو داسې ژوند وکړو چې انسان او خدای دواړه راڅخه خوشحاله وي؟ داسې معلومیږي چې پولوس د دې موضوع په خلاف خبره کوي. "ایا له دې څخه داسې ښکاري

چې زه کوښښ کوم چې د خلکو رضا حاصله کړم؟ نه، ايا زه يوازې د خدای رضا غواړم او يا دا چې زما نيت د خلکو خوشحالول دي؟ که چيرې تر اوسه پورې زما نيت همدا وای نو زه به د مسيح خادم نه وای" (ګلتيان ۱: ۱۰).

خو هغه په دې ځای کښې د انجيل د تعليم په باره کښې خبرې کوي. هغه غواړي دا ووايي چې کلام يې د ګناهکار انسان د خواهشاتو په مطابق نه دی ليکلی، بلکه د خدای کلام يې بيان کړی دی، يعنې داسې کار چې مونږ يې هم نشوکولی. مونږ نشو کولی چې خپلې عقيدې او کړه وړه يوازې د دې دپاره بدل کړو چې د نورو خلکو خوښ شو. نه، اول بايد د خدای خدمت وکړو او د خدای د حکمونو څخه د اطاعت په خاطر د انسانانو د قوانينو تابعداري وکړو. لکه څنګه چې پطروس وايي، "د خدای اراده دا ده چې تاسو د خپلو نيکو عملونو په وسيله د ناپوهو خلکو د جاهلانه خبرو مخنيوی وکړئ" (اول پطروس ۲: ۱۵).

مونږ په خپلو نيکو کارونو سره نورو خلکو ته د خدای د مينې شاهدان يو. پولوس د تسالونيکيانو د کليسا د خلکو د رويې څخه چې د يو او بل سره يې لرله، خوشحاله و او هغوی يې تشويقول چې نور هم يو د بله سره مينه ولري. "ستاسو مقصد دې دا وي چې آرام ژوند ولرئ، په خپل کاروبار کښې بوخت اوسئ او لکه څنګه چې مخکښې مې درته وويل د خپل ژوند د تيرولو دپاره يو څه وګټئ. او په دې ډول به د هغو خلکو د احترا م وړ وګرځئ کوم چې ايمانداران نه دي او د خپلو

اړتیاوو د پوره کولو دپاره نورو ته محتاج نه اوسئ" (اول تسالونیکیان ٤: ١١- ١٢).

مونږ په دې شرط د نورو د احترام او مهربانۍ وړ ګرځو چې په آرامۍ او نیکۍ سره کار وکړو، ځکه په هغه صورت کښې به نه کومه مسئله راپیدا شي او نه به د نورو دپاره بار اوسو. زمونږ رویه باید نور خلک جذب کړي. پولوس وایي: "د غیر مسیحیانو سره په خپلو مناسباتو کښې عاقلانه رویه ولرئ او ستاسو وینا دې تل په زړه پورې وي" (کولوسیان ٤: ٥- ٦). پولوس تیطوس ته امرکوي چې دا تعلیم ورکړي چې مسیحیان باید عاجزاو آرام اوسي. "او هغوی ته ووایه چې د هیچا پسې بد ونه وایي او د شخړو څخه ځانونه لیرې وساتي او نرم او آرام اوسي" (تیطوس ٣: ٢).

پولوس د مسیحیانو تیر ژوند د اوسني ژوند سره مقایسه کړ او ویې ویل: "نورو خلکو زمونږ څخه کرکه کوله او مونږ د هغوی څخه کرکه کوله" (تیطوس ٣: ٣). حتی که چیرې مونږ د احترام او نرمۍ له مخې خپله مینه نورو ته وښایو، خو مونږ به هغوی د مسیح خواته رانه کاږو. خو په دې باید پوه شو چې مونږ په اول قدم کښې ښه کارونه د خدای دپاره کوو، نه د خلکو دپاره چې هغوی یې ومني او یا یې قبول نکړي. پطروس وایي، "ستاسو رویه باید د بې دینه خلکو سره دومره نیکه وي چې کله چې هغوی تاسو د بدکارانو په توګه تورن کوي، بیا هم به هغوی ستاسو نیک کارونه وپیژني او په هغه ورځ به دخدای ستاینه وکړي کومه چې راتلونکې ده" (اول پطروس ٢: ١٢).

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

9. اول تسالونيکيان ٤: ١١- ١٢ وليکئ اوهغه په ياده ياد کړئ. دعا وکړئ چې دغه آيت ستاسو يه ژوند کښې عملي شي.
10. د هغو دليلونو لست وليکئ چې دا ولې مهمه ده چې مونږ د هغو خلکو سره چې زمونږ په شاوخوا کښې دي او غير مسيحيان دي، د حکمت او احترام کولو څخه کار واخلو.

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

٦- ستاسو خپل ځواب
١- ستاسو خپل ځواب
٧- الف، ب، ه، ز، و، ح
٢- ستاسو خپل ځواب
٨- ستاسو خپل ځواب
٤- الف، ب، ه، و، ز
٩- ستاسو خپل ځواب
٤- ستاسو خپل ځواب
١٠- ترڅو د مسيح دپاره ښه شاهد و اوسو.
ترڅو د خپل محبت په خاطر د خدای په فضل او مهربانۍ کښې ژوند وکړو.
ترڅو دخپلې رويې په وسيله هغوی جذب کړو.
٥- ب، ج،ه، و

# خدای ستاسو څخه غواړي چې په کلیسا باندې پام وکړئ

کلیسا د عیسی بدن دی او عیسی د هغې سر دی. مونږ مسحیان د یوه بدن غړي یو. پولوس رسول دغه موضوع په اول کورنتیان دولسم فصل کښې په ډیره ښه توګه بیانوي او دا څرګندوي چې د هر یو غړي موجودیت د بدن د ژوندون دپاره ډومره مهم دی.او څنګه یو غړی د بل غړي سره تړاو لري او څنګه ټول غړي یو تربله تکلیفونه ګالي او یا خوشحالي کوي.

دا خبره ما خپله تجربه کړې ده. یوه ورځ مې د خپل زوی سره د فټبال لوبه کوله. کله چې کښیناستم چې کار وکړم نو متوجه شوم چې پښې ګرمې او ستړې شوې. نو ټول فکر مې د خپلو پښو په لوري شو چې ستړې شوې وې. نو زما لاسونه زما د پښو په فکر کښې شول. ما خپل بوټان وایستل او پښې مې

ومينځلې. نو بيا مې پښې يخې او آرامې شوې او ټول بدن مې آرام شو او بيا مې په کار باندې شروع وکړه.

پورتنی مثال دا حقيقت په ښه توګه روښانه کوي چې ټول غړي يو د بل سره اړيکې لري.

کليسا لکه د خدای د کورنۍ په شان ده . ايا اولنی درس مو په ياد دی؟ په هغه ځای کښې په دې باندې بحث وکړ چې مونږ د خدای اولادونه يو. د کورنۍ غړي د يو او بل د اړتياوو په فکر کښې وي او کولی شي چې د يو او بل اړتياوې پوره کړي. هغوی يو تربله خوشحالي کوي، يو د بله سره کار کوي او د يو او بل په غم او خوشحالۍ کښې سره شريک وي. هغوی چې هرڅه لري يو د بله سره يې ويشي، لکه خواړه، پيسې، مشکلات او حتی درد او غم. کله کله له دې سره سره چې يو تربله مينه کوي يو د بله سره دعوې هم کوي. خو اکثره بيرته سره يوځای کيږي او دې ته تيار وي چې د خطرونو په مقابل کښې د يو او بل څخه دفاع وکړي.

د محبت حکم د خدای په کورنۍ کښې ډير مهم اصل دی. په دې درس کښې به ووينو چې د محبت حکم څرنګه د خدمت او نظارت د اصولو په وسيله په کليسا کښې عملي کيږي.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- د خدای په کورنۍ کښې يووالی
- د خدای په کورنۍ کښې خدمت کول

❖ د خدای په کورنۍ کښې نظارت کول

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- په الهي کورنۍ کښې د يووالي په اهميت باندې پوه شئ.
- په دې پوه شئ چې څنګه کولی شئ په عملي توګه د مسيح بدن ته خدمت وکړئ.
- دا معلومه کړئ چې څرنګه کولی شئ د کليسا د ګټو په خاطر د خپلو شتمنيو او نعمتونو په اړه يو پوه ناظر اوسئ.

### د خدای په کورنۍ کښې يووالی

مخکښې لدې چې عيسی خپل ځان په صليب باندې له لاسه ورکړي، هغه د هغو خلکو دپاره دعا وکړه چې وروسته به يې په هغه باندې ايمان راوړ. د هغه دعا ساده وه، خو له معنی څخه ډکه وه. "زه دعا کوم چې هغوی دې سره يو وي" (يوحنا ١٧: ٢١).

يووالی د کليسا د روحاني پرمختيا نښه ده. کله کله د يو شخص په بدن کښې بې اتفاقي رامنځته کيږي. يو شمير حجرې د نور وجود کنترول نه مني. هغه ډير ژر وده کوي او د انسان دمړينې سبب ګرځي. دغې وژونکې ناروغۍ ته د سرطان ناروغي ويل کيږي. په کليسا کښې هم جدايي د مړينې سبب ګرځي. د اهغه موضوع ده چې د هغې سره د قرنتس په کليسا

کښې لاس په ګریوان و. کورنتیانو د بدن یووالی درک کړی نه و او د نابودۍ په حال کښې یې ژوند کاوه. هغه څه ته چې هغوی ورته اړتیا لرله ، هغه محبت و چې بې اتفاقي له منځه وړي (اول کورنتیان ۱۳). د یعقوب کتاب د بېلتون یو بل علت ته اشاره کوي او هغه تعصب و. هغه به په دې خفه کېده چې کله به یې لیدل چې د هغوی رویه د هغوی د ظاهر سره فرق لري. هغه ولیدل چې دا رنګه توپیر بد او احمقانه دی او د محبت د قانون په ضد دی. "که چیرې تاسو هغه شاهانه قانون چې د خدای په کلام کښې دی او حکم کوي چې د ګاونډي سره د خپل ځان په شان مینه کوئ، عملي کړئ نو تاسو به نیک کار کړی وي. خو که چیرې د خلکو ترمنځ د هغوی د ظاهري شکل له مخې یو توپیر قایل شئ، نو تاسو به ګناه کړې وي" (یعقوب ۲: ۸- ۹).

مسیحیان باید یو او بل د دولت، تحصیل او یا نژاد په اساس طبقه بندي نکړي. که چیرې ستاسو یو ورور غریب وي یا سواد ونلري یا د هغوی قواره ستاسو نه خوښیږي، ایا هغه د ورورولۍ لیاقت نلري؟ دخدای په کورنۍ کښې باید داسې نه وي. په حقیقت کښې د خدای په کورنۍ کښې هغه ټول ارزښتونه اومعیارونه چې په نړۍ باندې واک لري رد کیږي. پولوس رسول وایي: "ایا ستاسو په منځ کښې داسې څوک شته چې هغه فکرکوي چې د دې دنیا د معیارونو له مخې هغه پوه سړی دی، هغه باید ناپوهه شي ترڅو په حقیقي توګه هوښیار شي" (اول کورنتیان ۳: ۱۸).

عیسی خپلو شاګردانو ته چې په خپلو کې یې سره نانډرې وهلې وویل: "هر هغه څوک چې غواړي ستاسو په منځ کښې

ترټولو لوی شي باید د ټولو خدمتګار شي" (متي ۲۰: ۲۶).

که چیرې په یوه کورنۍ کښې یو اولاد فکرکوي چې د نورو څخه بهتر دی، نو د هغه پلار به ډیر خفه شي. څرنګه چې مونږ د خدای په کورنۍ د فضل له لارې شامليږو، نو بیا دا د فخر کولو خبره نه ده (افسیان ۲: ۹). همدارنګه دا به د افسوس خبره وي چې که چیرې په یوه کورنۍ کښې یو اولاد هرڅه د خپل ځان دپاره وغواړي او په نورو باندې یې ونه ویشي. یو پلار تنبل او ځان ښوونکی اولاد نه غواړي. فخرکول، ځان ښودنه او تنبلي ددې دنیا اصول دي. خو په کلیسا کښې باید په عاجزۍ سره د خدمت کولو او په مینې سره نظارت کولو اصول عملي شي. او دا د کلیسا د یووالي سبب ګرځي. "په مسیح کښې ستاسو ژوند باید تاسو ته قوت درکړي او د هغه مینه تاسو ته آرامي درکړي. تاسو د روح القدس سره رفاقت لرئ او د یو او بل سره مهرباني او زړه سوی لرئ. زه تاسو تشویقوم نو تاسو په همداسې خیالونو باندې ما خوشحاله کړئ، خپل محبت د یو او بل سره شریک کړئ او د فکر یووالی ولرئ. د سیالۍ او ځان ښودنې له مخې هیڅ کار ونکړئ او د یو او بل په مقابل کښې عاجزي اختیار کړئ. همیشه د نورو ګټې په نظر کښې ونیسئ اویوازې د خپل ځان په باره کښې فکر مه کوئ" (فلیپیان ۲: ۱-۴).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

1. فلیپیان ۲: ۱-٤ ولیکئ. د هغو ټکو څخه حلقه تاوه کړئ کوم چې د یو مسیحي شخصیت څرګندوي. همدارنګه د هغو ټکو لاندې کرښه وباسئ چې د یو بې ایمانه شخص نظر څرګندوي.او د دواړو دپاره دعا وکړئ ترڅو مسیحي صفتونه په تاسو کښې قوت ومومي. ایا کولی شئ چې په دې هفته کښې یاد شوي مسیحي صفتونه په خپل ژوند کښې عملي کړئ.

## د خدای په کورنۍ کښې خدمت کول

د مسیح د بدن د یوې برخې او د خدای د کورنۍ د یو غړي په توګه مونږ ته لارښوونه شوې ده چې یو تربله په پوره هم آهنګۍ سره ژوند وکړو، کار وکړو او عبادت وکړو. څرنګه چې مونږ لا تراوسه پورې کامل شوي نه یو، نو کله کله په کلیسا کښې ستونزې را پیداکیږي او په ډیرې آسانۍ سره د نفاق سبب کیږي. دغه ستونزې د رسولانو د اعمالو په کتاب او د کورنتیانو په رساله او یا په فلیپیان ٤: ۲ کښې وینو. مقدس کتاب په روښانه توګه بیانوي چې د دنیا د معیارونو په مطابق په هم آهنګۍ سره ژوند تیرول څومره مشکل دی. ایماندارانو ته دا نصیحت شوی دی چې د یو او بل سره مینه وکړئ. "ستاسو مینه باید د اخلاص له مخې وي. یو او بل سره د ورورګلوۍ مینه وکړئ او هریو باید د خپل ځان څخه د نورو ډیر احترام وکړي" (رومیان ۱۲: ۹- ۱۰). احترام د محبت کولو یوه لاره ده. اکثره ځوانان زړو خلکو اوخپلو مشرانو مسیحي ورونو ته په احترام کولو کښې پاتې راځي او دا یو غلط کار

دی. (اول تيموتيوس ٥: ١). له بلې خوا پولوس تيموتيوس ته وايي: "زاړه خلک دې هم بايد ستا درناوی او احترام وکړي که څه هم ته ځوان يې" (اول تيموتيوس ٤: ١٢).

احترام کول يوه رويه ده. احترام بايد خپل ځان په عمل کښې څرګند کړي. د خپلو ورونو سره ښه وکړئ. "د نيکو کارونو څخه بايد ستړي نشو. اکثره وختونه چې زمونږ سره فرصت وي بايد د هرچا سره ښه وکړو او په خاصه توګه د هغه چا سره چې د ايمان په اساس زمونږ ورونه دي" (ګلتيان ٦: ٩- ١٠).

څرنګه کولی شو چې يو ښه کار وکړو؟ اول بايد د خپل ورور ګټې په نظر کښې ونيسو نه دا چې د خپل ځان ګټې (اول کورنتيان ١٠: ٢٤).

دا په خاصه توګه د نويو ايماندارانو او هغو ايماندارانو دپاره ضروري ده چې په ايمان کښې کمزوري وي. داسې کار بايد ونکړو چې د هغوی ايمان ته زيان ورسيږي. حتی د هغوی سره په داسې حالاتو کښې چې زمونږ دپاره ناآراموونکې او ځورونکې هم وي مرسته وکړو.

"مونږ چې په ايمان کښې قوي يو بايد د کمزرو خلکو سره د هغوی د بار په اوچتولو کښې مرسته وکړو. مونږ بايد د خپلې خوشحالۍ پسې ونه ګرځو، بلکه دخپل شاوخوا خلکو د خيريت او قوي والي او د هغوی د آرامۍ په فکر کښې اوسو" (روميان ١٥: ١- ٢).

پولوس د روميانو د رسالې په پنځلسم فصل کښې وايي

چې د نورو سره د اړيکو ساتل حليمي (۵ آيت)، زغم او د نورو منلو ته (۷ آيت) اړتيا لري، لکه څنګه چې مسيح وښودل (۸ آيت).

د نورو سره د نيکۍ کولو په خاطر بايد دخلکو اړتياوې وپيژنو. ايا په کليسا کښې کوم ناروغ نفر شته؟ يا دا چې بيکاره وي او يا مادي احتياج ولري؟ دا زمونږ وظيفه ده چې ضرورتونه وپيژنو او د هغو د پوره کولو دپاره کوښښ وکړو. "لکه څنګه چې په مسيح کښې د ورونو سره ښايي، يو د بل سره مينه وکړو. هميشه بايد ميلمه پال اوسئ. ياد ساتئ چې پرديو خلکو ته چې ستاسو کورونو ته درځي هرکلی ووايئ، ځينو خلکو همداسې وکړل، هغوی فرښتو ته هم هرکلی ووايه بې له دې چې هغوی وپيژني. بنديان داسې يادوئ لکه په خپله چې د هغوی سره بنديان ياست او مظلومان مه هيروئ ځکه چې تاسو هم د هغو په شان مظلومان ياست" (عبرانيان ۱۳: ۱- ۳).

دا د محبت عمومي حکم دی چې بايد په همدې ډول ورڅخه پيروي وشي. دا ياد ساتئ چې ميلمه پال اوسئ، ياد ساتئ چې د زندانيانو څخه ليدنه وکړئ، د ځوريدلو سره مرسته وکړئ. عيسی مسيح وويل چې په اخرني قضاوت کښې به خلک د خپلو نيکو او بدو اعمالو له مخې تر قضاوت لاندې نيول کيږي.د ورور سره مينه کول او په هغه باندې مهرباني کول، د خدای سره د مينې کولو په شان دي. "په دې پوه شئ که چيرې هغه څه چې تاسو زما د يو ډير کوچني ورور سره وکړل، په حقيقت کښې له ماسره مو کړي دي" (متي ۲۵: ۴۰).

ځینې خلک په روحاني کارونو باندې دومره بوخت شي چې دا خبره له یاده وباسي چې باید خپل ایمان په عمل کښې څرګند کړي. دا د یعقوب پیغام و چې کله هغه اصلي روحانیت تشریح کاوه: "کله چې یتیمان او کونډې د مصیبت سره مخامخ وي په هغوی باندې پام کوئ او خپل ځان د دنیا د فساد څخه لیرې ساتئ" (یعقوب ۱: ۲۷).

په اولنیو مسیحیانو کښې مونږ حقیقي روحانیت وینو، یعنې هغه روحانیت چې خپل ځان یې په یووالي، حقیقي او عملي محبت کښې ښکاره کاوه. کله به چې هغوی کوم احیتاج ولید ، نو ټولو به د هغه په پوره کولو کښې لاس پورې کاوه، لکه څنګه به چې عیسی کول. دا کار باید په الهي کورنۍکښې زمونږ یو مقصد وي."ټول ایمانداران د زړه له کومي سره یو شوي وو او هیڅا خپله شتمني د خپل ځان نه ګڼله بلکه ټول یو د بل په شیانو کښې سره شریک وو" (د رسولانو اعمال ٤: ۳۲).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

2. هغه صحیح عبارت په ګوته کړئ کوم چې د مسیح په بدن کښې د خدمت کولو څرګندوونکی وي:

أ) په مذهبي مشر باندې د هغه د مینې د نشتوالي له امله انتقاد کول.

ب) د کونډو سره مرسته کول.

ج) د یو نوي ایماندار سره مرسته کول ترڅو د خدای په کلام باندې ښه پوه شي.

د) د مشکل په وخت کښې د مسیحي کورنیو سره مرسته کول.

ه) د هغه ورور پورې خندل چې کالي یې زاړه وي.

و) خپل کور ته د کلیسا د بې اهمیته خلکو بلنه.

ز) د یو دولتمند مسیحي ورور سره مرسته کول چې هغه هم په بدل کښې تاسو ته کوم کار وکړي.

3. په اول درس کښې ستاسو څخه وغوښتل شول ترڅو د خپلو هغو مسیحي ورونو په باره کښې فکر وکړئ کوم چې ستاسو په شاوخوا کښې دي. او د دې یادونه وشوه چې که تاسو د هغوی د اړتیاوو دپاره د خدای د ځواب یوه برخه وئ. تاسو به اوس په دې باندې توانیدلي یاست او د هغوی مشکلات به مو لیدلي وي او د هغې د پوره کولو دپاره به پوره تیاری ولرئ. په خپله کتابچه کښې د هغو پنځو مسیحیانو نومونه ولیکئ چې تاسو دا توان لرئ چې د هغوی سره مرسته وکړئ او وروسته چې تاسو د هغوی دپاره هرڅه کړي وي، په اخر کښې یې ولیکئ.

## د خدای په کورنۍ کښې نظارت کول

اولنیو مسیحیانو خپله مینه او یووالی یو د بل سره د خپل مال او جایداد په شریکولو سره ښودله. هغوی په خپل مال او جایداد کښې د نورو په شریک کولو سره دا څرګندوله چې هغوی بامسئولیته ناظران دي. کله چې د انطاکیه کلیسا خبره شوه چې د هغوی هغه ورونه چې په یهودیه کښې دي د مالي ستونزو سره مخامخ دي، د هغوی سره یې مرسته وکړه (اعمال ۱۱: ۲۹). کیدای شي چې پولوس ته هغه پیښه ورپه یاده وه کله چې هغه د روم کلیسا ته ولیکل: "خپل مال او جایداد د خپلو مجتاجو مسیحي دوستانو سره وویشئ او خپلې دروازې د بیګانه خلکو په مخ پرانیزئ" (رومیان ۱۲: ۱۳). میلمه پالنه لکه د نورو سره د خپل مال د شریکولو په شان دواړه خدمت او نظارت دی. دا د نورو سره مرسته کول دي. او دا د خپل مال څخه د نورو سره د مرستې کولو دپاره ښه ګټه اخیستل دي. هغه څه چې په پنځم لوست کښې د نظارت په اړوند وویل شو هغه درپه یاد کړئ، هر څه چې لرو هغه د خدای له خوا یو پور دی ترڅو هغه د خدای دجلال او د نورو سره د ښیګڼې دپاره استعمال شي. همدارنګه باید د خپلو پیسو څخه د انجیل د زیري دپاره مرسته وکړو. یوحنا رسول خپل دوست قایوس ته لیکي چې د هغو خلکو سره مرسته وکړي چې د انجیل دد زیري د خپرولو دپاره کار کوي. حتی که هغه بیګانه هم وي. "نومونږ مسیحیان وظیفه لرو چې د داسې خلکو سره باید مرسته وکړو ترڅو مونږ هم د هغوی په کار کښې چې د حقیقت په خپرولو کښې یې کوي، شریک شو" (دریم یوحنا ۸).

د هغو خلکو څخه په ملاتړ کولو سره چې د خدای دپاره کار کوي په هغه کار کښې شریک شو او دخدای په خدمت کښې

شامل شو. خدای دا ډول اعانه داسې د هغې خوږې موسکا په شان ده چې خدای ته يې وړاندې کوو، يوه داسې قرباني چې هغه ته د منلو وړ ده او د هغه د خوشحالۍ سبب ګرځي (فليپيان ٤: ١٨).

مونږ کولی شو چې په شخصي ډول د کليسا په کار کښې برخه واخلو. کيدای شي چې تاسو خپل وخت او انرژي د انجيل د زيري د خپرولو په کار کښې مصرف کړئ او يا په کليسا کښې د نورو سره مرسته وکړئ. دا ډير ښه کار دی! خدای زمونږ څخه غواړي چې په خپل ټول توان سره د هغه خدمت وکړو. خو کيدای شي چې تاسو لارښوونې ته اړتيا ولرئ چې څنګه وکولی شئ په ډيرې ښې طريقې سره د کليسا خدمت وکړئ. يا هغه څه چې خدای تاسو ته درکړي دي له هغو څخه په معقوله توګه ګټه واخلئ. دا هغه حالت و چې د قرنتس د ښار ايماندارانو د روحاني نعمتونو په اړه درلود. هغوی غيرت درلود، خو خبر نه وو. هغوی داسې فکر کاوه چې هريو بايد يو ډول روحاني نعمت ولري. پولوس هغوی ته دا خبره وريادوي چې هغوی د مسيح بدن دی. او بدن مختلف غړي لري چې مختلفې وظيفې لري. هغه د ځينو نعمتونو يادونه کوي او د کورنتيانو څخه غواړي چې د دې نعمتونو څخه د مسيحيت او د نورو سره د مرستې کولو په خاطرکار واخلي (اول کورنتيان ١٤: ٤ او ١).

د هغو ټولو نعمتونوڅخه چې خدای راکړي دي مقصد د کليسا جوړول دي ترڅو مسيحيان نورهم د مسيح په شان شي (اول کورنتيان ١٤: ١٢). د دې نعمتونو څخه ځينې يې د کليسا د خدمت دپاره دي، يعنې د عبادت او د خدای د پيغام د

بیانولو دپاره. خو هغه ټول د کلیسا د جوړولو او قوي کیدلو دپاره دي (اول کورنتیان ۱٤: ۲٦). نور یې په کمه اندازه د پام وړ دي خو هغه هم د نورو نعمتونو په شان ضروري دي. لکه خدمت، تعلیم، اعانې، تنظیمول او مهرباني کول (رومیان ۱۲: ٦- ۸).

مونږ مسیحیان د مسیح د بدن غړي یو او هر غړي مختلفې وظیفې لري (رومیان ۱۲: ٤- ٥). نو له دې کبله باید د هغو مختلفو نعمتونوڅخه چې خدای دخپل فضل له مخې مونږ ته راکړي دي کار واخلو. که چیرې مونږ ته د خدای دکلام د خپرولو نعمت راکړل شوی وي نو مونږ باید دخپل ایمان له مخې دا کار سرته ورسوو (رومیان ۱۲: ٦).

نو د هغو ناظرینو په توګه چې د خدای نعمتونه مو تر لاسه کړیدي، باید درې کارونه وکړو: اول باید دعا وکړو او په ایمان کښې دخپلو مشرانو ورونو څخه وغواړو چې زمونږ سره مرسته وکړي ترڅو هغه نعمتونه چې خدای راته راکړي دي وپیژنو. دوهم دا چې د هغو څخه باید کار واخلو او نور نعمتونه وغواړو چې په مینې او محبت کې ترې کار واخلو او هغو ته وده ورکړو (اول کورنتیان ۱۲: ۳۱). دریم دا چې مونږ باید نور مسیحیان هم تشویق کړو چې همداسې کار وکړي، او په دې ډول کولی شو د هغوی سره مرسته وکړو چې ښه نظارت کوونکي اوسي، لکه څنګه چې برنابا د پولوس سره مرسته وکړه ترڅو پولوس خپل د تعلیم ورکولو نعمت ته وده ورکړي (اعمال ۱۱: ۲٥- ۲٦).

دا مو بايد په ياد وي چې دا په خپله عيسی مسيح دی چې مونږ ته استعدادونه راکوي، که هغه طبيعي استعدادونه دي يا روحاني استعدادونه او لکه څنګه چې افسيان ٤: ٧- ١٦ وايي هغه ټول يې ددې پاره ورکړي دي چې خپل خلک دې ته تيار کړي چې د هغه ښه خدمت وکړي او ټوله کليسا جوړه کړي. "د بدن ټول غړي د هغه د ارادې له مخې د هغو بندونو په وسيله چې تيار شوي دي، يو د بله سره تړل شوي او پيوند شوي دي، نو که چيرې د بدن هر غړی په جلا ډول خپل کار وکړي، ټول بدن به وده وکړي او خپل ځان به د محبت په اساس جوړ کړي" (افسيان ٤: ١٦).

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

4. هغه صحيح عبارت په ګوته کړئ کوم چې په کليسا کښې د ښه مسيحي نظارت څرګندوونکی وي:

أ) د هغو سرودونو ويل چې څښتن تاسو ته درکړي دي.

ب) خپل کور ته د مسيحيانو بلنه.

ج) د دې کار دپاره تياری چې خدای ستاسو څخه د کليسا په خدمت کولو کښې کار واخلي.

د) دا کوښښ وکړئ چې تاسو يوازينی نفر و اوسئ چې په کليسا کښې دعا کوي او يا په مختلفو ژبو باندې خبرې کوي.

ه) په هر اړخيزې دعا او ملاتړ کولو سره د نورو په کارونو کښې مرسته وکړئ.

و) نورو ته اجازه ورکړئ ترڅو هغه څه چې هغوی د خدای د کلام څخه درک کړي دي، بيان کړي.

5. يا يوازې دعا وکړئ او يا د يوه بالغ مسيحي سره دعا وکړئ ترڅو خپل هغه نعمت وپيژنئ کوم چې خدای تاسو ته درکړی دی. په خپله کتابچه کښې لږ تر لږه يو نعمت چې تاسو يې لرئ وليکئ او داسې لارې چارې را پيدا کړئ چې د هغه نعمت په وسيله وکولی شئ د کليسا د برکت سبب شئ. تاسو کولی شئ چې د خپل مذهبي مشر څخه وغواړئ چې تاسو ته لارښوونه وکړي چې د خپلو نعمتونو څخه څرنګه په ښه توګه کار واخلئ.

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۳- ستاسو خپل ځواب

۱- هغه ټکي چې حلقه بايدورڅخه تاوه کړئ: مهرباني، د مهربانۍ او رحم احساس، فکري يووالی، دوه اړخيزه محبت او ګډ هدف، عاجزي، نور خلک د خپل ځان څخه لوړ ګڼل، د نورو په ګټه فکر کول.

هغه ټکي چې د هغو لاندې بايد خط وباسئ: ځان خوښونه، سيالي او يا حسد کول، د خپل ځان په باره کښې فکر کول.

٤- الف، ب،ج، ه، او و

٢- ب، ج، د او و

٥- **ستاسو خپل ځواب**

اتم لوست

# خدای تاسو ددې دپاره استوي چې د نړۍ خدمت وکړئ

که چیرې تاسو د خپلو دوستانو څخه پیسې قرض کړئ چې د هغو د بیرته ورکولو توان ونلرئ نو څه به کوئ؟ کله چې مونږ په افریقا کښې اوسیدلو، هلته د قرض دپاره یوه آسانه لاره موجوده وه. یوه خلطه مالګه د قرض د ادا کولو دپاره کافي وه. ځکه چې په هغه وخت کښې د مالګې پیدا کول ډیر سخت کار ؤ او خلکو ورته زیاته اړتیا لرله. نو که چیرې تا به پیدا کړه نو ډیر به خوشحاله وې.

مالګه زمونږ په ژوند کښې ډیر مهم رول لري. مالګه د خواړو د خرابیدلو څخه مخنیوی کوي. حتی د ډیرو ناروغیو لکه د ستونې د درد دپاره ورڅخه کار اخیستل کیږي، کله کله د زخمونو د مینځلو دپاره هم ورڅخه کار اخیستل کیږي چې

البته د هغې استعمالول د درد سبب هم کیدای شي. مالګه په خواړو کښې د خوند د زیاتولوپه خاطرهم استعمالیږي او خواړو ته خوند وربخښي.

عیسی وویل چې مالګه ښه شی دی (لوقا ۱٤: ۳٤). همدارنګه هغه هغو خلکوته چې په هغه باندې یې ایمان راوړ وویل: "تاسو د دنیا مالګه یاست" (متي ٥: ۱۳). او خپلو شاګردانو ته یې خبرداری ورکړ چې خپل د مالګې خاصیت له لاسه مه ورکوئ.

دغه مثال څه معنی لري؟ د عیسی مقصد دا و چې اول باید د هغه شاګردان د نوروسره فرق ولري. لکه څنګه هر نفر مالګه د هغې د خوند څخه معلوموي، نو مسیحیان هم باید د خپل خاص او د نوروڅخه د مختلف ژوند په درلودلو سره وپیژندل شي. له بل پلوه عیسی غوښتل چې مسیحیانو ته د هغوی وظیفې وروښایي ترڅو د هغې مالګې په شان چې خواړه د ککړتیا څخه لیرې ساتي، نو مسیحیان هم باید د خپلې ټولنې د پاکۍ او سلامتۍ سبب شي. دنیا زمونږ رڼا ، زمونږ مالګې او زمونږ پیغام ته اړتیا لري. لکه څنګه چې خدای مونږ ته ویلي دي باید هماغه شان واوسو. زمونږ ژوند باید د خدای د فضل او عدالت څرګندوونکی وي ترڅو دنیا خدای وپیژني او خلاصون ومومي.

# هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ مالګه ساتل کوي: د خدای د محبت ښودنه
- ❖ مالګه پاکول کوي: د خدای د عدالت ښودنه
- ❖ مالګه خوند وربخښي: د خدای د پیغام خپرول

# دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- ▪ د خپل مسیحي ژوند په تاثیر باندې چې ستاسو په چاپیریال باندې یې کوي پوه شئ.
- ▪ هغه کارونه معلوم کړئ چې د خپلې ټولنې دپاره یې کوئ.

## مالګه ساتل کوي: د خدای د محبت ښودنه

"ګرانو دوستانو! مونږ باید یو د بله سره مینه وکړو، ځکه چې دوستي او مینه د خدای له طرفه دي. څوک چې مینه کوي هغه د خدای اولاد دی او هغه خدای پیژني. خو هغه څوک چې مینه نکوي هغه د خدای څخه بیخي خبر نه دی. ځکه چې خدای محبت دی" (اول یوحنا ٤: ٧- ٨). په دې کې شک نشته چې د

خدای د زوی والي اولنۍ بیلګه محبت دی. په تیر لوست کښې مونږ د ورونو سره د مینې کولو په اهمیت باندې پوه شو چې هغه د یووالي، د کلیسا د جوړیدلو او د ښو کارونو سرچینه ده. د یو مسیحي محبت یوازې په خبرو کښې نه بلکه په عمل کښې وي (اول یوحنا ۳: ۱۸). او دا قسم محبت به زیات تاثیر ولري. عیسی مسیح په دې خبره پوهیده چې کله هغه خپلو شاګردانو ته وویل: "یو د بله سره مینه وکړئ لکه څنګه چې ما تاسو سره مینه کوله. که چیرې یو د بله سره مینه ولرئ نو ټول خلک به پوه شي چې تاسو زما شاګردان یئ" (یوحنا ۱۳: ۳۵). مونږ پوهیږو چې محبت زمونږ د ژوند د دوام دپاره لاژم دی او زمونږ په اوسنۍ دنیا کښې حقیقي محبت نشته. کله چې خلک داسې نفر ویني چې په اخلاص او صداقت سره یو د بل سره مینه کوي او په خپلو کښې د یو او بل په باره کښې فکر کوي، نوهغوی به حیران شي. د کلیسا د رهبرانوڅخه یو رهبر وایي: "که چیرې نن ورځ مسیحیان یو د بل سره د مقدس کتاب د وینا په مطابق مینه وکړي، نو زیات خلک به کلیساګانو ته راشي". یو مسیحي لیکونکی وایي: "کلیسا باید داسې عمل وکړي چې په دنیا کښې د مینې کموالی پوره شي". عیسی هم ویلي دي چې کله دنیا وګوري چې مسیحیان په محبت کښې یو د بل سره په یو زړه دي، هغوی به ایمان راوړي. "ترڅوهغوی ټول سره یو وي لکه څنګه چې ای پلاره په ما کښې یې او زه په تا کښې، او هغوی هم په مونږ کښې سره یو وي، ترڅو دنیا په دې باندې ایمان راوړي چې تا زه رالیږلی یم" (یوحنا ۱۷: ۲۱).

هغه محبت چې خدای زمونږ په زړونو کښې اچولی دی، هغه یوازې د مسیحیانو دپاره نه دی، خدای د دنیا سره مینه

کوي، مونږ هم بايد د خلکوسره مينه وکړو. زمونږ محبت د هغوی دپاره مالګه ده. پولوس ايمانداران هڅوي چې په مينه کې وده وکړي، "داسې دې وشي چې تاسو د يواو بل سره مينه وکړئ او دا مينه زياته او پراخه شي" (اول تسالونيکيان ۳: ۱۲).

د خدای لوی حکمونه دا دي چې په اول قدم کښې دخدای سره مينه وکړو او بيا د خپل ګاونډي سره د خپل ځان په شان مينه وکړو. کله چې د شريعت د ښوونکو څخه يو تن د عيسی څخه پوښتنه وکړه چې زما ګاونډی څوک دی، عيسی هغه ته د هغه نيک سامري قصه وکړه. دا قصه دا وايي چې هرڅوک چې مونږ وينو هغه زمونږ ګاونډی دی. زمونږ محبت بايد د هغه سره حقيقي محبت وي. څنګه کولی شو چې د خپل ګاونډي سره مينه وکړو؟ بايد هغه مينه چې د مسيحيانوسره يې لرو د هغوی سره يې هم ولرو. بايد خپل ځانونه د هغو څخه جدا نکړو. بايد د هغوی په ستونزو باندې ځانونه پوه کړو او د هغوی په فکر کښې اوسو. دخدای کلام وايي:

"هغه مونږ ته په ټولو سختيو او زحمتونو کښې آرام راکړ ترڅو وکولی شو د هغې آرامۍ څخه چې خدای مونږ ته راکړی دی، هغو خلکو ته آرام ورکړو کوم چې په ډول ډول ستونزو کښې راګير دي" (دوهم کورنتيان ۱ : ٤).

عيسی کولی شي چې د يو وږي په درد باندې پوه شي. کله چې هغه يوه وږې ډله وليدله نو زړه يې ورباندې وسوزيده او هغوی ته يې ډوډۍ ورکړه (متي ۱۵: ۳۲- ۳۸). مونږ هم بايد

وړېيو خلکو ته ډوډۍ ورکړو او هغوی ته دا خبره ورزده کړو چې کار وکړي ترڅو ډوډۍ ته مجتاج نشي. څرنګه چې خدای مونږ ته هرڅه راکړي دي نو باید داسې فکر ونکړو چې مونږ د نورو څخه لوړ يو او خپل ځانونه دنورو څخه ډير پاک وګڼو. عيسی د ګناهکارانو د دوست په نوم يادیده، کله چې هغه زکي باجګير وليد نو هغه يې محکوم نکړ او د عيسی همدې مينې زکي بدل کړ ځکه چې عيسی خپل ځان د هغه څخه جلا نکړ. "ځکه خدای ددې دپاره دنيا ته راليږلی نه ؤ چې د دنيا خلک ملامته کړي، بلکه هغوی ته خلاصون ورکړي" (يوحنا ۳: ۱۷).

تاسو هم د يو مسيحي په توګه دنيا ته استول کيږئ چې د غريبانو سره مرسته وکړئ، محتاجو خلکو ته وخت ورکړئ، مصيبت وهلو ته تسلي ورکړئ، د ناروغانو سره مرسته وکړئ، ورک شوي ولټوئ او خلاصون ورته ورکړئ (يوحنا ۱۷: ۱۸).

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

1. اول تسالونيکيان ۳: ۱۲ وليکئ او هغه په ياده ياد کړئ او په خپلو ورځينيو دعاګانو کښې يې شامل کړئ.
2. له دعا څخه وروسته د خپل چاپيريال په باره کښې فکروکړئ. ايا داسې يو څوک پيژنئ چې په ستونزو اخته وي؟ ايا داسې نفر پيژنئ چې کالي نه لري، ډوډۍ نه لري، دوست نلري يا کوم بل احتياج ولري؟

د داسې خلکو لست جوړ کړئ او فکر وکړئ چې د هغوی دپاره څه کار کولی شئ؟

## مالګه پاکول کوي: د خدای د عدالت ښودنه

هغه دنیا چې مونږ په کښې ژوندکوو هغه د بې عدالتۍ او ظلم څخه ډکه ده. نتیجه یې دا ده چې خلک د خدای د انصاف څخه بې خبره دي. د خدای زامن خپلو کارونو ته په دنیا کښې د عیسی په شان دوام ورکوي. له محبت څخه علاوه د خدای د شخصیت یو بل اړخ عدالت دی. دا په دې معنی ده چې دنیا د بې عدالتۍ څخه پاکه شي، لکه د مالګې په شان چې په خواړو کښې د خرابوالي مخنیوی کوي. د خلکو رویه او عملونه د ځان غوښتنې، غرور، تنبلۍ او د پیسو سره د مینې څخه سرچینه اخلي. مونږهم مخکښې همداسې وو خو اوس زمونږ رویه او عملونه پاک شوي دي او په خپل ژوند کښې د نویو هدفونو څخه پیروي کوو.

"غل دې د غلا څخه لاس واخلي او د هغه په ځای دې په خپلو لاسونو یو شرافتمند کار وکړي ترڅو یو څه ولري چې محتاجو خلکو ته یې ورکړي. ستاسو د خولې څخه دې هیڅ کومه بده خبره رانه وزي، بلکه ستاسو خبرې دې په خپل وخت او ګټورې وي ترڅو د هغو په نتیجه کښې اوریدونکو ته فضل ورسیږي" (افسیان ٤: ٢٨- ٢٩).

مونږ باید په خپل ژوند کښې د روح میوې ښکاره کړو (ګلتیان ٥: ٢٢). زمونږ رویه باید د نورو خلکو د رویې سره پوره

فرق ولري (اول پطروس ۲: ۱۲). مونږ باید صادقان، فعال او رښتیني اوسو او په همدې ډول د دې شوق ولرو چې همدا صفتونه په ټولنه کښې هم ووینو. کله چې عیسی په عبادتخانه کښې سوداګر ولیدل چې په اخیستلو او خرڅولو باندې بوخت دي، هغه ټول یې بیرون وشړل (متي ۲۱: ۱۲- ۱۳). عیسی د عدالت او انصاف علاقمند ؤ او د دروغو او ریاکارۍ څخه یې کرکه کوله. او له همدې کبله یې د مذهبي فریسسیانو د ریاکارۍ سره مخالفت کاوه. او هغوی یې د سپین شویو قبرونو په نوم یادول چې په ښکاره ښکلي ښکاریدل مګر دننه د مړو د هډوکو او ډول ډول چټلیو څخه ډک وو. هغوی په رښتیا سره ریاکاره او د بدیو څخه ډک مړي وو (متي ۲۳: ۲۷- ۲۸).

څښتن د دروغو او ریاکارۍ سره مخالف دی. هغه د حنانیا او سفیره ټکي بې سزا پرینښودله (اعمال ۵: ۱- ۱۱). هغوی هڅه کوله د هغو پیسو په باره کښې دروغ ووایي کومې چې خدای ته یې ورکولې، خو د خدای روح پطروس د دې چل څخه خبر کړ او څښتن هغوی دواړه له منځه یوړل. دروغ ویل په خدای باندې ملنډې وهل دي او د کلیسا د شرم سبب ګرځي. خدای ناراستي بې سزا نه پریږدي هغه د مسیح د دښمنانو په قضاوت کښې سستي نه کوي. ایا تاسو ته د علیما نومي جادوګر قصه چې د رسولانو د اعمالو په کتاب کښې ده درپه یاده ده چې د پولوس او برناباه سره یې مخالفت کاوه (اعمال ۱۳: ٦- ۱۲). هغه هڅه کوله چې د انجیل د زیري مخه ونیسي خوخدای هغه ته سزا ورکړه او تر یو وخته پورې ړوند ؤ. خدای

همیشه داسې په مستقیمه توګه عمل نکوي لکه څنګه چې یې په تیرو مثالونو کښې کړی ؤ. خو زمونږ څخه غواړي چې د ټولنې په اصلاح کولو کښې کوښښ وکړو.

زمونږ سپیڅلی خدای د بې انصافۍ څخه کرکه کوي. په زړه لوظنامه کښې خدای قوم څو څو ځلې د دې دپاره رټلی دی چې هغوی به د غریبانو حقوقو ته توجه نکوله. "انصاف کوئ، د هغو خلکو سره مرسته وکړئ چې ظلم وربانديې کیږي، یتیمانو ته خپل حقونه ورکړئ او د کونډو څخه ملاتړ وکړئ" (اشعیاه ۱: ۱۷). خدای بیا بیا د خپل قوم سره د همداشان ټولنیزو مسئلو په باره کښې چې د ټولو خلکود تکلیف سبب ګرځي، خبرې کړې دي. هغه په واضیحه توګه دا سې لارښوونې کړیدي: "هغه کارونه چې تاسو یې باید وکړئ: یو او بل ته رښتیا ووایئ، په محکمه کښې رښتینی انصاف وکړئ- یعنې هغه شان چې سوله رامنځته کړي. داسې پلان مه جوړوئ چې یو او بل ته زیان ورسوئ. د قسم په یادولو سره په دروغو شاهدي مه ورکوئ. ځکه چې زه د درواغ ویلو، بې انصافۍ او ظلم څخه کرکه کوم (زکریا ۸: ۱٦- ۱۷).

یو مسیحي په خپله د خپل ژوند مسئولیت په غاړه لري. هغه باید د نورو دپاره د نیکو کارونو یوه نمونه وي. لکه څنګه چې په دوهم درس کښې وویل شول، پاک اوسي ځکه چې پلار یې پاک دی او ترڅو پورې چې کولای شي باید په خپله ټولنه کښې د انصاف او عدالت څرګندوونکی اوسي. اوکه چیرې تاسو د دې علاقه لرئ چې د خپلې ټولنې په مقابل کښې د یو

مسیحي وظیفې وپیژنئ نو په همدې نوم یو درس شته چې کیدای شي ستاسو دپاره ګټور وي.

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

3. هغه عبارت په ګوته کړئ کوم چې د یو مسیحي د صحیح عمل ښودونکی وي:

أ) کله چې یو دکاندار ستاسو د پاتې شویو پیسو څخه زیاتې درکړي هغه بیرته ورته ورکړئ.

ب) کله چې تاسو ته د خپل کار د اندازې څخه زیاتې پیسې درکړل شي نو خپل مشر ته په دې هکله حقیقت ووایئ.

ج) کله چې تاسو کومه غلطي کړې وي، د هغې څخه منکر شئ.

د) د ځان ښودنې دپاره ښه کارونه وکړئ.

ه) د هغه چا سره مینه وکړئ چې نور خلک ورسره مینه نکوي.

4. د هغو لارو چارو یو لست جوړ کړئ چې د هغه په وسیله وکولی شئ د خپلو دوستانو سره مینه وکړئ.

## مالګه خوند بخښي: د خدای د پیغام خپریدل

دا د حیرانتیا خبره ده چې کله مونږ فکر کوو چې خدای مونږ ته محتاج دی. دا هغه پلان دی چې خلک زمونږ په وسیله

په عیسی مسیح کښې د خلاصون زیری واوري! مونږ چې د خدای اولادونه یو، د دنیا مالګه یو او دا په یاد لرئ چې مالګه یوازې دا نه چې د خرابوالي څخه مخنیوی کوي او پاکوالی رامنځته کوي، بلکه خواړو ته خوند هم ورکوي. په هر شي باندې چې مالګه ولګیږي نو هغه شی د مالګې خوند اخلي. د خدای مقصد هم دا دی چې د هغه مالګه یعنې د هغه په اولادونو باندې دې ټوله دنیا داسې وپوښل شي ترڅو په ټولو خلکو باندې چې په هرځای کښې دي لکه د مالګې په شان تاثیر وکړي. پولوس رسول هم همداسې خبرې کوي او مختلف لغتونه او تصویرونه استعمالوي: یعنې عطر او خوشبویي. عطر د خوشبویه ګلانو څخه جوړیږي او د هغو بوی ډیر ژر په هرځای کښې خپریږي. کله چې یو څوک د عطرو بوتل خلاص کړي یا کوم خوشبویه لرګی وسوزوي نو د هغه بوی ډیر ژر خپریږي کټ مټ لکه د مالګې په شان کوټه ډیر د خوشبویۍ څخه ډکیږي. کله چې څوک دې کوټې ته ورننوزي نو سمدستي بوی ورباندې لګیږي. مسیحیان هم همدا سې دي.

کیدای شي چې هغه یې خوښ نشي خومهمه دا ده چې هغوی پوهیږي چې په دې ځای یو تازه بوی شته. پولوس د مسیحیانو په اړوند هم داسې وایي: "خدای زمونږ څخه کار اخلي چې د خدای معرفت په هرځای کښې لکه د خوشبویۍ په شان خپورکړو، ځکه چې مونږ د هغې خوشبویۍ د بوی په شان یو چې د مسیح په وسیله خدای ته وړاندې کیږو او د هغې ښه بوی هم د هغو خلکوپه منځ کښې چې خلاصون مومي او هم د

هغو خلکو په منځ کښې چې هلاک کيږي، خپريږي" (دوهم کورنتيان ۲: ۱٤- ۱٥).

د دې آيت څخه مونږ ډير درسونه زده کولی شو. دې ټکي ته پام وکړئ چې دا دخدای نقشه ده چې جهان دې په دې ډول خلاصون ومومي، نه زمونږ نقشه. مونږ د خدای د خدمتګارانو په شان (که څه هم د خدای اولادونه يو) دا وظيفه لرو چې د هغه حکمونه ومنو او د نورو سره د عيسی مسيح په باره کښې خبرې وکړو. هغه څه چې مسيح آسمان ته دختلو څخه مخکښې وويل، هغه درپه ياد کړئ: "لاړ شئ او ټول قومونه زما شاګردان کړئ او هغوی ته د پلار، زوی او روح القدس په نوم د تعميد غسل ورکړئ او دا تعليم ورکړئ چې هغه څه چې تاسو ته مې ويلي دي هغه سرته ورسوي او په دې پوه شئ چې زه هره ورځ د دنيا د تر فنا کيدلو پورې ستاسو سره يم" (متي ۲۸: ۱۹- ۲۰).

د ټللو او شاګرد جوړولو، د مسيح او مسيحي اخلاقو په باره کښې د تعليم ورکولو د حکم سره ډيرې عجيبه وعدې هم ملګرې دي. "زه به تل ستاسو سره يم" او دا خبره ثابتوي چې څښتن زمونږ څخه کار اخلي او مونږ يوازې نه يو. دا لازمه نه ده چې مونږ په خپل توان او حکمت باندې تکيه ولرو. مونږ د روح القدس په نوم يو وفادار دوست لرو چې زمونږ سره مرسته کوي. څښتن خپلو شاګردانو يوه بله وعده هم ورکړه: "خو کله چې په تاسو باندې روح القدس نازل شي نو تاسو به قدرت ولرئ او په اورشليم، يهوديه ، سامريه او د دنيا په ډيرو لرې پرتو ځايونو کښې زما شاهدان اوسئ" (اعمال ۱: ۸). او هرڅومره چې د خدای د روح څخه زيات ډک شو، نو د هغه د لارښوونو په مقابل

کښېږي به حساس شو. هغه به زمونږ سره په هغه وخت کښې چې د خلکو سره خبرې کوو مرسته کوي او مونږ ته پوهه راکوي چې د خبرو کولو دپاره کومه طریقه ښه ده ترڅو د خلکو احتیاجونه پوره شي. مونږ ته د عصبي کیدو یا پریشانه کیدلو ضرورت نشته، دا د خدای د روح کار دی نه زمونږ، چې نور خلک په دې باندې قانع کړو چې عیسی د خلاصون لاره ده (یوحنا ۱۶: ۸- ۱۱).

نو بیا زمونږ کار څه شی دی؟ هغه دا دی چې مونږ دې ته اجازه ورکړو چې خدای زمونږ څخه کار واخلي. یعنې دا چې شاهدان اوسو. شاهد هغه چا ته ویل کیږي چې یوه موضوع یې پخپله تجربه کړې وي او هغه نورو ته وایي. د مسیح شاګردان د دې شاهدان وو چې عیسی له مرګ څخه وروسته راژوندی شوی دی (اعمال ۳: ۱۵). هغوی هر ځای ته تلل او ویل یې چې عیسی مونږ د پورته تللو په وخت کښې لیدلی دی او بیا به یې د عیسی مسیح د پورته کیدلو بیان ورکاوه او ویل به یې: هغه په رښتیا د خدای زوی دی چې د انسان د ګناهونو په خاطر مړ شو او هرڅوک چې په هغه باندې ایمان راوړي د هغه ګناهونه به وبخښل شي او دخدای زوی به شي. ستاسو ژوند او د محبت او صداقت څخه ډک کارونه زمونږ د دنیا دپاره یو شهادت دی. خو یوازې دا کافي نه دي. دا یو خاموشه شهادت دی. مالګه د پاکۍ او ساتنې دپاره استعمالیږي خو که چیرې مزه ونلري نو په رښتیا سره مالګه نه ده. عیسی وویل چې که چیرې مالګه خپله مزه له لاسه ورکړي نو هغه به بې اهمیته شي (متي ۵: ۱۳). حتی زمونږ ښه ژوند به هم دخدای دپاره بې فایدې وي، که چیرې خلک په دې پوه نشي چې هغوی څرنګه

ښه شوي دي. مونږ باید د مسیح په باره کښې دخلکو سره خبرې وکړو. پطروس او یوحنا د عبادتخانې په ښکلې دروازه کښې یو ګوډ سړي ته شفا ورکړه (د رسولانو اعمال دریم فصل). کله چې خلکو دغه پیښه ولیدله، ډیر حیران شول. خو پطروس هغوی بې خبره پرینښودل او هغه یې ورته بیان کړه: "دا د عیسی قدرت ؤ او د هغه په نوم باندې ایمان ؤ چې دا سړی روغ شو" (اعمال۳: ۱٦).

خپله پطروس نورو ایماندارانو ته نصیحت کوي چې ښه رویه ولري:"د عیسی ویره دې ستاسوپه زړونوکښې وي او هغه ته د څښتن په توګه عزت ورکړئ. او که چیرې څوک ستاسو د امید په هکله چې لرئ یې پوښتنه وکړي نوهمیشه د ځواب دپاره تیار اوسئ، خو په نرمۍ او احترام سره" (اول پطروس ۳: ۱۵- ۱٦).

دې ته متوجه اوسئ چې زمونږ شهادت باید د هوښیارۍ له مخې وي او په نرمۍ سره وي، نه د نورو په ملامتولو سره، بلکه د احترام له مخې او بې له کوم لوړ والي څخه. که چیرې تاسو مخکښې د ګوبل یونیورسټۍ کورس نه وي لوستلی، یعنې د "شخصي بشارت" کورس، نو هغه ولولئ. په هغه کښې ډیرې ښې مشورې شته او تاسو سره به مرسته وکړي چې هوښیار او د مسیح دپاره یو ګټور شاهد و اوسئ.

بالاخره، د کلام د بشارت څخه وروسته به د هغه د نتیجې منتظر اوسو. پولوس وایي چې زمونږ خوشبویي به د هغو خلکو په منځ کښې چې خلاصون مومي او هم د هغو خلکوپه منځ کښې چې هلاک شوي دي خپره شي (دوهم کورنتیان ۲: ۱۵). او

دا موضوع مونږ ته دا ډاډګيرنه راکوي چې مونږ د دې مسئوليت نه لرو چې خلک مسيحيان کړو. تاسو نشئ کولی چې هغوی په زوره د خدای په پادشاهۍ کښې داخل کړئ. تاسو کولی شئ چې يوازې د خدای د استازي په توګه کار وکړئ. کولی شئ چې نور خلک تشويق کړئ او هغوی ته دا وښايئ چې خدای څومره نيک دی. ليکن دا د هر چا خپل انتخاب دی چې د خدای سره د پخلاينې پيغام قبلوي يا يې ردوي.

"نو مونږ د مسيح استازي يو او خدای زمونږ په وسيله تاسو رابولي. نو مونږ د مسيح د استازو په توګه ستاسو څخه غوښتنه کووچې د خدای سره پخلا شئ. مسيح بيخي بې ګناه ؤ خو خدای هغه زمونږ په خاطر بې ګناه ونه باله ترڅو مونږ د هغه سره په يووالي کښې په خپله د خدای په شان نيک شو" (دوهم کورنتيان ۵: ۲۰ - ۲۱).

د خدای شکر دی چې تاسو د خدای دوستان ياست. د خدای شکر دی چې تاسو د خدای په عدالت کښې شريک شوي يئ. د خدای شکر چې هغه ستاسو څخه کار اخلي چې د هغه کلام خپور کړئ. او د خدای شکر دی چې په مسيح کښې ستاسو نوی ژوند په عملي توګه ستاسو په کړو وړو او عملونو کښې ليدل کيږي.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

5. هغه عبارت په ګوته کړئ چې د يو ښه شاهد ځرګندوونکی وي.

أ) زه به د عيسی په باره کښې نورو خلکو ته هيڅ ونه وايم، هغوی به زما د عملونو څخه پوه شي چې مسيحي يم.

ب) زه د شاهدۍ د ورکولو په وخت کښې د خدای د روح مرستې ته اړتيا لرم.

ج) زه د يو نفر سره د مسيح په باره کښې دومره خبرې کوم ترڅو هغه تسليم شي.

د) زه کولی شم نورو ته ووايم چې عيسی زما دپاره څه کړي دي او همدارنګه د نورو په ژوند کښې يې کوم بدلون راوستی دی.

ه) د عيسی مسيح د ژوند په باره کښې خبرې کول او همدارنګه د يو مسيحي د ژوند طريقه يو د بل سره په تضاد کښې دي.

6. دعا وکړئ چې د خدای روح تاسو ته لارښوونه وکړي چې د يو نفر سره د عيسی مسيح په باره کښې خبرې وکړئ او د هغه څخه وغواړئ چې تاسو سره مرسته وکړي ترڅو د عيسی په باره کښې په ډيره ښه توګه خبرې وکړئ. د هغه نفر دپاره چې تاسو غواړئ ورسره خبرې وکړئ يو څو ورځې دعا وکړئ او کله چې

عیسی مسیح یې د خپل خلاصوونکي په توګه قبول کړ، نو ورڅخه وغواړئ چې د خدای کلام ولولي او هغه ته ګټور کتابونه ورکړئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۳- الف، ب، او ه

۱- ستاسو خپل ځواب

٤- کیدای شي چې ستاسو ځوابونه فرق ولري خو کولی شئ چې د څو لارو یادونه وکړئ:

د خپل ګاونډي دوستان اوسئ.

د محتاج سړي سره مرسته وکړئ

خلکو ته خپله مینه او احترام وښایئ

۲- ستاسو خپل ځواب

٥- ب، د ، او ه

# د مقدس کتاب اخلاقیات

آیا غواړئ وپوهېږئ چې:

- څنګه کولای شئ چې د خدای جلال منعکس کړئ؟
- مقدس کتاب د کړو وړو لپاره کومه نمونه وړاندې کوي؟
- څنګه کولای شئ چې د خپلې ټولنې لپاره رڼا او مالګه شئ؟

که ستاسو ځواب مثبت وي نو دغه کتاب تاسو لپاره لیکل شوی دی. که چېرې د هغې لارښوونې په سمه توګه پلي کړئ کولای شئ چې د خدای سره ښې اړیکې برقرارې کړئ او د خپلې ټولنې اړتیاوو ته ځانونه ورسوئ.

دغه کتاب په ډېرې ساده طریقې سره لیکل شوی دی چې لوستل او پوهېدل یې د هر لوستونکي لپاره اسانه ده. تاسو یوازې د کتاب لارښوونې او تمرینونه په عمل کښې پلي کړئ.

دغه کتاب د هغو کتابونو د سلسلې یوه برخه ده چې د ((مسیحي ژوند)) په نامهٔ یادېږي. د مسیحي ژوند سلسله ټول اتلس کتابونه لري. ښه به دا وي چې دا کتابونه په پرله پسې توګه مطالعه کړئ.

# د مضمونونو فهرست

سرليک　　　　　　　　　　　　　　　　　　　د پاڼې لمبر

د لوستونکو سره يو څو خبرې ........................................ 1

لومړی لوست: لکه څنګه چې ياست خدای هماغه شان پيدا کړي يئ ........................................ 4

دوهم لوست: خدای زمونږ د ژوند دپاره يوه نمونه ده.......... 26

دريم لوست: هغه څه چې خدای ستاسو له شخصيت او کړو وړو څخه انتظار لري........................................ 41

څلورم لوست: خدای تاسو ته د ژوند دپاره اصول درکوي .... 59

پنځم لوست: خدای ستاسو د ژوند معيارونه ټاکي ............ 79

شپږم لوست: خدای ستاسو څخه غواړي چې په خپل ځان پام وکړئ ........................................ 102

اوم لوست: خدای ستاسو څخه غواړي چې په کليسا باندې پام وکړئ ........................................ 126

اتم لوست: خدای تاسو ددې دپاره استوي چې د نړۍ خدمت وکړئ ........................................ 142